
لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ۝

# د اهل السنة والجماعة عقيده




تاليف: فضيلة الشيخ ابو عمر عبد العزيز النورستاني حفظه الله

نظرثاني: مولانا مفتي عبد الولي حفظه الله



دار السلام
DARUSSALAM


Scanned with CamScanner

د اشاعت ټول حقوق د دارالسلام لپاره محفوظ دي

دارالسلام
DARUSSALAM
دکتاب او سنت د اشاعت او خپروني نړیواله اداره

## سعودي عرب (مرکزي دفتر)

پرنس عبد العزیز بن جلاوي ستریټ، پوسټ بکس: 22743 الریاض: 11416 سعودي عرب

فون: 4033962-4043432 1 00966 فیکس: 4021659 www.darussalamksa.com

Email: darussalam@awalnet.net.sa info@darussalamksa.com

---

الریاض العُلیّا۔ فون: 4614483 1 00966 فیکس: 4644945 • الملز فون: 4735220 1 00966 فیکس: 4735221

سویدي فون: 4286641 1 00966 • سویلم فون/فیکس: 2860422 1 00966

مکه مکرمه فون/فیکس: 5376862 12 0096 موبائل: 562714039 0096-502839948 0096

جده فون: 6879254 2 00966 فیکس: 6336270 مدینه منوره فون: 8234446,8230038 4 00966 فیکس: 8151121 04

الخبر فون: 8692900 3 00966 فیکس: 8691551 3 00966 خمیس مشیط فون/فیکس: 2207055 7 00966

ینبع البحر فون: 0500887341 فیکس: 8691551 قصیم (بریده) فون: 0503417156 فیکس: 3696124 6 00966

---

امریکه نیویارك فون: 5925 625 718 001 هوسټن: 0419 722 713 001 • کینیډا • نصیرالدین الخطاب فون: 4186619 416 001

لندن دارالسلام انټرنیشنل پبلیکیشنز لمیټډ فون: 77252246 20 0044-85394885 20 0044 • دارمکه انټرنیشنل: 7739309 0121 0044

متحده عربي امارات شارجه فون: 5632623 6 00971 فیکس: 5632624 فرانس فون: 52928 480 01 0033 فیکس: 52997 480 01 0033

هند دارالسلام هند فون: 45566249 44 0091 موبائل: 12041 98841 0091 • اسلامك بکس انټرنیشنل فون: 4180 2373 22 0091

• هُدی بك ډسټري بیوټرز فون: 4892 2451 40 0091 موبائل: 30850 98493 0091 • ایم ایس براك انټرز پرائرز فون: 42157847 44 0091

سري لنکا • دارالکتاب فون: 358712 115 0094 • دارالایمان ټرسټ فون: 2669197 114 0094

---

## پاکستان دفتر او مرکزي شورُوم

لاهور ۱۱: لوئر مال سیکرټریټ سټاپ، لاهور فون: 24,372 32 4 00 400 34,372 240 373 42 0092 فیکس: 72 540 373 042

غزني سټریټ، اُردو بازار، لاهور فون: 54 200 371 42 0092 فیکس: 03 207 373 042 • لبرټي ګول چکر فون: 850 73 357 042

Y بلاك، ګول کمرشل مارکیټ، دکان: 2 (ګراؤنډ فلور) ډیفنس، لاهور، فون: 10 926 356 42 0092 • ټاؤن شپ فون: 230 24 351 042

---

کراچي مین طارق روډ، له ډالمن مال نه (دبهادر اباد ارخ ته) دویمه کوڅه، کراچي فون: 36 939 343 21 0092 فیکس: 37 939 343 21 0092

---


اسلام آباد F-8 مرکز، ایوب مارکیټ، شاه ویز سنټر: 13 815 22 51 0092

info@darussalampk.com | www.darussalampk.com

Scanned with CamScanner

لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝

# داهل السنة
# والجماعة عقيده






تالیف: فضیلة الشیخ ابو عمر عبد العزیز النورستانی حفظہ اللہ

نظرثانی: مولانا مفتی عبد الولی حفظہ اللہ



دار السلام
DARUSSALAM


Scanned with CamScanner




د الله په نامه سره (شروع کوم)، چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

Scanned with CamScanner

# فهرست


- د ناشر خبرې ........ 9
- مقدمه ........ 10
- اهل السنة والجماعة ........ 11
  - د لا إله إلا الله معنٰی ........ 14
  - د توحید د درېواړو قسمونو په مینځ کې تلازم ........ 15
  - د کمال د ثبوت استلزام ........ 16
  - د سورة الاخلاص خلاصه ........ 16
  - د کفر او شرك جرړه ........ 17
  - په اسماو او صفاتو کې إلحاد ........ 18
  - تاویل ........ 19
  - د صفات الهیه ؤ په باره کې داشاعره او ماتریدیانو موقف ........ 20
  - وحدت الوجود. د صوفیانو او پیرانو عقیده ........ 22
  - وحدت الشهود ........ 22
  - الله په هر ځای کې دی؟ ........ 23
  - ایا الله په لا مکان کې دی؟ ........ 24
  - د اهل السنة والجماعة په نیز د ایمان تعریف ........ 26
  - د ایمان زیاتی او کمی ........ 27
  - محبت په څو قسمه او کوم کوم دی؟ ........ 44
- توحید في الأَسماء والصفات ........ 55
  - درې ضروري نقطې یادول لازم دي: ........ 55
  - صفات سلبیه او ثبوتیه: ........ 56
  - ثبوتي صفات: ........ 57




Scanned with CamScanner

- صفات ذاتیه - صفات فعلیه ..... 57
- صفات شرعیه عقلیه او صفات خبریه ..... 58
- بحث د الله پاك د صفاتو او افعالو په تجدد کې ..... 61
- د الله تعالٰی د ذات او صفاتو تر مینځه تعلق ..... 63
- د دوو نومونو اتحاد ..... 65
- (التنزیه) ..... 69
- محض نفي ..... 70
- د دغه اجمال د وضاحت دپاره د څو صفاتو بیان ..... 78
- قرآني دلائل ..... 79
- عقل سلیم ..... 81
- د امت اجماع ..... 81
- د الله تعالٰی علو او زمونږ مدارس ..... 82
- اراده ..... 110
- اراده په دوه قسمه ده: ..... 110
- مشیت: ..... 111
- وجه: ..... 112
- عین: ..... 112
- لاس: ..... 112
- (ساق) پنډۍ: ..... 113
- قدم: ..... 114
- رِجل (پښه): ..... 114
- ګوته: ..... 114
- ضحاك (خندا): ..... 115
- فرح (خوشالي) ..... 115
- عجب: ..... 116
- نفس: ..... 116
- شيء: ..... 116




Scanned with CamScanner

⊙ صورت: 117
⊙ مجيء (راتلل): 117
⊙ اتيان (راتلل): 117
⊙ اتيان او مجيء: 117
⊙ امساك (تينكول) 118
⊙ قبضه: 118
⊙ رضا: 119
⊙ غضب: 119
⊙ سخط (غصه): 119
⊙ كره: 119
⊙ اسف او انتقام: 120
⊙ مقت: 120
⊙ اضافت: 120
⊙ نداء: 121
⊙ صوت: 122
⊙ نزول: 122
⊙ نَجْوٰى 122
⊙ لقاء: 123
⊙ په قيامت کې د الله تعالٰى د رويت، يعنې ليدو مسئله 123
⊙ ختم نبوة: 124
⊙ معراج: 124
⊙ حوض كوثر: 125
⊙ شفاعت: 125
⊙ لوح او قلم 126
⊙ عرش او كرسي: 126
⊙ اهل قبله 127
⊙ اهل كبائر 129




Scanned with CamScanner

⊙ اقتداء ... 129
⊙ حتمي فيصله: ... 129
⊙ قتل: ... 130
⊙ خروج: ... 130
⊙ اتفاق ... 131
⊙ اهل عدل ... 131
⊙ مسح ... 132
⊙ عذاب قبر ... 133
⊙ حساب ... 133
⊙ پل صراط ... 134
⊙ میزان حق دی ... 134
⊙ جنت او دوزخ ... 135
⊙ جنت او دوزخ نه فنا کېږي ... 135
⊙ تنبیه ... 136
⊙ د بندګانو افعال ... 144
⊙ قضاء ... 144
⊙ د صحابه‌و سره محبت ... 144
⊙ عشرهٔ مُبَشَّرَه ... 145
⊙ اهل بیت ... 146
⊙ نبي او ولي ... 147
⊙ د بعضې شکونو ازاله ... 149




Scanned with CamScanner

# د ناشر خبرې

د اسلام لپاره صحيح عقيده د روح حيثيت لري او كه عقيده ناسمه او غلطه وي، نو د اسلام جسم ژوندى نشي پاتې كېدلى.

د عقيدې په باره كې ډېرو عالمانو په نورو ژبو؛ عربي، دري (فارسي)، اردو او داسې نورو ژبو كې په زړه پورې او مستند كتابونه ليكلي دي خو په پښتو كې داسې يو مفصل او مدلل كتاب نه و، الله تعالىٰ دې فضيلة الشيخ عبد العزيز نورستاني حفظه الله ته ښه بدله وركړي چې په پښتو ژبه كې ئې د پښتو ويونكو مسلمانانو لپاره دا ګټور او مفيد كتاب وليكلو او په كې يې د اهل السنة والجماعة حقه عقيده په تفصيل سره او په دلائلو سره بيان كړه.

د دارالسلام پښتو سيكشن مدير مولانا مفتي عبد الولي حفظه الله ددغه كتاب تصحيح او تهذيب وكړ، مولانا عبد الرحمن يې تخريج او پروف ريډنګ وكړل، قاري عبد الرشيد راشد يې قرآني ايتونه ولوستل، او ګل رحمن د "ډير" يې په ډېره مينه د كمپوزنګ چارې او هارون الرشيد يې د ډيزائننګ چارې ترسره كړې. الله تعالىٰ دې ددغو ښاغليو دغه خدمتونه قبول كړي او په عظيم اجر دې ونازوي. د يادونې قابل ده چې د قرآني ايتونو ترجمه د مولانا مفتي عبد الولي حفظه الله د ترجمې نه اخيستل شوې ده.

د دارالسلام لاهور منتظم ښاغلى عبد العظيم اسد هم د ډېرې مننې وړ دى چې د دوى په سرپرستۍ كې دا چارې ترسره كېږي. زه د الله نه سوال كوم چې دا كتاب دې مفيد وګرځوي او زمونږ د ټولو دپاره دې د آخرت ذخيره وګرځوي.

د كتاب او سنت خادم

**عبد المالك مجاهد**

25 مارچ 2014ء



Scanned with CamScanner

# مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلّٰـهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ وَ صَحْبِهِ أَجْمَعِيْنَ

أما بعد: دا خبر واضحه ده چې الله تعالٰی چې د آدمؑ نه تر محمدﷺ پورې څومره رسولان او انبیاء رالېږلي دي؛ دا ټول د "لا إلٰه إلا الله" د تحقیق او ثابتولو لپاره دي او څومره کتابونه چې الله پاك په دغو رسولانو نازل کړي دي هغه هم یوازې د "لا إلٰه إلا الله" د تحقیق او ثابتولو لپاره دي، او د انبیاوو او د هغوی د امتونو تر مینځ چې کومې جګړې وې هغه هم د "لا إلٰه إلا الله" په باره کې وې.

که محمدﷺ د خپل خوږ وطن مکې نه هجرت کړی دی، نو هغه هم د دغه مقصد، یعنې د "لا إلٰه إلا الله" د تحقیق لپاره و. او که رسول اللهﷺ د بدر، أحد، خندق، خیبر، تبوك غوندې غزاګانو کې شامل شوی دی او خپل غاښ مبارك یې شهید کړی دی او د خپلو خوږو ملګرو شهادت یې زغملی دی، دا هم د "لا إلٰه إلا الله" د معنٰی د تحقیق لپاره و. مګر مونږ د "لاإلٰه إلا اله" له معنٰی نه غافل یو.



Scanned with CamScanner

# اهل السنة والجماعة

د "لا إله إلا الله" د معنیٰ د بیانولو نه مخکې د اهل السنة والجماعة څه علامې ذکر کوو څرنګه چې دا کتاب د اهل السنة الجماعة (اهل حدیثو) د عقیدې په بیان کې دی، نو دلته زه د اهل السنة والجماعة هغه علامات بیانوم چې زمونږ حنفي علماءو بیان کړي دي.

ځکه چې هره ډله وائي: "مونږ اهل السنة والجماعة یو"

نو د "التوضیح والتلویح" مصنف په خپل کتاب کې وائي:

"وَالْـمُرَادُ بِالْأُمَّةِ الْـمُطْلَقَةِ أَهْلُ السُّنَّةِ وَالْـجَمَاعَةِ وَ هُمُ الَّذِينَ طَرِيقَتُهُمْ طَرِيقَةُ الرَّسُولِ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَ أَصْحَابِهِ رضي الله عنهم دُونَ أَهْلِ الْبِدَعِ"

"د امة مطلقه نه مراد اهل السنة والجماعة دي او دوی هغه کسان دی چې د دوی طریقه بعینه د رسول الله ﷺ او د هغه د اصحابو رضي الله عنهم طریقه ده، نهٔ د اهل بدعو طریقه."[1]

حافظ ابن کثیر وائي:

"أَمَّا أَهْلُ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ فَيَقُولُونَ: كُلُّ فِعْلٍ وَ قَوْلٍ لَمْ يَثْبُتْ عَنِ الصَّحَابَةِ هُوَ بِدْعَةٌ لِأَنَّهُ لَوْ كَانَ خَيْرًا لَسَبَقُونَا إِلَيْهِ لِأَنَّهُمْ لَمْ يَتْرُكُوا خَصْلَةً مِنْ خِصَالِ الْخَيْرِ إِلَّا وَ قَدْ بَادَرُوا إِلَيْهَا"

"هر چې اهل السنة والجماعة دي، نو دوی وائي چې هر هغه فعل او قول چې د صحابه و رضي الله عنهم نه ثابت شوی نهٔ وي هغه بدعت دی، ځکه که دغه قول او فعل غوره او خیر وی، نو دوی به زمونږ نه هغهٔ ته وړاندې شوي وو او دوی هېڅ داسې د خیر د خصلتونو نه یو خصلت (خوی) نهٔ دی پرېښی مګر دوی هغهٔ ته جلدي کړې ده."[2]

1. التوضیح والتلویح، ص:528 .
2. ابن کثیر: 168/4.



Scanned with CamScanner

علامه الحاج مالك بن الشيخ داود وائي:

فَالسُّنِّيَّةُ عِبَارَةٌ عَنِ اتِّبَاعِ سُنَّةِ الرَّسُولِ ﷺ وَ أَصْحَابِهِ وَالِاقْتِدَاءِ بِأَقْوَالِهِمْ وَ أَفْعَالِهِمْ وَ سُلُوكِهِمْ وَ أَخْلَاقِهِمْ وَ ذٰلِكَ يَقْتَضِي الْعِلْمَ وَالْعَمَلَ مَعًا وَ بِفَقْدِ الْأَوَّلِ تَكُونُ سُنِّيَّةُ الْجَاهِلِ مُحَالًا وَ بِفَقْدِ الثَّانِي تَكُونُ سُنِّيَّةُ الْعَالِمِ بَاطِلًا وَ لَا بُدَّ مِنِ اجْتِمَاعِهِمَا مَعًا وَ إِلَّا فَهِيَ سُنِّيَّةُ اللِّسَانِ فَنَحْنُ لَا نَقْبَلُ سُنِّيَّةَ الْـجَاهِلِ مَهْمَا طَالَتْ لِحْيَتُهُ أَوِ اشْتَدَّ تَنَسُّكُهُ

"پس سنيتوب عبارت دی د رسول اللهﷺ او د هغهٔ د اصحابو رضي الله عنهم د اتباع نه او د هغوی په اقوالو ، افعالو، سلوکو او احوالو سره اقتدا کول دي او دا (تابعداري او اقتدا) يو ځای د علم او عمل اقتضاء کوي، د اولني، يعنې د علم په نشتوالي سره د جاهل سنيتوب محال کېږي، او د دويم (عمل) په نشتوالي سره د عالم سنتيوب باطل کېږي، حالانکه د علم او عمل يوځای والی ضروري دی، که نهٔ نو دا به د دوی ژباني سنيتوب وي، نو مونږ د جاهل سنتيوب نهٔ قبلوو، که ږيره ئې هر څومره اوږده وي يا عبادت گذاري ئې سخته وي." [1]

وَالسُّنِّيُّ بِعِبَارَةٍ أَوْجَزَ: هُوَ مَنْ وَضَعَ قَدَمَهُ عَلَى قَدَمِ الرَّسُولِ اللهِ ﷺ بِحَيْثُ تَكُونُ أَقْوَالُهُ مُطَابِقَةً لِأَقْوَالِهِ وَ أَفْعَالِهِ ﷺ، يُصَدِّقُ لِسَانُ حَالِهِ لِسَانَ مَقَالِهِ وَ يَكُونُ مُتَّصِفًا بِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ فِي سَائِرِ أَحْوَالِهِ السِّرِّيَّةِ وَالْجَهْرِيَّةِ وَ فِي جَمِيعِ تَصَرُّفَاتِهِ وَ مُعَامَلَاتِهِ مَعَ النَّاسِ وَالسُّنِّيُّ لَا يَتَجَاهَرُ بِسُنِّيَّتِهِ وَ لَا يَتَفَاخُرُ بِهَا

"په لنډه عبارت کې سني هغه څوك دی چې دی خپل قدم د رسول اللهﷺ په قدم ږدي په دې شان چې دده اقوال د رسول اللهﷺ د اقوالو او افعالو سره مطابق وي چې دده د حال ژبه ددهٔ د قال د ژبې تصديق کوي او په ټولو ظاهرو او باطنو حالاتو کې او د خلقو سره په ټولو تصرفاتو او معاملاتو کې په ښو اخلاقو سره متصف وي، سني

[1] الحقائق الإسلامية في الرد على مزاعم الوهابية، ص:62.



Scanned with CamScanner

هغه دی چې خپل سنیتوب په تکلف سره نه ښکاره کوي او نه پرې فخر کوي.''[1]

علامه سيد احمد الطحطاوي وائي:

فَإِنْ قُلْتَ: مَا وُقُوفُكَ أَنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ وَ كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْ هٰذِهِ الْفِرَقِ يَدَّعِي أَنَّهُ عَلَيْهِ؟

قُلْتُ: لَيْسَ ذٰلِكَ بِالِادِّعَاءِ وَالتَّشَبُّثِ بِاسْتِعْمَالِهِمْ الْوَهْمَ الْقَاصِرَ وَالْقَوْلَ الزَّاعِمَ، بَلْ بِالنَّقْلِ عَنْ جَهَابِذَةِ هٰذِهِ الصَّنْعَةِ وَ عُلَمَاءِ أَهْلِ الْحَدِيثِ الَّذِينَ جَمَعُوا صِحَاحَ الْأَحَادِيثِ فِي أُمُورِ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَ أَحْوَالِهِ وَ أَفْعَالِهِ وَ حَرْكَاتِهِ وَ سَكَنَاتِهِ وَ أَحْوَالِ الصَّحَابَةِ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ مِثْلِ الْإِمَامِ الْبُخَارِيِّ وَ مُسْلِمٍ وَ غَيْرِهِمَا مِنَ الثِّقَاتِ الْمَشْهُورِينَ الَّذِينَ اتَّفَقَ أَهْلُ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ عَلٰى صِحَّةِ مَا أَوْرَدُوهُ فِي كُتُبِهِمْ مِنْ أُمُورِ النَّبِيِّ ﷺ وَ أَصْحَابِهِ رضي الله عنهم ثُمَّ بَعْدَ النَّقْلِ يُنْظَرُ إِلَى الَّذِي تَمَسَّكَ بِهَدْيِهِمْ وَاقْتَفٰى أَثْرَهُمْ وَاهْتَدٰى بِسِيَرِهِمْ فِي الْأُصُولِ وَالْفُرُوعِ (فَيُحْكَمُ بِأَنَّهُ مِنَ الَّذِينَ هُمْ، فَذَا هُوَ الْفَارِقُ بَيْنَ الْحَقِّ وَ الْبَاطِلِ وَالْمُمَيِّزُ بَيْنَ مَنْ هُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ وَ بَيْنَ مَنْ هُوَ عَلَى السَّبِيلِ الَّذِي عَلٰى يَمِينِهِ وَ شِمَالِهِ

''که ته ووایې چې ته څه پوهېږې چې ته په صراط مستقیم باندې یې څکه چې هر یو ددې ډلو نه دعوه کوي چې زه په صراط مستقیم یم؟

زه وایم: دا په دعوئ نه کېږي او نه د کوتاه وهم او اټکلي ټشو ویناوو په استعمالولو سره کېږي بلکې په هغو احادیثو باندې په منګولو لګولو سره کېږي چې هغه ددې فن اوچتو علماءو نقل کړي چې هغه علماء اهل حدیث دي او اهل حدیث علماء هغه کسان دي چې هغوی د رسول الله ﷺ د امورو صحیح احادیث جمع کړي دي او د هغه احوال او افعال او حرکات او سکنات او احوال د صحابه ؤ او د مهاجرینو او انصارو او د هغو کسانو چې د دوی تابع دي په نېکۍ کې، لکه امام بخاري او امام

[1] الحقائق الإسلامية في الرد على المزاعم الوهابية، ص:63.



Scanned with CamScanner

مسلم او داسې نورو ثقه مشهورو محدثينو چې اهل شرق او غرب اتفاق کړی دی په صحت د هغو احاديثو چې دوی په خپلو کتابونو کې راوړي دي د امورو د نبيﷺ او د صحابهرضي الله عنهم نه، بيا پس له نقل نه به وکتی شي هغو کسانو ته چې هغوی منګولې لګولي دي په طريقو د دوی او ورپسې شوي دي په قدمونو د دوی او لار ئې نيولې ده د سيرت د دوی په اصولو او فروعو کې، نو بيا به حکم وکړی شي په دې چې دا د هغو کسانو نه دي چې هغوی داسې وو، دا فرق کوونکې دي د حق او د باطل تر مينځه او تميز کوونکي دي په مينځ د هغه چا چې هغه په صراط مستقيم باندې دي او په مينځ د هغه چا کې چې هغه په هغه لاره دي چې هغه کږه وږه ده ښي او کس طرف ته.“ [1]

## د لا إله إلا الله معنٰی

معنٰی د لا إلا إلا الله نفی د استحقاق د عبادت د ټولو باطلو آلهه‌و او اثبات د استحقاق د عبادت دی صرف يو الله لره. معنٰی دا شوه چې نشته معبود برحق سوا د الله نه، ځکه چې دی خالق، مالك او رازق دی.

چونکه رب العزت موصوف دی په ټولو کمالاتو، او منزه دی د ټولو نقائصو نه، نو عبادت د غير د ده سره يا عبادت د بل چا سوا د الله نه د الله سبحانه و تعالٰی دپاره نقص شمېرلی شي، ځکه چې په دې کې د ضعيف او عاجز مخلوق تشبيه ده په هر شي باندې د قادر او خالق ذات سره، داسې ذات چې قوي مضبوط او غني دی د هر شي نه او دا غنا وصف ذاتي د الله پاك دی، لکه چې فقر، عجز او ضعف وصف ذاتي د مخلوق دی. د دې نه معلومه شوه چې کوم خلق چې د ”لا إله إلا الله“ معنٰی کوي چې نشته دی خالق، رازق، مالك وغيره دا خطا ده. ځکه چې دا د الوهيت معنٰی نه ده بلکې دغه معنٰی د ربوبيت ده چې په دې کې د هيچا اختلاف نشته او فرق کول په مينځ د هغه توحيد کې چې په هغه دلالت کوي کلمه د توحيد چې هغه (توحيد الوهيت دی) او په مينځ د هغه توحيد کې چې په هغه کې چا اختلاف نه دی کړی، چې هغه (توحيدِ ربوبيت دی) ضروري دی، ځکه چې توحيد

[1] حاشيه الطحطاوي على الدر المختار:153/4.

ربوبيت دروازه ده د توحيد الوهيت دپاره، ځکه چې اول چې د انسان زړه پورې نښلي هغه توحيد ربوبيت دی. بيا انسان ترقي کوي د توحيد ربوبيت نه توحيد الوهيت ته ، الله تعالیٰ هم په خپله دارنګه دعوت ورکړی دی.

أول ربوبيت ته، بيا ألوهيت ته، لکه چې الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾

"ای خلقو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه (رب) چې تاسو ئې پيدا کړي يئ او هغه کسان چې لهٔ تاسو نه مخکې وو، ددې دپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ." [1]

## د توحيد د درېواړو قسمونو په مينځ کې تلازم

د ربوبيت توحيد مستلزم دی د الوهيت توحيد لره ګويا کې د ربوبيت توحيد مقدمه ده او د الوهيت توحيد نتيجه ده، ځکه انسان چې کله په دې پوه شي چې الله سبحانه و تعالیٰ زما رب دی، ده لره دده په ربوبيت کې څوك شريك نشته، نو دی پوهېږي چې عبادت ددغه رب هغه حق دی چې دا عبادت د ده نه سوا بل چا لره مناسب او جائز نه دی، ځکه چې عبادت نه صحيح کېږي مګر د هغه چا دپاره چې هغه رب وي، خالق، مالك او مدبر وي.

نو کله چې ئې دا ومنله چې خالقيت، مالکيت، مدبريت، وغيره صرف يو رب لره دي، نو واجبه شوه چې همدی معبود دی او بل څوك معبود نشي کېدی، دغه وجه ده چې کله انسان په قرآني ايتونو کې فکر کوي، نو الله پاك اول ربوبيت ذکر کوي. بيا سمدستي ألوهيت ذکر کوي يا ألوهيت ذکر کوي، نو په دليل کې فوراً ربوبيت ذکر کوي. او توحيد في الاسماء والصفات دې دواړو ته شامل دی چې دا اسماء او صفات قائم دي په يو کولو د الله پاك په هر هغه څه چې ده لره وي د اسماء او د صفاتو نه، نو دغه اسماء حسنیٰ او اوچت صفتونه نه ښائيږی مګر دې الله لره، من جمله ددغو نه کېدل د رب دي د الله سبحانه و تعالیٰ داسې چې په ربوبيت کې څوك شريك نه لري. همدارنګ کېدل د إلهٰ دي چې په الوهيت کې ورسره څوك شريك نه وي.

---

[1] البقرة2:21.



Scanned with CamScanner

## د کمال د ثبوت استلزام

ثبوت د کمال د الله تعالیٰ مستلزم دی نفي د نقص لره د الله تعالیٰ نه، مثلاً ثبوت د حیات مستلزم دی نفي د عجز لره، نو الله تعالیٰ د خپل ځان نه تمام نقائص نفي کړي دي او دا د تمامو نقائصو نفي الله په سورت اخلاص کې ذکر کړې ده چې رسول اللهﷺ ورته "ثلث القرآن" ویلي دي.[1] دا ثلث القرآن ځکه دی چې قرآن کریم جامع د ټولو علومو دی او د ټولو علومو مرجع دې دریو امورو ته ده:

① علوم الأحكام والشرائع ② علوم المعاد وجزاء الأعمال ③ علوم العقائد

دا علوم العقائد په ټولو علومو کې اشرف دي او په سورت اخلاص کې خالص د عقیدې بیان دی، نو دا سورة "ثلث القرآن" شو.

## د سورة الاخلاص خلاصه

دا سورة شامل دی نفي د شرك لره په ټولو انواعو سره، بېشکه الله پاك په دې سورت کې د خپل ځان نه اقسامو د کثرت لره نفي کړي دي په دې قول سره چې ﴿ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ دی او د ځان نه ئې اقسامو د حاجاتو لره نفي کړي دي په دې قول سره چې ﴿ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ﴾ دی. د خپل نفس نه ئې مشابهت او مجانست لره نفي کړی دی په دې قول سره چې ﴿لَمْ يَلِدْ﴾ دی، او نفي کړی دی د ځان نه حدوث لره په دې قول سره چې ﴿وَلَمْ يُولَدْ﴾دی او نفي کړي دي د ځان نه انداد (ضدونه) او اشباهو لره په دې قول سره چې ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ﴾ دی. نو الله پاك منزه دی ددې نه چې موصوف کړی شي په یو شي سره د صفاتو د مخلوقاتو نه، په هر هغه شي سره چې خاص وي په مخلوق پورې، هغه صفت د نقص دی او الله پاك د هر قسم نقص نه پاك دی. او مستحق دی د نهایت کمال او د الله مثیل په صفاتو د کمال کې هیڅوك نشته، نو الله د صفاتو د نقص نه مطلقاً منزه دی. په کمال کې ورسره د مثیل کېدو نه هم منزه دی په دی باندې سورت اخلاص دلالت کوي چې "الصمد" ئې وویل، نو ثبوت د ټولو صفاتو د کمال وشو.

---

[1] صحيح مسلم، حديث: 811.



Scanned with CamScanner

## د کفر او شرك جرړه

اصل د شرك او كفر "تَقَوُّلْ عَلَى اللّٰه" دی كه په الله پورې د ځان نه بغير د علم نه خبرې كول په اسماء او صفاتو د الله كې وي او كه په شرع د الله كې وي. نو هر مشرك مُتَقَوِّل عَلَى اللّٰهِ دی، نه په عكس دده، ځكه چې تقول على الله بغير د علم نه كله شامل وي د الله صفات معطل كولو ته، كله ابتداع في الدين ته، نو ګويا كې "تقول على الله" دا اعم دی د شرك نه او شرك يو فرد دی د افرادو د تقول على الله نه، الله تعالٰى فرمائي:

﴿قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ﴾

"ته ووایه: یقینًا همدا خبره ده چې زما رب د بې حیایۍ کارونه حرام کړي دي، هغه چې له هغو څخه ظاهِر وي او هغه چې باطن وي او (حرامه کړې ئې ده) ګناه او ناحقه ظلم کول او دا چې تاسو د الله سره هغه شی شریک کړئ چې د هغهٔ په حقله هغه (الله) هېڅ دلیل نهٔ وي نازل کړی ، او دا چې تاسو په الله باندې هغه دروغ وتپئ چې تاسو پرې نهٔ پوهېږئ." [1]

په دې ایت کې محرمات مرتب کړې شوي دي څلور مراتبو ته او شروع ددغه محرماتو ئې د اسهل نه وکړه دارنګ په ترقۍ سره ئې په تقول على الله باندې ختم کړې شوه.

① الفواحش ② اثم او ظلم ③ شرك ④ تقول على الله.

بعض مفسرينو فرمايلي دي چې جنايات په پنځو اقسامو كې محصور دي.

① يا به دا جنايت په انسابو كې وي، دې ته اشاره ده په "الفواحش" سره.

② يا به دا جنايت متعلق وي په عقولو پورې دې ته اشاره ده په "الإثم" سره.

③ يا به دا جنايت متعلق وي په نفسونو، مالونو او اعراضو پورې، دې ته ئې اشاره وكړه په "البغي" سره.

④ يا به دا جنايت متعلق وي په اديانو پورې، دا بيا په دوه قسمه دي، يا به طعن وي په توحيد د ذو الجلال والإكرام كې، دې ته ئې اشاره وكړه په ﴿وَاَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ﴾ سره، يا به دا

[1] الأعراف 7:33.



Scanned with CamScan

طعن د الله په دين کې بغير د علم نه خبرې کولو ته شامل وي، دې ته ئې اشاره وکړه په ﴿وَ اَنۡ تَقُوۡلُوۡا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ﴾ سره.

نو دا پنځه د جناياتو اصول دي او باقي د فروعو غوندې دي.

امام ابن القيم رحمه الله فرمائي: چې اصول د ګناهونو ټول کبار دي صغار په کې درې دي:

① معلق کول د زړه په غير الله پورې.

② اطاعت کول د قوة غضبيه.

③ اطاعت کول د قوت شهواني.

نتيجه د هر يو ① شرك بالله ② ظلم ③ الفواحش. نو غايه د تعلق د زړه له غير الله سره شرك دی. او غايه د اطاعت د قوت غضبانيه قتل دی او غايه د قوت شهوانی زنا ده. ځکه الله تعالی دا درې واړه په دې ايت کې جمع کړي دي. ﴿وَالَّذِيۡنَ لَا يَدۡعُوۡنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَ لَا يَقۡتُلُوۡنَ النَّفۡسَ الَّتِىۡ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالۡحَـقِّ وَلَا يَزۡنُوۡنَ﴾ "او هغه کسان دي چې د الله سره بل معبود نهٔ بلي او هغه نفس چې الله حرام کړی وي ناحقه نهٔ قتلوي او زنا نهٔ کوي."[1]

من جمله ددغه تَقَوُّل عَلَى الله نه د الله تعالی په اسماءو او صفاتو کې الحاد او تاويل کول دي.

## په اسماو او صفاتو کې إلحاد

الحاد د يو شي نه اوړېدو او کرزېدو ته وائي. او د الله تعالی په اسماءو او صفاتو کې الحاد هم د هغه د اسماءو او صفاتو د حقائقو او معانيو نه چې ثابت دي له دغو حقائقو او معانيو نه شرك، تعطيل، تشبيه، تجسيم، او تکييف ته اوړېدو ته وائي.

د الحاد ډېر اقسام دي خو پنځه په کې غټ غټ دي:

① د الله پاك داسې نوم کېښودل چې د هغه له جلال او عظمت سره لائق نه وي، لکه د نصاراؤ د جانب نه نوم اېښودل چې هغه (اب) (پلار) دی او د فلاسفهٔ د جانب نه نوم اېښودل چې هغه مُوجب بذاته يا علة فاعلة بالطبع يا ددې غوندې نور نومونه دي.

② يا د الله په نامه د بعضې مخلوقاتو نومونه کېښودل شي، لکه "لات" د اِله نه او "عُزّٰی"

[1] الفرقان25:68.



Scanned with CamScan

د عزيز نه او "منات" د منّان نه.

③ د الله صفت بیانول په داسې صفاتو سره چې د هغو نه هغه منزه کولی شي، لکه د یهودو لعنتیانو دا وینا چې الله فقیر دی. یا د الله لاسونه بند دي. یا دا وینا د دوی چې الله د خالي په ورځ دمه (استراحت) کوي.

④ معطل کول د اسماءو د خپلو معانیو او حقائقو نه، لکه بعضې متکلمین او معتزله او د هغوی نه متاثره خلق وائي چې دا اسماء د الله پاك مجرد الفاظ دي او هېڅ قسم صفاتو او معانیو ته شامل نه دي.

⑤ مشابه کول د صفاتو د الله پاك د مخلوق د صفاتو سره یا ورلره جسم ثابتول یا ورله مثال بیانول.

## تاویل

د اصطلاحاتو د تعداد په بناء د تاویل درې معاني دي:

① تاویل د لفظ اړول دي د راجح احتمال نه مرجوح احتمال ته د قرینې صارفې د وجې نه، دا هغه تاویل دی چې اکثره متأخرینو دې ته توجه کړې ده ، د نصوصو په باره کې دا اصطلاح د اکثرو متأخرینو متکلمینو ده. او دا هغه تاویل دی چې سلف د دې تاویل مخالفت کوي.
ځکه چې دا د تَقَوُّل عَلَى اللهِ بلا علمه سبب کرځي

② تاویل د تفسیر په معنٰی دی، دا معنٰی د سلفو په کلام کې اکثر راځي، همدارنګه داکثرو مفسرینو په کلام کې، لکه ابن جریر، امام نسائي او امام بخاري، وغیره.

③ تاویل په معنٰی د هغه حقیقت چې خبره هغه ته ورګرځي او ددې مثالونه په قرآن کریم کې ډېر دي، د سلفو چې د کوم تاویل سره ضد دی هغه اول قسم تاویل دی، ځکه چې دا د متکلمینو اصطلاح ده.

او د دوی په اصطلاح کې تاویل ویلی شي عقل اصل ګرځولو ته چې نقل د هغه تابع شي، مثلًا: کله چې د دوی په زعم کې د نص او عقل تر مینځ ضد او خلاف وي، نو په نص کې تاویل کول ضروري وي څو دا نص د عقل موافق شي.



Scanned with CamScanner

اهل السنة والجماعة ته په منسوبو ډلو کې د اهل السنة والجماعة په جامه کې مؤولين اشاعره او ماتريديان دي.

## د صفات الهيه ؤ په باره کې داشاعره او ماتريديانو موقف

دا يا د ساتل پکار دي چې اکثره شافعيان اشاعره دي.

اشاعره: اشاعره منسوب دي امام ابوالحسن اشعري ته، امام ابوالحسن اشعري څلوېښت کاله غالي معتزلي پاتې شوی دی، بيا ئې د اعتزال نه توبه وکړه او ابن کُلّاب سره شو او ګويا د يوې ګمراهۍ نه ووتلو او په بله ګمراهۍ کې ننوتلو. وروسته الحمد لله د ابن کلاب له پنجې نه هم الله خلاص کړو، خالص سلفي شو، په سلفيت کې ده درې کتابونه ليکلي دي:

① مقالات الإسلاميين ② رسالة أهل الثغر ③ الإبانة في أصول الديانة

کوم خلق چې اشاعرو ته منسوب دي، هغوی د امام ابوالحسن اشعري هغه عقيدې ته منسوب دي چې کله دی د ابن کُلّاب په شاګردۍ او د هغه په معيت کې و. دغه وجه ده چې کله کله اشعريانو ته "الأشعرية الكلابية" هم ويلې شي.

امام ابوالحسن ددغې عقيدې نه توبه وکړه خو پيروکارو ئې توبه ونه کړه، تر اوسه په هغې عقيدې باندې پاتې دي، او هغه خپله غاړه خلاصه کړه او بنا په﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا﴾[1] ئې پورتنې درې کتابونه وليکل.

الماتريدية: دا ډله محمد بن محمد بن محمود الماتريدي السمرقندي ابو منصور ته منسوب ده، ابو منصور ماتريدي د ډېرو علومو جامع او اديب و لېکن دده خاص فن علمِ کلام و، خپل عمر ئې په دې علم کلام کې ختم کړی و.

ددغه کلامي فن او فلسفي جدل د وجې نه به ئې له تمامو فرقو سره مناظرې کولې. ددغه علم کلام د وجې نه دده په عقيده او فکر کې عقيدوي بدعات او فلسفي افکار داخل شول.

چونکه د ماتريديانو نفوذ په حنفيه ؤ کې ډېر و، نو ماتريديت په حنفيه ؤ کې زر خور شو، حتی چې حنفيان په عقيده کې ابو منصور ماتريدي ته منسوب شول، نو هر ماتريدي به حنفي وي خو هر حنفي به ماتريدي نه وي، څکه چې بعضې حنفيان به د امام ابو حنيفه رحمه الله

[1] البقرة 2:160.



Scanned with CamScanner

غوندې سلفي وي.

او بعضې حنفيان به معتزلي وي، لکه چې مشهوره ده چې فلاني معتزلي الأصول حنفي الفروع دي، لکه د الجوهرة النيرة شرح مختصر القدوري مصنف او جار الله زمخشري.

چونکه اشاعره او ماتریدیه اهل السنة والجماعة ته منسوب وو ددې وجې نه زه دلته د دوی موقف مختصرًا ذکر کوم چې ددوی موقف خصوصًا د صفاتو په باره کې څه و؟ ددې دپاره چې پته ولګي چې ایا دوی ته اهل السنة والجماعة ویل صحیح دي او کنه؟

د اشاعره ؤ او ماتریدیه ؤ د صفاتو د نصوصو په باره کې د موقف خلاصه:

① عقل په نقل باندې اصل او حاکم دی.

② کله چې نقل د عقل خلاف وي، نو نقل به رد کولی شي یا به ئې تاویل کولی شي.

③ د صفاتو نصوص ظاهر دي، او لفظ ئې ظني دی، یقیني نه دي.

④ د صفاتو په باره کې أدله نقلیه ؤ باندې تمسك نه دی پکار.

⑤ ادله نقلیه د عقلیاتو په باره کې د یقین فائده نه ورکوي.

⑥ ظاهر نصوص د صفاتو د عقلیاتو قطعیه ؤ مخالف دي، ددې وجې نه د دغو نصوصو تاویل پکار دی یا تفویض.

⑦ د صفاتو نصوص ددې دپاره نه دي چې مونږ د هغو په مدلول باندې عقیده وساتو بلکې دا د صفاتو نصوص په عوامو کې د دعوت چلولو دپاره یو چل دی. معاذ الله ګویا کې رسولانو د خلقو د راضي کولو دپاره د الله د طرف نه د دروغو خبر ورکړی و. (معاذ الله).

⑧ اخبارِ أحاد ظني دي عقیده پرې نه ثابتېږي.

⑨ د صفاتو احادیث زنادقوو وضع کړي دي او په محدثینو کې ئې رائج کړي دي.

⑩ د ماتریدی کوثریانو دا عقیده ده چې د سلفو عقیده د اسماءو او صفاتو په باره کې د وثنیت نه مأخوذ ده او د عقیدې په باره کې ددوی کتابونه د وثنیت ، شرك ، کفر، تشبیه او تجسیم کتابونه دي. او سلفیان وثنیان، مُشَبِّهه او مجسمه دي. "تلك عشرة كاملة".

تنبیه: اشاعره د الله تعالیٰ اوه صفاته مني، هغه دا دي: علم، قدرت، اراده، سمع، بصر، حیات، کلام. او ماتریدیه اته صفاته مني، هغه دا دي: حیات، علم، قدرت، اراده، سمع، بصر، کلام، تکوین.

او د صفاتو په باره کې د اهل حدیثو (سلفو) موقف او منهج وروسته راځي، إن شاءالله تعالیٰ.



Scanned with CamScan

## وحدت الوجود. د صوفيانو او پيرانو عقيده

صوفيان او پيران د وحدت الوجود قائل دي، دوی وحدت الوجود دې ته وائي چې ګنې دا موجودات بِعَينه و عِيانه الله دي، له يو وجود د الله تعالٰی نه سوا بل هېڅ نشته، دا د موجوداتو تعدد او کثرت چې ښکاري، د الله تعالٰی د ذات مظاهر دي.

يا دا موجودات داسې دي، لکه کل دي جزء ته يا د کلي نسبت دی جزئي ته يا دا موجودات هېڅ نشته، دا څه چې ښکاري دا ټول وهم او خيال دی.

ددې عقيدې مُوجد او ترقي ورکوونکی په صوفيانو او پيرانو کې ابن عربي، ابن سبعين او عفيف تلمساني دي، نو ددوی په نيز نور (لمر)، سپوږمۍ، اسمانونه، وريځې، اوچتوالی، ټيټوالی، کندې ، غرونه، ډيرهکۍ، خوړونه، خوند، بوی، اوازونه، رنګونه، نکاح، منکوحه، ناکح، ذبحه، مذبوحه، ذابح، خوړونکی، خوړلی شوي، خوراك، اغوستل، اغوستونکي، اغوستی شوي، زنا، زاني، مزنيه، دا ټول برابر دي، چې دا ټول موجودات عينِ الله دي، بل وجود نشته سوا د وجود د الله نه. ﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ ۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا﴾"دا د خبرې په لحاظ ډېره غټه (خبره) ده چې ددوی د خولو نه راوځي ، دوی نهٔ وائي مګر دروغ." [1]

## وحدت الشهود

د صوفيه وُ يوه عقيده دا هم ده چې دا ټول کائنات اګر چې په ظاهر کې غير ښکاري مګر په حقيقت کې دا عينِ الله دي، ددې مثال داسې دی، لکه يو کس چې په شيشه کې ګوري، نو په کې عکس وينې او په دغه شيشه کې چې کوم عکس ښکاري دا صرف په ظاهر کې ښکاري لېکن حقيقت کې هېڅ نه دی صرف هم دغه کس دی چې د چا عکس ښکاره کيدو. دارنګ مثال د الله او د کائناتو دی، دا څه چې ښکاري دا ظاهري د شيشې د عکس غوندې دي، حقيقت کې صرف الله دی.

خلاصه: مقصد دا چې مونږ کله يو سړی وينو، نو ظاهرًا سړی ښکاري او په حقيقت کې دی الله وي يا يوه ښځه وينو، نوظاهرًا دا ښځه ښکاري خو په حقيقت کې دا الله دی. دارنګ که يو خر وينو، نو ظاهرًا خر ښکاري خو په حقيقت کې الله وي. ﴿قَاتَلَهُمُ اللَّهُ ۖ أَنَّىٰ

[1] الكهف 5:18.



Scanned with CamScan

﴿يُؤۡفَكُونَ﴾ "لله دې دوی هلاک کړي، څنګه (د سمې لارې نه) ګرځولے شي!." ❶

د وحدت الوجود او وحدت الشهود فرق دا دی چې وحدت الوجود والا وائي چې دا کائنات چې کوم ښکاري دا ټول حقیقتًا او ظاهرًا عين الله دي. او وحدت الشهود والا وائي: دا کائنات کوم چې ښکاري دا په حقيقت کې الله دی خو په ظاهر کې سړی، ښځه، خر وغيره ښکاري.

## ايا الله په لا مکان کې دی؟

زمونږ په دې ملك کې دوه قسمه عقيده چلېږي يو د خواصو (علماءو) عقيده، بل د عوامو عقيده.

د خواصو (علماءو) عقيده دا ده چې الله په لا مکان کې دی، لکه محمد امين عمرزی وائي:

راز و د موسٰی په کوه طور کې
راز ؤ زمونږ د پېغمبر په لا مکان کې

او کلاب نستوال وائي:

که راز دار په کوه طور موسی د رب و
ته راز دار په لا مکان ئې محمده!

چونکه علماءو په کتابونو کې د ملائي په ژبه ليکلي وو چې الله نه په داخل د عالم کې دی او نه خارج د عالم نه دی. نه د عالم سره متصل (پيوست) دی او نه منفصل (جدا) دی، نه عالم ته قريب (نزدې) دی او نه د عالم نه بعيد (لرې) دی، نه بره دی نه ښکته، نه مخکې دی او نه وروسته، او نه ښی طرفته دی نه ګس طرفته، چونکه دا د عدم محض تعريف و، ددې وجې نه علماءو د تعبير د اسانتيا دپاره وويل چې الله په لا مکان کې دی. د لا مکان د عقيدې مطلب دا شو چې الله عدم دی، عبادت کوونکي چې څومره عبادت کوي، دا ټول د عدم عبادت کوي. ﴿سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوّٗا كَبِيرٗا﴾ ❷ ﴿أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ "ايا د الله په باره کې شک دی ، چې د اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکی دی؟." ❸

---

❶ التوبة 30:9.
❷ بني إسرائيل 43:17.
❸ إبراهيم 10:14.



Scanned with CamScanner

## الله په هر ځای کې دی؟

د ځینې عوامو عقیده دا ده چې لکه د حلولیانو غوندې وائي چې الله په هر ځای کې دی، حلول دې ته وائي چې یو شی په بل شي کې ننوځي او له دواړو نه یو شی جوړ شي. د حلولیانو دا عقیده ده چې الله په مخلوق کې حل شوی دی او مخلوق په الله کې، دا حلولیان دوه ډلې دي: یوه هغه چې هغوی د خاص حلول قائله دي چې الله د بشر په بعضې افرادو کې حلول کړی دی، لکه نصارى (عیسایان) وائي چې الله په عیسى علیه السلام کې حلول کړی دی.

او سبائیه د عبد الله بن سبا ډله وائي چې الله په علي رضي الله عنه کې حلول کړی دی. او خطابیه وائي: الله په جعفر صادق رحمه الله کې حلول کړی دی، او منصور حلاج ویل چې الله په ما کې حلول کړی دی.

بله ډله وائي چې الله جل جلاله په جزء د اجزاؤ د عالم کې حلول کړی دی، لهٰذا الله په هر ځای کې دی، یو ځای هم ترینه خالی نه دی، مطلب دا شو چې د دوی په نیز د دوی الله په ډیرانونو، کویانو، قبرونو، حمامونو، پنډغالو او نورو مکروه ځایونو کې هم دی، معاذ الله! ځکه چې دغه ځایونه هم د عالم د اجزاؤ نه یو جزء دي او د هر ځای نه یو ځای دی او زمونږ الله ددې نه منزه دی. "تَعَالَى اللهُ عَمَّا يَقُولُ الظَّالِمُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا"

چونکه زمونږ اکثر عوام د لا إله الا الله د معنی د تحقیق نه غافل او د توحید الوهیت او د توحید ربوبیت په مینځ کې فرق نه پېژني او همدارنګه اکثر خواص د توحید في الاسماء والصفات نه خبر نه دي ، ددې وجې نه د اشاعره ؤ او ما تریدیانو په تاویلاتو کې لګیا دي، نو په دې اساس زه یو څو خبرې د لا إله إلا الله د تحقیق او د اسماءو او صفاتو په باره کې په اسانه پښتو کې لیکم چې عوام ترینه فائده واخلي او د خواصو دپاره تنبیه شي.

الله تعالٰی دې زما د نجات دپاره ذریعه او د مخلوق دپاره نافع وګرځوي.

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ خَالِصًا لِوَجْهِكَ الْكَرِيمِ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ

ابو عمر عبد العزیز النورستاني

23/6/1998



Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلهِ الَّذِي عَلٰى عَرْشِهِ اسْتَوٰى وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ قَالَ أَيْنَ اللهُ، وَ عَلٰى أٰلِهِ وَ أَصْحَابِهِ وَ أَتْبَاعِهِم الَّذِينَ قَالُوا: فِي السَّمَآءِ، أَمَّا بعد:

س: د اسلام څه تعريف دى؟

ج: د اسلام تعريف دا دى چې اسلام خاص الله ته په توحيد غاړه کېښودلو او په طاعت کې خالص الله ته په سر ټيټولو او د شرك و بدعت او د هغه د اهل نه ځان بېزارولو او جدا کولو ته وائي.

الله پاك وائي: ﴿وَ اَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ وَ اَسْلِمُوْا لَهٗ﴾

"او تاسو خپل رب ته رجوع وکړئ او هغهٔ ته غاړه کېږدئ." (1)

﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ○﴾

"اوڅوک چې د اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به لهٔ دهٔ نه قبول نهٔ کړی شي او دغه کس په اخرت کې لهٔ تاوانيانو څخه دى." (2)

س: د اسلام څو رکنه دي؟

ج: د اسلام پنځه رکنه دي، د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په حديث کې دي.

رسول الله ﷺ فرمايلي:

"بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ: شَهَادَةُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللهِ وَ إِقَامُ الصَّلاةِ وَ إِيتَاءُ الزَّ كَاةِ وَ الْحَجُّ وَ صَوْمُ رَمَضَانَ"

"اسلام په پنځو شيانو باندې بنا کړی شوی دی: په دې خبره ګواهي ورکول چې بل معبود برحق نشته سوا د الله تعالٰى نه او محمد ﷺ د الله رسول دی، د مونځ قائمول،

(1) الزمر 39:54.

(2) آل عمرٰن 3:85.



Scanned with CamScanner

او د زکات ورکول او د بیت الله حج کول، او د رمضان د میاشتې روژه نیول." [1]

س: د ایمان څه تعریف دی؟

ج: د ایمان تعریف دا دی: ایمان په ژبه اقرار کولو او په زړه سره تصدیق کولو او د اعضاءو (اندامونو) اعمالو ته وائي. الله تعالی فرمائي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ﴾ "بېشکه مومنان خو هغه کسان دي چې په الله او د هغهٔ په رسول ئې ایمان راوړی دی، بیا ئې شک نهٔ دی کړی او د الله په لاره کې ئې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد کړی دی، هم دغه کسان رښتیني دي." [2]

## د اهل السنة والجماعة په نیز د ایمان تعریف

① "اَلْإِيمَانُ عَمَلُ الْقَلْبِ وَ اللِّسَانِ وَالْجَوَارِحِ" "ایمان د زړه، ژبې او اندامونو عمل دی".

② "هُوَ قَوْلٌ وَ عَمَلٌ وَ نِيَّةٌ" "دا ایمان قول، عمل او نیت دی."

③ "هُوَ قَوْلٌ بِاللِّسَانِ وَاعْتِقَادٌ بِالْجَنَانِ وَ عَمَلٌ بِالْأَرْكَانِ" "دا ایمان په ژبه قول، د زړه اعتقاد او په اندامونو عمل دی".

الله تعالی د عمل القلب نیت او اعتقاد بالجنان په باره کې فرمائي: ﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ﴾ "او همدارنګه مونږ ابراهیم ته د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ښودله او ددې دپاره چې هغه د یقین کوونکو څخه شي." [3]

او همدارنګ د قول باللسان په حقله فرمائي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا﴾ "بېشکه هغه کسان چې وائي: زمونږ رب الله دے، بیا ټینګ ودرېږي." [4] ﴿إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ "مګر هغه څوک چې د حق ګواهي ئې ورکړې وي، په دې حال کې

[1] صحيح البخاري، حديث:8.
[2] الحجرات 49:15.
[3] الأنعام 6:75.
[4] الأحقاف 46:13.



Scanned with CamScanner

چې دوی پوهېږي." [1]

د عمل بالجوارح والارکان په باره کې فرمائي: ﴿فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَآتَوُا الزَّكَوٰةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ﴾"نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قائم کړي او زکات ادا کړي، بیا نو تاسو ددوی لاره خوشې کړئ." [2]

نو د ایمان ظاهر او باطن دی. د ایمان ظاهر اقرار باللسان او عمل بالجوارح دی، او د ایمان باطن تصدیق، انقیاد او د قلب محبت دی.

نو هغه ظاهر چې د هغه سره باطن موافق نه وي هېڅ سود مند نه دی او نه هغه باطن چې د هغه سره ظاهر موافق نه وي. مګر که د دواړو موافقت متعذر شي د عجز یا اکراه په وجه د هلاکت په خوف سره، نو په دې صورت کې بیا موافقت د ظاهر د باطن سره ضروري نه دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ﴾"غیر د هغه کس نه چې زور پرې وکړی شي، په دې حال کې چې د هغهٔ زړهٔ په ایمان سره مطمئن وي." [3]

او د عدم مانع په صورت کې د ظاهر او باطن اختلاف دلیل دی د باطن په فساد باندې او د ایمان نه د باطن په خالي والي باندې. او د ظاهر او باطن د توافق کمی دلالت کوي د ایمان په کمزورۍ باندې او د ظاهر او باطن د توافق قوي والی دلالت کوي د ایمان په قوت باندې، ځکه چې ایمان د اسلام زړه او خلاصه دی او یقین د ایمان د زړه او خلاصه دی، او هر هغه علم او عمل چې ایمان او یقین نه زیاتوي هغه جعلي دی او هر هغه ایمان او یقین چې علم نه تیزوي، هغه ایمان او یقین دواړه جعلي دي.

## د ایمان زیاتی او کمی

نو ایمان زیاتېږي او کمېږي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا﴾ "او کله چې دوی ته د هغه (الله) ایتونه تلاوت کړی شي ( ، نو) دغه (ایتونه) دوی

[1] الزخرف 43:86.
[2] التوبة 9:5.
[3] النحل 16:106.



Scanned with CamScanner

ته ايمان ورزيات كړي." ❶ ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا﴾ "نو هر چې مومنان دي ، نو دې (سورت) ددوی ايمان ورزيات کړ." ❷ ﴿لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَعَ إِيمَانِهِمْ﴾ "ددې دپاره چې دوئ د خپل (مخکيني) ايمان سره د ايمان په لحاظ نور ورزيات شي." ❸

س: اسلام د ايمان مستلزم دی او کنه؟

ج: په دې کې اختلاف دی، خو کومه وعده چې الله پاك په قرآن پاك کې د جنت او د عذاب نه د نجات کړې ده، هغه وعده د ايمان اسم پورې معلقه ده، او هر چې مجرد اسم د ايمان دی، نو قرآن کريم په هغه پورې د جنت دخول او د عذاب نه نجات نه دی معلق کړی، خو اسلام يې ورلره لازم کړی دی. او الله پاك په قرآن کې خبر ورکړی دی چې د اسلام د الله پاك هغه دين دی چې د هيچا نه هيڅ دين نه قبلوي سوا د دينِ اسلام نه او هم ټول انبياء په دې اسلام باندې مبعوث دي. د فرق حقيقت دا دی چې اسلام دين دی او دين مصدر دی د "دَانَ يَدِينُ دِينًا" نه، دا هله ويلی شي چې عاجزي او ذلت وکړي.

نو هغه دين اسلام چې هغه لره الله غوره کړی دی او په هغه ئې رسولان رالېږلي دي، هغه غاړه كېښودل دي، او اصل د استسلام په زړه کې دی. هغه الله ته عاجزي كول دي د الله عزوجل دعبادت په كولو سره، نه د بل چا.

نو که چا د الله عبادت وکړ او ورسره ئې بل څوك هم شريكاوه، نو دا مسلم نه دی. او که چا د الله عبادت نه کاوه، بلکې لوئي او استکبار ئې کولو، نو هم مسلم نه دی. مطلب دا چې اسلام همدغه خاص الله لره استسلام دی او الله لره عاجزي کول دي او ددغه الله بندګي کول دي.

نو اسلام په اصل کې د زړه او د اندامونو عمل دی. هر چې ايمان دی، نو اصلي تصديق او د اقوالو معرفت دی. او دا ايمان د زړه هغه قول دی چې د زړه عمل ته شامل دی او په دې ايمان کې اصل تصديق دی. او عمل جزء او د ده تابع دی، دغه وجه ده چې رسول الله ﷺ د ايمان تفسير کړی دی په ايمان د زړه او عاجزي د زړه سره، چې فرمائي: ايمان په الله او په

❶ الأنفال 8:2.
❷ التوبة 9:124.
❸ الفتح 48:4.



Scanned with CamScanner

ملائکو او په کتابونو او رسولانو د الله ایمان راوړل او پس له مرګه ژوند باندې ایمان او په خیر او شر ایمان چې دا په قدر پورې متعلق دی. ❶

او د اسلام تفسیر ئې کړی دی په مخصوص استسلام سره چې د اسلام پنځه بنیادونه دي او هغه په وحدانیت او رسالت باندې اقرار، لمونځ، روژه، زکوة، او حج دی. دا حدیث او دده نه علاوه نور د اسلام دا تفسیر کوي او د ایمان هغه تفسیر او هغه اعلیٰ نوع دی، نو هر مؤمن مسلم ضرور وي او برعکس نه، یعنې داسې نه وي چې هر مسلم ضرور مؤمن وي، ځکه چې ایمان اعمال لازمه وي نه عکس دده. دا فرق انسان په خپل نفس کې هم محسوسوي او د بل نه ئې هم پېژني. عام خلق کله چې کفر نه پس ایمان راوړي یا په اسلام کې پیدا شي او د شریعت التزام کوي، نو دوی مسلمانان دي. او دوی سره اجمالي ایمان موجود دی. لېکن د ایمان حقیقت د دوی زړونو ته لږ لږ حاصلېږي، که الله دوی ته دغه ایمان ورکړي، ګنې ډېر خلق نه یقین ته رسي او نه جهاد ته او که دوی ته شك واچولی شي، نو دوی شکیان کېږي، حالانکه دوی نه کفار دي، نه منافقین بلکې دوی سره د علم قلب او معرفت او یقین د قلب دومره څه دي چې هغه لره شك دفعه کوي، او دوی لره د الله او د رسول سره دومره محبت نشته چې هغه محبت الله او رسول لره ددوی د مال او اولاد نه مقدم کړي.

دغه قسم خلق داسې دي که په دوی باندې دین اسلام کې څه سختي او محنت رانغی او مړه شول، نو دوی به جنت ته داخل شي. او که محنت ورباندې راغی سره د شکوکو او شبهاتو نه که الله ورسره مهرباني وکړه او دغه شکوك او شبهات ددوی نه دفع کړي خو ښه خبره ده، که نه نو دوی (شك کوونکي) یو قسم نفاق ته اوړي، دغه وجه ده چې کله رسول الله ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړو، نو اکثرو اهل مدینه ؤ اسلام راوړو، کله چې محنت او ابتلاء شروع شوه، نو ځینو په کې منافقت وکړو، که دا خلق مخکې د محنت او ابتلاء نه مړه شوي وي، نو په اسلام به مړه وي او جنت ته به داخل شوي وي. خو د هغه رشتیني مؤمنانو نه به نه وو چې چا باندې محنت او ابتلاء راغله او ثابت قدم پاتې شول.

بعینه دا حال زمونږ د زمانې په مسلمانانو کې د ډېرو خلقو دی په دوی کې ډېر داسې دي چې کله ورباندې ادنیٰ محنت او ابتلاء راشي، نو ایمانونه ئې کم شي او اکثر په کې

❶ صحیح مسلم، حدیث:10.



Scanned with CamScanner

منافقان شي بعضې په کې لا اظهار د مرتد والي هم وکړي، که دشمن غالب وي.

بلکې نن صبا خو که د مالي، جاني، ابتلاء نه علاوه که ورته د مال و دولت لالچ ورکړی شي نفاق خو پرېږده صريح کفر کوي، أَعَاذَنَا اللهُ.

س: د لا إله إلا الله څه معنٰى ده؟

ج: د لا إله إلا الله معنى دا ده چې معبودِ برحق نشته سوا د الله نه، که د غير الله عبادت وشي، نو هغه باطل دی. الله تعالٰى وائي:﴿ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَ اَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ﴾ "دغه په دې سبب چې بېشکه الله ، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی ئې د هغه (الله) نه غير بولي ، همغه باطل دی او دا چې بېشکه الله ، هم دی ډېر اوچت ، ډېر لوی دی." [1]

س: د لا إله إلا الله څو ارکان دي؟

ج: د لا إله إلا الله دوه ارکان دي.

س: کوم کوم دي؟

ج: ① نفي ② اثبات. نفي لا إله، يعنې د الله نه سوا د ټولو معبودانو نفي کوم. اثبات إلا الله، يعنې د الله سبحانه و تعالٰى په عبادت کې هيڅوك نه شريکوم.

س: د لا إله إلا الله څو شرائط دي؟

ج: د لا إله إلا الله اوه شرائط دي.

س: کوم کوم دي؟

ج: اول: د لا إله إلا الله په معنٰى علم د نفي او اثبات په لحاظ سره.

دويم: په ظاهر او باطن کې د الله او رسول اللهﷺ احکامو ته غاړه کېښودل.

دريم: ددې کلمې د لوازماتو او مقتضياتو قبلول دي چې هېڅ لوازمات او مقتضيات ددې کلمې رد نه کړي.

څلورم: د زړه يقين په دغه لا إله إلا الله باندې چې هېڅ قسم شك او تزلزل په کې نه وي.

پنځم: ددې کلمې سره اخلاص چې هېڅ قسم ته ريا او نمود او سمعت په کې نه وي.

---

[1] الحج 62:22.



Scanned with CamScanner

شپږم: صدق، چې ددغې کلمې په وينا کې هېڅ قسمه دروغ نه وي.
اووم: محبت چې دا کلمه د الله او رسول اللهﷺ سره د مينې په بنياد ووائي او د الله او رسول اللهﷺ سره ئې ددې کلمې له وينا نه وروسته ورځ په ورځ مينه زياته شي.
س: د محمد رسول الله څه معنٰی ده؟
ج: د محمد رسول اللهﷺ معنٰی دا ده چې په حقه سره تابعداري کړې شوی نشته سوا د محمد رسول اللهﷺ نه.

د محمد رسول اللهﷺ نه سوا که د چا تابعداري وشوه په هغه څه کې چې په هغه کې دليل نه وي، نو دا په باطله د هغه تابعداري وشوه. الله پاك فرمائي: ﴿اِتَّبِعُوْا مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ﴾ "تاسو پيروي کوئ د هغه (دين) چې تاسو ته د خپل رب لهٔ جانبه نازل کړې شوی دی او تاسو ددهٔ نه سِوا (د نورو) دوستانو پيروي مهٔ کوئ، تاسو ډېر کم نصيحت اخلئ." [1] ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ "پس داسې نهٔ ده، ستاپه رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل مينځ کې په پېښو جګړو کې تا فيصله کوونکی ومني، بيا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فيصلې په باره کې هېڅ تنګي ونهٔ مومي او په ښو منلو سره ئې ومني." [2] ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا﴾ "او نهٔ دي روا د هېڅ مومن دپاره او نهٔ د مومنې دپاره، کله چې الله او د هغهٔ رسول د يو کار فيصله وکړي دا چې د دوی دپاره دې په خپل کار کې اختيار وي او څوک چې د الله او د هغهٔ د رسول نافرماني کوي، نو يقينًا دغه (کس) ګمراه شو، ښکاره ګمراه کېدل." [3]

---

[1] الأعراف 3:7.
[2] النسآء 65:4.
[3] الأحزاب 36:33.



Scanned with CamScan

س: ایمان زیاتېږي او کمېږي او که نه؟

ج: ایمان په نېکیو سره زیاتېږي او په ګناهونو سره کمېږي. الله تعالی فرمائي: ﴿هُوَ الَّذِيٓ اَنۡزَلَ السَّكِيۡنَةَ فِيۡ قُلُوۡبِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ لِيَزۡدَادُوۡٓا اِيۡمَانًا مَّعَ اِيۡمَانِهِمۡ﴾ "دغه (الله) هغه ذات دی چې د مومنانو په زړونو کې ئې سکون (اطمینان) نازل کړ، ددې دپاره چې دوئ د خپل (مخکیني) ایمان سره د ایمان په لحاظ نور ورزیات شي." (1)

رسول الله ﷺ فرمائي: "اَلْإِيْمَانُ بِضْعٌ وَّ سَبْعُونَ أَوْ بِضْعٌ وَّ سِتُّونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَ أَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْاَذٰى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ" "د ایمان څه د پاسه اویا (70) یا څه دپاسه شپیتهٔ (60) څانګې دي، بهترینه څانګه د هغو نه لا إله إلا الله ده او د هغو ادنٰی ترینه څانګه د لارې نه د تکلیف ورکوونکی شی لرې کول دي او حیاء د ایمان یوه عظیمه څانګه ده." (2)

س: د ایمان څو رکنه دي؟

ج: د ایمان شپږ رکنه دي:

رسول الله ﷺ نه د ایمان په باره کې تپوس وشو، نو وئې فرمایل: "أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَ مَلَائِكَتِهِ وَ كُتُبِهِ وَ لِقَائِهِ وَ رُسُلِهِ وَ تُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ وَ تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ كُلِّهِ" "چې ایمان دا دی چې ته ایمان راوړې په الله، د هغه په ملائکو، د هغه په کتابونو او د الله سره په ملاقات او د الله په رسولانو او دا چې ته ایمان راوړې د مرګ نه پس ژوند باندې او دا چې ایمان راوړې په قدر (تقدیر) ټول باندې که خیر وي او که شر." (3)

س: احسان څه شی دی؟

ج: احسان اخلاص ته وائي. ابوهریره رضی الله عنه وائي چې رسول الله ﷺ یوه ورځ له خلقو سره ښکاره ناست و، نو یو سړی ورته راغی، وئې ویل: ای د الله رسوله! "مَا الْإِحْسَانُ؟ قَالَ: "أَنْ

---

(1) الفتح 4:48.

(2) صحیح مسلم، حدیث:35.

(3) صحیح مسلم، حدیث:10.

تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ'' ''احسان څه شی دی؟ وئې فرمایل: احسان دا دی چې ته د الله تعالیٰ داسې عبادت وکړې، لکه چې ته ئې وینې، نو که ته ئې نه وینې، نو هغه خو تا یقینًا وینی.'' (1)

س: د دین څو مرتبې دي؟

ج: د دین درې مرتبې دي: ① اسلام ② ایمان ③ إحسان

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې د رسول الله ﷺ نه یو سړي تپوس وکړ چې ایمان څه شی دی؟ نو وئې فرمایل: ''أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَ مَلَائِكَتِهِ وَ كُتُبِهِ وَ لِقَائِهِ وَ رُسُلِهِ وَ تُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ الْآخِرِ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! مَاالْإِسْلَامُ؟ قَالَ: ''أَنْ تَعْبُدَ اللهَ وَ لَا تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا، وَ تُقِيمَ الصَّلَاةَ الْـمَكْتُوبَةَ، وَ تُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْـمَفْرُوضَةَ، وَ تَصُومَ رَمَضَانَ'' قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! مَا الْإِحْسَانُ؟ قَالَ: ''أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَّمْ تَـكُنْ تَـرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ'' ''ایمان دا دی چې ته ایمان راوړې په الله او په ملائکو د الله او په کتابونو د الله او په ملاقات د الله سره او په رسولانو د الله، او دا چې ته ایمان راوړې په راپورته کېدو (دوباره ژوند) د آخرت. بیا ئې وویل: ای د الله رسوله! اسلام څه شی دی؟ وئې فرمایل: اسلام دا دی چې ته د الله عبادت وکړې او ورسره هېڅ شی شریك نه کړې، فرض لمونځ قائم کړې او فرض زکوة ادا کړې او د رمضان روژه ونیسې. هغه بیا تپوس وکړ چې احسان څه شی دی؟ وئې فرمایل: ته د الله داسې عبادت وکړې ګویا چې ته هغه وینې، نو که ته هغه نه وینې، نو هغه خو تا یقینًا وینی.'' (2)

س: توحید څه ته وائي؟

ج: توحید په عبادت کې یوازې الله خاص کولو او په متابعت کې یوازې رسول الله ﷺ خاص کولو ته وائي.

س: د توحید څو رکنه دي؟

ج: د توحید دوه بنیادي رکنونه دي:

---

(1) صحیح مسلم، حدیث:9 .

(2) صحیح مسلم، حدیث:9 .



Scanned with CamScan

س: كوم كوم دي؟

ج: اول، الله پاك په عبادت سره خاص كول. دويم، رسول الله ﷺ په متابعت سره خاص كول.

س: په دې څه دليل دى؟

ج: د اول ركن دپاره دليل دا دى چې الله پاك فرمائي: ﴿اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ۝﴾ "چې تاسو د الله نه غير (د هيچا) عبادت مهٔ كوئ ، بېشكه زهٔ په تاسو باندې د ډېرې دردونكې ورځې د عذاب نه وېرېږم." [1] ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ﴾ "او ستا رب حكم كړى دى چې تاسو عبادت مهٔ كوئ (د بل هيچا) مگر يوازې د هغهٔ." [2]

د دويم ركن دليل دا دى چې الله پاك فرمائي: ﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۤ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾ "او رسول چې تاسو ته څه هم دركړي ، نو هغه واخلئ او د څه نه چې هغه تاسو منع كړي ، نو تاسو منع شئ او د الله نه ووېرېږئ ، بېشكه الله ډېر سخت عذاب والا دى." [3] ﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ "نو هغه كسان دې ووېرېږي چې د هغهٔ (رسول) د حكم نه مخالفت كوي ، لهٔ دې نه چې دوى ته څه افت ورسېږي ، يا دوى ته ډېر دردونكى عذاب ورسېږي." [4]

س: په توحيد باندې د قرآن او حديث نه څه دليل شته؟

ج: ډېر دلائل دي، مثلًا الله پاك فرمائي: ﴿وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا عَلٰٓي اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ۝﴾ "او كله چې تهٔ په قرآن كې يوازې خپل رب ياد كړې ، نو دوى په خپلو شاگانو ببرته وگرځي، په داسې حال كې چې ترهېدونكي دي." [5]

1 هود 11:26.
2 بني إسرائيل 17:23 .
3 الحشر 59:7 .
4 النور 24:63 .
5 بني إسرائيل 17:46 .



Scanned with CamScan

﴿وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ ۖ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ﴾ "او کله چې الله يوازې ياد کړی شي (، نو) د هغو کسانو زړونه سخت تنګ شي چې په اخرت ايمان نهٔ لري او کله چې هغه (معبودان ، بتان) ياد کړی شي چې د هغه (الله) نه غير دي (،نو) ناڅاپه دوی ډېر خوشحالېږي." ❶ ﴿ذَٰلِكُم بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ ۖ وَإِن يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا ۚ فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ﴾ "دغه (ابدي عذاب) په دې سبب دی چې بېشکه شان دا دی چې کله به الله يوازې وبلل شو(نو) تاسو به کفر کاوهٔ او که ددهٔ سره به شريک ونيول شو (نو) تاسو به ايمان راوړ، نو حکم خاص هغه الله لره دی چې ډېر اوچت ، ډېر لوئ دی." ❷

او ابن عباس رضي الله عنهما وائي چې کله رسول الله ﷺ معاذ يمن ته لېږلو، نو ورته ئې وفرمايل: "إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللهَ تَعَالَى" "ته به يو داسې قوم ته ورځې چې هغوی کتاب والا دي، بايد چې ستا اولنی دعوت هغوی ته دا وي چې دوی دې الله يو (واحد او لا شريك) ومني." ❸

② د طارق بن ايشم نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي. "مَنْ وَحَّدَ اللهَ وَ كَفَرَ بِمَا يُعْبُدُ مِنْ دُونِهِ حَرُمَ مَالُهُ وَ دَمُهُ وَ حِسَابُهُ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ" "چا چې الله يو ومنلو او انکار ئې وکړ د هغه آلهه و نه چې د هغوی د الله نه سوا عبادت کېږي، نو دده مال او وينې ته تعرض حرام کړی شو او حساب ئې په الله عزَّ وجل دی." ❹

③ ابن عمر رضي الله عنهما وائي چې نبي ﷺ فرمايلي دي: " بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: عَلَى أَنْ يُوَحَّدَ اللهُ وَ إِقَامِ الصَّلَاةِ وَ إِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَ صِيَامِ رَمَضَانَ وَالْحَجِّ" "د اسلام بنا په پنځو شيانو شوې ده، په دې چې الله يو ومنلی شي، د لمونځ قائمول، د زکاة ورکول، د رمضان روژه ، او

❶ الزمر45:39 .
❷ المؤمن12:40 .
❸ صحيح البخاري، حديث: 7372، واللفظ له ، و صحيح مسلم، حديث: 19.
❹ صحيح مسلم، حديث:23 ، عن أبي مالك عن أبيه، و مسند أحمد: 472/3.



Scanned with CamScanner

حج د بيت الله." [1]

س: توحيد په څو قسمه دی؟

ج: توحيد اگر که عمومًا دريو قسمونو ته منقسم دی خو بيا هم په تتبع سره معلومه شوې چې څلورم قسم هم شته، لهٰذا توحيد په څلور قسمه دی.

س: کوم کوم دی؟

ج: توحيد ربوبيت، توحيد الوهيت، توحيد في الأسماء والصفات، توحيد في الاتباع، او دا څلور واړه قسمه په سورت فاتحه کې موجود دي. مثلًا: بسم الله الرحمن الرحيم، الرحمن الرحيم، مالك يوم الدين. کې توحيد في الأسماء والصفات دی. ځکه چې رحمن، او رحيم د الله صفات دي، هم دارنگه مالك، په الحمد لله رب العالمين کې توحيد ربوبيت دی، او په إياك نعبد و إياك نستعين کې توحيد الوهيت دی. او په اهدنا الصراط المستقيم. الخ کې توحيد في الاتباع دی.

س: د توحيد ربوبيت څه ته وائي؟

ج: الله تعالٰى د هغه په افعالو کې واحد لَا شَرِيك منل توحيد ربوبيت منل دي، مثلًا: په خلق (پيدا کولو) کې، په امر او ايجاد (موجودولو) ددې کائناتو کې، بغير د هيڅ شريك او مددگار نه يو او منفرد گڼل.

س: د توحيد ربوبيت دپاره دليل څه دی؟

ج: ① ﴿ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴾ [2]. دا ايت الله پاك د قرآن کريم په شپږو ځايونو کې ذکر کړی دی. ② ﴿ اَلَا لَهُ الۡخَلۡقُ وَالۡاَمۡرُ ﴾ "اګاه شئ! خاص هغهٔ لره دي پيدا کول او حکم کول." [3] ③ ﴿ اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيۡءٍ ۙ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ وَّكِيۡلٌ ○ ﴾ "الله د هر شي پيدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نگران دی." [4]

س: توحيد الوهيت څه ته وائي؟

[1] صحيح مسلم، حديث:16 .
[2] الفاتحة 2:1.
[3] الأعراف 54:7 .
[4] الزمر 62:39 .



Scanned with CamScanner

ج: توحيد الوهيت الله لره په خپلو افعالو کې منفرد او ايکې يوازې منل، يعنې ټول اقسام د عباداتو صرف يو الله وحده لا شريك له لره کول. مثلًا: ذبح، نذر، دعاء (بلنه) توکل، خوف (وېره) رجاء (امېد)، انابت (رجوع) رغبت (مينه)، خشيت (وېره) وغيره. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾"او تاسو د الله عبادت کوئ او د هغهٔ سره هېڅ شی مهٔ شريکوئ." ❶ ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ﴾"او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مهٔ کوئ (د بل هيچا) مګر يوازې د هغهٔ." ❷ ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ○﴾"او ما پېريان او انسانان نهٔ دي پيدا کړي مګر ددې دپاره چې دوئ زما عبادت وکړي." ❸

همدا بعينه معنٰی د اشهد أن لا إلٰه إلا الله ده.

س: عبادت څه ته وائي؟

ج: عبادت يو جامع اسم دی چې هر هغه شي لره شامل دی چې هغه د الله تعالیٰ خوښ وي، له ظاهري او باطني اقوالو او افعالو نه.

س: عبادت په څو قسمه دی؟ او کوم کوم دي؟

ج: عبادت په پنځه قسمه دی:

① اعتقادي: اعتقادي عبادت دا دی چې مسلمان دا عقيده وساتي چې الله خالق، رازق، ژوندي کوونکی، مرګ ورکوونکی، د کائناتو د معاملاتو بندوبست کوونکی دی، او دا عقيده وساتي چې الله وحده لا شريك لَه د ټولو عباداتو مستحق دی، او دی په ټولو صفاتو د جلال، کمال، کبريائي عظمت وغيره اقسامو د اعتقاداتو سره موصوف دی.

② لفظي عبادت: دا هغه عبادت دی چې په هغه باندې مکلف انسان تلفظ کوي، مثلًا: تلفظ په أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَ رَسُولُهُ او تلاوت د قرآن، دعاء، ذکر او ماثوره اذکار وغيره عبادات لفظيه دي.

❶ النسآء4:36 .
❷ بني إسرائيل17:23 .
❸ الذاريات51:56.



Scanned with CamScanner

③ بدني عبادت: دا هغه عبادت دی چې د بدن سره تعلق لري، مثلًا: قيام، رکوع، سجود، لمونځ، روژه، اعمال د حج، هجرت، جهاد وغيره عبادات بدنيه دي.
④ مالي عبادت: دا هغه عبادت دی چې د مال سره تعلق لري، مثلًا زكاة، صدقات، خيرات، حج، وغيره.
⑤ ترکي عبادت: دا هغه عبادت دی چې په مسلمان لازم دي چې هغه ترك کړي، مثلًا: ټول محرمات شرعيه، شركيات، بدعات د شارع د حكم د منلو د وجې نه، كه هغه حكم د الله وي او كه د هغه د رسول وي، دا او دا قسم نور عبادتونو ته تركي عبادات ويلی شي.

س: د عمل د قبلېدو دپاره څه شرط شته؟

ج: د عمل د قبلېدو دپاره دوه شرطونه دي، الله تعالیٰ هېڅ عمل ددغه دوه شرطونو نه بغير نه قبلوي.

س: هغه دوه شرطونه کوم کوم دي؟

ج: هغه دوه شرطونه دا دي: ① دا چې عمل صرف د الله د رضا دپاره وي، د الله د رضا نه سوا بل هېڅ مقصد په کې نه وي. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ○ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ﴾ "نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دين هغهٔ (الله) لره خالص كوونكی ئې خبردار شئ! خاص د الله دپاره خالص دين دی." ❶ ﴿قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهٗ دِيْنِيْ ○﴾ "ته (دوی ته) ووايه: زهٔ خاص د الله عبادت کوم، په داسې حال کې چې هغهٔ لره خپل دين خالص كوونكی يم." ❷

دويم دا چې دغه عمل د رسول اللهﷺ د هدايت مطابق وي، عائشهرضي الله عنها فرمائي چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: "مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ" "چا چې زمونږ په دين کې نوی کار پيدا کړ داسې کار چې د دين څخه نه و، نو هغه مردود دی." ❸

د مسلم په روايت کې دي او امام بخاري تعليقًا ذكر کړی دی. "مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ

❶ الزمر 3,2:39 .
❷ الزمر39:14 .
❸ صحيح البخاري، حديث:2697 ، و صحيح مسلم، حديث: 1718.



Scanned with CamScan

عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ" "چا چې یو داسې عمل وکړ چې په هغه باندې زمونږ حکم نه وي، نو هغه مردود دی." ❶

دا بعینه معنٰی د أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللهِ ده.

س: د دین اسلام خلاصه څه شی دی؟

ج: د دین اسلام په دوو بنیادی قاعدو باندې خلاصه کېږي او هغه دا دي:

① عبادت به نه کوو مګر د یو الله وحده لا شریك له، چې الله پاك په دې ایت کې خلاصه کړی دی. ﴿قُلْ يَاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ﴾ "(ای نبي!) ته (دوی ته) ووایه: ای اهل کتابو! داسې کلمې ته راشئ چې زمونږ په مینځ کې او ستاسو په مینځ کې برابره ده، دا چې عبادت به نۀ کوو مګر یوازې د الله او د هغۀ سره به هېڅ شی نۀ شریکوو او زمونږ بعضې به بعضو نورو لره د الله نه غېر پالونکي (خدایان) نۀ نیسي، نو که دوی وګرځېدل، نو تاسو (ورته) ووایئ چې تاسو په دې ګواه شئ چې یقینًا مونږ مسلمانان یو." ❷ ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ﴾ "او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مۀ کوئ (د بل هیچا) مګر یوازې د هغۀ." ❸

② دا چې مونږ به عبادت نه کوو مګر په هغه طریقې سره چې الله پاك په خپل کتاب کې یا محمد رسول اللهﷺ په خپلو سنتو کې مشروع او جائز کړې وي. او طریقه ئې ښودلې وي، په خپل خواهش او بدعاتو سره به عبادت نه کوو ، الله فرمائي: ﴿اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ○﴾ "تاسو پیروي کوئ د هغه (دین) چې تاسو ته د خپل رب لۀ جانبه نازل کړی شوی دی او تاسو ددۀ نه سِوا (د نورو) دوستانو پیروي مۀ کوئ ، تاسو ډېر کم نصیحت اخلئ." ❹

❶ صحیح البخاري، قبل الحدیث:7351,7350 ، و صحیح مسلم، حدیث: 1718[4493].
❷ آل عمرٰن3:64 .
❸ بني إسرائیل17:23 .
❹ الأعراف 7:3 .



Scanned with CamScanner

﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾"او رسول چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او د څه نه چې هغه تاسو منع کړي، نو تاسو منع شئ." ❶

دا بعينه معنٰى د أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللهِ ده.

س: شرك څه ته وائي؟

ج: شرك د الله په ذات يا په صفاتو يا په اسماءو يا احكامو كې يا په افعالو يا په عباداتو كې يا په تابعدارۍ او اطاعت كې بل حصه دار منلو ته وائي.

س: د شرك څه نقصانات دي؟

ج: د شرك ډېر نقصانات دي خو زه يو څو دلته صرف د نمونې دپاره ذكر كوم.

① الله پاك شرك په هېڅ حالت كې نه ببښي تر څو ئې چې ترينه توبه نه وي ويستې، الله پاك فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾"ببشكه الله نۀ بخښي دا چې د هغۀ سره دې (څوک) شريک کړی شي او هغه بخښي هغه (گناه) چې لۀ دې (شرک، يا کفر) نه کمه وي چا دپاره چې وغواړي." ❷

② الله پاك پرې جنت حرام كړی دی او جهنم ئې ورله ځای مقرر كړی دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ۭ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ﴾"ببشكه خبره دا ده چې څوک د الله سره شريک نيسي، نو يقينًا په هغۀ باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغۀ استوگنه اور دی او د ظالمانو دپاره هيڅوک مدد کوونکي نشته." ❸

③ شرك ډېر لوی ظلم دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ۭ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ۝﴾"او (ياد کړه) هغه وخت چې لقمان خپل زوی ته وويل، په دې حال کې چې دۀ ته ئې نصيحت کاوۀ: ای زما خوږه زويه! د الله سره شريک مۀ نيسه،

❶ الحشر 7:59 .
❷ النسآء 48:4 ، 116.
❸ المآئدة72:5 .



Scanned with CamScan

ببشکه شرک یقینًا ډېر لوئ ظلم دی." [1]

په شرك سره د مکلف هر قسمه نېك اعمال بربادېږي، اګر که دا مكلف نبي او رسول هم وي، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَ لَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَ اِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَىِٕنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ○ بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَ كُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ○﴾ "او یقینًا یقینًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چې لهٔ تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرک وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او تهٔ به خامخا لازمًا د تاوانیانو ځنې شې. بلکې تهٔ خاص د الله عبادت کوه او اوسه د شکر کوونکو ځنې." [2]

س: د شرك څه اقسام شته؟

ج: هو، د شرك ډېر اقسام دي، خو د نمونې دپاره یو څو دلته ذکر کوم:

① شرك في الربوبية: هغه دا دی چې یو انسان دا عقیده ولري چې د الله نه سوا بل څوك هم پیداکول کولی شي. رزق ورکولی شي، مرګ ورکولی شي، ژوند ورکولی شي، د کائناتو تدبیر کولی شي او داسې نور د ربوبیت صفات.

② شرك في الألوهية: هغه دا دی چې یو سړی دا عقیده وساتي چې کنې د الله نه سوا بل څوك هم نفع او نقصان رسولی شي. تندرستي او بیماري راوستی شي. د نذر او نیاز لائق او مستحق دی. دارنګ نور د الوهیت صفات.

③ شرك في الأسماء والصفات: هغه دا دی چې یو کس د الله تعالىٰ هغه صفات چې هغه د هغه په ذات پورې خاص دي هغه بل چا له ثابت کړي، لکه علم غیب وغیره.

④ شرك اكبر: مثلًا دغه مذکوره درې اقسامه د شرك یا وروسته راتلونکي بعض اقسام د شرك، دا شرك اكبر دی، انسان د ملت اسلامیه نه وباسي او کفر ته ئې داخلوي.

⑤ شرك اصغر او شرك خفي: دا دی چې یو سړی کوم عبادت وکړي خو د ریا او نمود دپاره، نو دا شرك اصغر او شرك خفي دی، دا د ملت اسلامیه نه خارجوونکی نه دی مګر توبه ترینه واجب او لازمي ده.

⑥ اعتقادي شرك: دا لکه چې یو انسان دا عقیده وساتي چې د الله سره بل ذات هم په الهي

---

[1] لقمان 13:31.

[2] الزمر39:65,66 .



Scanned with CamScanner

کارونو کې شريك دی. دا شرك اکبر دی انسان د ملت اسلاميه نه وباسي.

⑦ لفظي شرك: دا د هر هغه لفظ استعمالول دي چې په هغه باندې اسلامي شريعت د شرك حکم لګولی دی. لکه د غير الله په نوم قسم، يا دا وينا چې زما دپاره د الله نه او تا نه غير بل څوك نشته، زه د الله او تا نه غير بل څوك نه لرم ، زما په الله او په تا باندې توکل دی، په الله او په تا به شي، که الله او فلانی نه وی نو داسې به شوي وی. دارنګ نور شرکي الفاظ لفظي شرك دی.

⑧ شرك في التشريع: دا لکه چې يو انسان کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ پرېږدي او په آراء الرجال او اقوال الرجال او وضعي قانون باندې روان وي او عمل پرې کوي، الله پاك فرمائي: ﴿اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْۢ بِهِ اللّٰهُ﴾ "ايا ددوی دپاره داسې شريکان شته چې ددوی دپاره ئې لۀ دين څخه هغه لاره مقرر کړې ده چې الله د هغې اذن نۀ دی کړی." [1]

⑨ شرك د محبت: دا لکه چې يو بنده د غيره الله سره داسې محبت وکړي لکه څنګه چې د الله سره محبت کولی شي، الله فرمائي: ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ﴾ "او په خلقو کې ځينې هغه څوک دي چه د الله نه غير شريکان نيسي، د هغوی سره مينه کوي د الله سره د مينې په شان ، او هغه کسان چې ايمان ئې راوړی دی د الله سره په مينه کې ډېر سخت (او کلك) دي." [2]

⑩ د خوف شرك: ددې بيان او اقسام به د خوف او وېرې په باب کې راشي.

⑪ د قصد او ارادې شرك: لکه چې يو انسان په عمل سره اراده د رضا د غير الله وکړي او د الله د رضا قصد ونه کړي، دې ته شرك په قصد او اراده کې ويلی شي چې د شرك خفي د اقسامو څخه دی.

⑫ علمي شرك: دا لکه چې انسان هر هغه عمل وکړي چې په هغه باندې اسلامي شريعت د شرك حکم لګولی وي، مثلًا: د غير الله په نوم ذبح او د غير الله په نوم نذر وغيره.

---

1 الشورٰی21:42 .
2 البقرة165:2 .



Scanned with CamScanner

⑬ په اطاعت کې شرك: دا لکه چې انسان د الله او د هغه د رسول نه غیر د یو مخلوق اطاعت وکړي، په تحلیل او تحریم کې، یعنې کوم شی چې الله او د هغه رسول حلال کړی وي، او هغه شخص ورته حلال ووائي او دا مطیع ددغه اطاعت وکړي او دا الله او د رسول اطاعت پرېږدي، الله یو شی نه حرام کړی دی او نه ئې حلال کړی دی دا شخص دغه شي ته حرام وائي یا ورته حلال وائي، او دی ئې اطاعت وکړي دا شرك في الاطاعت دی، الله فرمائي: ﴿اِتَّخَذُوْۤا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾"دوی خپل عالمان او خپل عابدان د الله نه غیر خدایان نیولي دي." [1]

س: خوف څه ته وائي؟

ج: خوف دا یو قلبي عبادت دی چې بنده په وېره د الله بندګي کوي.

س: خوف په څو قسمه دی او کوم کوم دی؟

ج: خوف په څلور قسمه دی:

① خوف د عبادت: دا لکه چې انسان صرف د الله وحده لَا شَرِيكَ لَهُ نه وېره کوي، نور د هیچا نه وېره نه کوي، دا عبادت دی. الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ﴾ "او د هغه چا دپاره چې د خپل رب په وړاندې د ودرېدلونه وېرېږي، دوه جنتونه دي." [2]

﴿يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ۝﴾"دوی د خپل رب څخه وېرېږي چې د دوی دپاسه دی او دوی کوي هغه څه چې دوی ته حکم کاوۀ شي." [3]

② خوف د شرك: دا لکه چې یو انسان د غیر الله نه، مثلًا د جن یا مړي وغیره نه داسې وېره وکړي، لکه چې د الله نه وېره کولی شي، الله فرمائي: ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْۤا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً﴾"ایا تا هغه کسان نۀ دي کتلي ، چې هغوی ته وویل شو: خپل لاسونه (د جنګ نه) بند وساتئ او لمونځ قائموئ او زکات ورکوئ، نو کله چې په هغوی باندې

[1] التوبة9:31 .
[2] الرحمن55:46 .
[3] النحل16:50 .



Scanned with CamScanner

جنګ کول فرض کړی شول (، نو) ناڅاپه په دغه وخت کې په هغو کې یوه ډله د خلقو نه وېرېدله ، د الله نه د وېرېدلو په شان ، یا (ددې نه هم) زیات وېرېدل." ❶

③ **خوف د معصیت:** دا لکه چې یو انسان د چا د وېرې د وجې نه یو شرعي واجب پرېږدي یا د یو حرام ارتکاب وکړي، او دا خوف د اِکراه حد ته نه وي رسېدلی، نو دا خوف، خوف د معصیت دی، الله وائي: ﴿اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ ۪ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَ خَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ○﴾ "بېشکه همدا خبره ده چې دغه شیطان دی، چې خپل دوستان وېروي، نو تاسو د هغوی نه مهٔ وېرېږئ او زما نه وېرېږئ که چېرې تاسو مومنان یئ." ❷

④ **خوف طبعي:** دا لکه چې انسان د دشمن نه یا د درنده ګانو نه یا مار او لړم وغیره نه وېرېږي. دا جائز دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَاَصْبَحَ فِى الْمَدِيْنَةِ خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ﴾ "نو صبا ئې کړ په ښار کې ، په داسې حال کې چې وېرېدونکی و." ❸ ﴿قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ○﴾ "(موسی) وویل: ای زما ربه! بېشکه زهٔ لهٔ دې نه وېرېږم چې دوی به زما تکذیب وکړي." ❹ ﴿رَبِّ اِنِّيْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ○﴾ "ای زما ربه! بېشکه ما د دوی نه یو نفس وژلی دی ، نو زهٔ وېرېږم چې دوی به ما ووژني." ❺

## محبت په څو قسمه او کوم کوم دی؟

ج: محبت په څلور قسمه دی:

① **محبت د عبادت:** هغه دا دی چې انسان د الله سره محبت وکړي او د هغه شي سره محبت وکړي چې د الله پاك خوښ وي.

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ﴾ "او هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی

❶ النسآء4:77.
❷ آل عمرٰن3:175.
❸ القصص28:18.
❹ الشعراء26:12.
❺ القصص28:33.



Scanned with CamScanner

د الله سره په مينه کې ډېر سخت (او کلك) دي." [1]

② محبت شرکي: دا لکه چې يو انسان د غير الله سره داسې محبت کوي، لکه د الله سره چې محبت کوي يا ددې نه هم زيات. الله فرمائي: ﴿يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللهِ﴾"د هغوی سره مينه کوي د الله سره د مينې په شان." [2]

③ محبت د معصيت: دا لکه چې يو مسلمان د حرامو څيزونو او بدعاتو سره محبت کوي يا د اهل بدعو او اهل معاصيو سره محبت کوي يا له د شريعت مخالفينو سره محبت کوي.

④ محبت طبعي: لکه چې د سړي د خپل اولاد، د خپل اهل، مال او نفس سره محبت وي، دا محبت د مباحونه دی لېکن پکار دی چې دا محبت طبعي محبت پوری پاتې شي، که دا طبعي محبت انسان لره داسې مشغول کړي چې د الله اطاعت او بعضې شرعي واجبات ورنه پاتې شي، نو دا بيا معصيت ګرځي او که دا طبعي محبت دومره غالب شي چې دده په زړه او په ژوند باندې غلبه ورکړي او د دغه مال، اولاد او اهل سره داسې محبت شروع کړي لکه چې د الله سره کولی شي يا د هغه نه هم زيات شي، نو بيا دا محبت له طبعي نه شرکي وګرځي.

س: د غير الله دعا څه ته وائي؟

ج: دُعَاءُ غَيْرِ الله دې ته وائي چې انسان په خپلو مصائبو، مشکلاتو او پريشانو کې د مدد دپاره د الله نه سوا بل چاته اواز کوي او ورته بلنه کوي. الله تعالیٰ فرمائي:﴿إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ○﴾"بېشکه هغه خلق چې تاسو ئې د الله نه غير بلئ، (هغوی) ستاسو په شان بندګان دي، نو هغوی راوبلئ، پس هغوی دې ستاسو بلنه قبوله کړي، که چېرې تاسو رښتيني يئ." [3]

په دې سلسله کې د قرآن کريم ډېر ايتونه دي، مثلاً د النساء 4:118,117، الأنعام6:71، الأعراف7:107، يونس10:106، الرعد13:14، النحل 16:21,20، الحج22:62، لقمان 31:30، الحج22:73، المؤمنون23:117، الشعراء26:113، القصص28:88، العنكبوت 29:42,41، الفاطر35:14,13، الزمر39:38، الأحقاف 46:6,5,4 او الجن 72:18، 21,20.

[1] البقرة2:165 .
[2] البقرة2:165 .
[3] الأعراف7:194 .



Scanned with CamScan

دغه وجه ده چې رسول اللهﷺ فرمائي: "اَلدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ" "دعا بعينه عبادت دی." ❶

په دې سلسله کې رسول اللهﷺ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته د مينې نه ډك يو نصيحت کړی دی:

"يَا غُلَامُ! إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ: اِحْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ، اِحْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَسْأَلِ اللهَ، وَ إِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ، وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعُوا عَلٰى أَنْ يَّنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ، وَ لَوِ اجْتَمَعُوا عَلٰى أَنْ يَّضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَ جَفَّتِ الصُّحُفُ"

"ای هلکه! زه درته څو کلمې ښيم: د الله تعالٰی د حقوقو حفاظت کوه، نو الله به ستا حفاظت وکړي، د الله تعالٰی د حقوقو حفاظت کوه، نو الله به مخامخ ومومې. کله چې سوال کوې، نو د الله نه سوال کوه. کله چې مدد غواړې، نو د الله نه ئې غواړه. پوه شه که دا ټول امت په يو کار کې تاته د نفع رسولو دپاره جمع شي تاته نفع نشي در رسولی مګر په هغه شي کې چې الله ستا دپاره ليکلی وي. او که دا امت ټول راجمع شي ددې دپاره چې تاته په يو شي کې ضرر دررسوي، نو ضرر به ونه رسولی شي په هېڅ شي کې مګر په هغه شي کې چې الله پاك ستا دپاره ليکلی وي. قلمونه د تقدير د ليك نه پورته کړی شوی دي او کاغذونه وچ شوي دي." ❷

س: نذر څه ته وائي؟

ج: نذر منښتې ته وائي او منښته عبادت دی. عبادت نشته مګر صرف د الله تعالٰی دپاره، لکه چې الله پاك فرمائي: ﴿وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ﴾ "او دوی دې خپل نذرونه پوره کړي." ❸

﴿يُوفُونَ بِالنَّذْرِ﴾ "په نذرونو کې پوره والی کوي." ❹

❶ جامع الترمذي، حديث:3372 .

❷ جامع الترمذي، حديث:2516 ، و مسند أحمد:293/1 ، بإسناد حسن .

❸ الحج22:29 .

❹ الدهر76:7 .



Scanned with CamScanner

س: د غير الله په نوم ذبح كول څنګه دي؟

ج: د غير الله په نوم ذبح كول حرام دي او سبب د لعنت دی، ځکه چې ذبح عبادت دی او عبادت نه وي مګر د الله دپاره، څوك چې د غير الله دپاره، مثلًا: د جن، قبر، بابا، وغيره دپاره ذبح کوي هغه د الله د لعنت مستحق ګرځي. رسول اللهﷺ فرمائي: "وَلَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ" "او د الله لعنت دې وي په هغه چا چې د الله د نامه نه سوا د بل چا په نوم حلاله کوي." ❶

الله تعالٰى فرمائي: ﴿قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُکِیْ وَمَحْیَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ○ لَا شَرِیْکَ لَهٗ ۚ وَبِذٰلِکَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِیْنَ ○﴾ "ته ووايه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العلمين دپاره دی. د هغهٔ هېڅ شريک نشته او ماته د همدې (توحيد) حکم شوی دی او زهٔ ترټولو مسلمانانو اول يم." ❷ ﴿فَصَلِّ لِرَبِّکَ وَانْحَرْ﴾ "نو تهٔ د خپل رب دپاره لمونځ کوه او قرباني کوه." ❸

س: د الله تعالٰى د نامې نه سوا د بل چا په نوم قسم کول جائز دي او که نه؟

ج: د الله تعالٰى د نوم او صفاتو نه علاوه د بل چا په نوم قسم کول ناجائز دي او حرام دي، رسول اللهﷺ فرمايلي دي: "أَلَا! إِنَّ اللهَ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِأَبَائِكُمْ، فَمَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَصْمُتْ." "خبردار شئ! الله عزوجل منع کوي تاسو لره ددې نه چې تاسو په خپلو پلرونو قسمونه کوئ څوك چې قسم کوونکی وي، نو هغه دې په الله قسم وکړي يا دې چپ شي." ❹

ابو هريرهؓ وائي چې رسول اللهﷺ فرمائي: "مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلَفِهِ: بِاللَّاتِ وَالْعُزَّى، فَلْيَقُلْ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَ مَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ

❶ صحيح مسلم، حديث: 1978 .
❷ الأنعام6:163,162 .
❸ الكوثر 2:108 .
❹ صحيح البخاري، حديث:6108 .



Scanned with CamScanner

بِشَيْءٍ." "چا چې قسم وکړ او په خپل قسم کې ئې وويل چې زما دې قسم وي په لات او په عُزّى باندې، نو دى دې لا إله إلا الله ووائي (ايمان دې دوباره تازه کړي). چا چې خپل ملګري ته وويل چې راشه قمار (جواري) درسره وکړم هغه دې د څه شي صدقه ورکړي." [1]

بريده رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ فَلَيْسَ مِنَّا" "چا چې په امانت قسم وکړ هغه زمونږ نه نه دی." [2]

د داسې صحيح احاديثونه معلومېږي چې دغير الله په نوم قسم کول حرام دي، مثلًا: داسې قسم کول چې ستا په امانت مې دې قسم وي، ستا په ژوند مې دې قسم وي. ستا په نمك مې دې قسم وي. ستا په شرافت مې دې قسم وې. ستا په پلار نيکه مې دې قسم وي. په فلاني بابا مې دې قسم وي. په فلاني زيارت مې دي قسم وي. په کعبه مې دې قسم وي، په جومات مې دې قسم وي، په داسې نورو شيانو باندې قسم کول حرام دي.

س: ايا د الله نه سوا بل څوك په غيبو پوهېږي؟

ج: نه، په غيبو پوهېدل د الله جل جلاله خاصه ده، په غيبو هيڅوك نه پوهېږي، که هغه نبي وي او که ملائك او که ولي وي او که غير ولي. الله تعالیٰ په خپل کتاب عزيز کې فرمائي:

﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۗ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ۝﴾

"تهٔ (دوی ته) ووايه: هر هغه څوک چې په اسمانونو او ځمکه کې دي په غيبو نهٔ پوهېږي غير د الله نه او دوی نهٔ پوهېږي چې کله به دوی بيا ژوندي کولی شي." [3]

رسول الله ﷺ فرمائي:

"مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لَا يَعْلمُهُنَّ إِلَّا اللهُ، لَا يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِي غَدٍ إِلَّا اللهُ، وَ لَا يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِي الْأَرْحَامِ إِلَّا اللهُ، وَ لَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَ لَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِلَّا اللهُ، وَ مَا يَدْرِي مَتَى يَجِيءُ الْـمَطَرُ إِلَّا اللهُ، وَ لَا يَعْلَمُ مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا اللهُ"

[1] صحيح البخاري، حديث:6650 .
[2] سنن أبي داود، حديث:3253 ، بإسناد صحيح.
[3] النمل27:65 .



Scanned with CamScan

"د غيبو كنجياني پنځه دي چې نه پوهېږي په دغو پنځو شيانو سوا د الله نه: هيڅوك نه پوهېږي سوا د الله نه چې صبا به څه كېږي د الله نه سوا هيڅوك نه پوهېږي چې په رحم كې به څه پيدا كېږي. هېڅ نفس نه پوهېږي چې زه به صبا څه كوم، هېڅ نفس نه پوهېږي چې دی به په كومه ځمكه مري. هيڅوك سوا د الله نه نه پوهېږي چې باران به كله كېږي او قيامت به كله قائمېږي." (1)

س: توكل څه ته وائي؟

ج: توكل په الله باندې اعتماد كولو ته وائي او دا په الله باندې اعتماد كول عبادت دی. الله فرمائي: ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ﴾ "او ته توكل وكړه په هغه تل ژوندي ذات چې نۀ مري." (2) ﴿فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۖ إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ﴾ "نو تۀ خاص په الله باندې توكل وكړه، بېشكه تۀ په ښكاره حق باندې ئې." (3)

عمر بن الخطاب رضي الله عنه وائي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل ئې: "لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُوا خِمَاصًا وَ تَرُوحُ بِطَانًا" "كه تاسو په الله باندې توكل وكړئ څنګه چې توكل كول پكار دي، نو خامخا به هغه تاسو ته رزق دركړي څنګه چې مرغانو ته رزق وركوي چې صبا وږي وځي او بيګا له مړه خېټه واپس راځي." (4)

س: ايا نجومي توب په اسلامي شريعت كې جائز دی؟

ج: نه، بلكې نجومي توب سحر دی. رسول الله ﷺ فرمائي: "مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ زَادَ مَا زَادَ" "چا چې څه علم د علم نجوم نه حاصل كړ گويا چې ده څه حصه د سحر نه حاصله كړه، زياته ئې كړه څومره چې ئې زياته كړه." (5)

(1) صحيح البخاري، حديث:1039 ، 4697، و مسند أحمد:52/2.
(2) الفرقان25:58 .
(3) النمل27:79 .
(4) جامع الترمذي، حديث:2344 ، و سنن ابن ماجه، حديث: 4164، و مسند أحمد: 30/1.
(5) سنن أبي داود، حديث:3905 ، و سنن ابن ماجه: 3726، و مسند أحمد: 227/1 ، 311 ، بإسناد صحيح.



Scanned with CamScanner

ددې حديث نه معلومېږي چې هر نجومي ساحر دی، سړی چې څومره زيات مهارت په ستورو کې پيدا کوي هغومره زيادت په سحر کې کوي. الله دې مونږ ته د ساحرانو او نجوميانو نه پناه راکړي.

س: اسلامي شريعت کې سحر جائز دی او کنه؟

ج: سحر جائز نه دی بلکې سحر کفر دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ﴾ "او دغو دواړو به هيچا ته ښودنه نهٔ کوله، مکر چې ويل به ئې: اصل خبره دا ده چې مونږ يَوْ ازمېښت يو، نو تهٔ مهٔ کافر کېږه." [1]

ددې ايت نه په ډاګه معلومه شوه چې هيچاله ممکن نه دي چې سحر زده کړي مګر هله چې کافر شي او کله چې کافر شي، نو سحر زده کړي. ددې ايت په بنا باندې ساحر کافر دی. نَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْكُفْرِ وَمِنَ السِّحْرِ.

س: فالګرو او کاهنانو ته تلل څنګه دي؟

ج: فالګرو او کاهنانو ته تلل حرام دي، عائشه رضي الله عنها فرمايلي دي چې څه خلقو د رسول الله ﷺ نه د کاهنانو په باره کې تپوس وکړ، نو دوی ته ئې وويل: "هُمْ لَيْسُوا بِشَيْءٍ" قَالُوا: يَا رَسُولَ الله! إِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَ أَحْيَانًا بِالشَّيْءِ يَكُونُ حَقًّا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: "تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيُقَرْقِرُهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ كَقَرْقَرَةِ الدَّجَاجَةِ فَيَخْلِطُونَ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ كَذِبَةٍ" "چې دوی هېڅ شی نه دي، هغوی وويل: ای د الله رسوله! دوی کله داسې خبره بيان کړي چې هغه حق وي؟ نو وئې فرمايل: دا حق کلمه ده چې دا جنات ئې تښتوي، بيا ئې اچوي په غوږونو د خپل ولي دوست کې، لکه چرګان چې قرقر کوي، نو دې حقې خبرې سره سل دروغ ورګډ کړي." [2]

رسول الله ﷺ فرمائي: "مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةُ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً" "څوك چې فالګر ته ورغی او د هغه نه ئې د څه شي په باره کې تپوس وکړ، نو دده

[1] البقرة:2:102 .

[2] صحيح البخاري، حديث:7561 .



Scanned with CamScanner

څلوېښت شپې (او ورځې) لمونځ نه قبلېږي." [1]

س: کاهن چا ته ویلی شي؟

ج: کاهن هغه چا ته وائي چې خلقو ته د هغه غیبو خبر ورکوي چې لا واقع شوي نه وي. دارنګ د زړه د راز خبر ورکوي، حالانکه په دې د الله نه سوا بل څوك نه پوهېږي، نو ځکه دوی ته تلل حرام دي.

س: عراف فالګر چا ته وائي؟

ج: فالګر هغه چا ته وائي چې خلقو ته د ورك شوي شي ځای ښيي، دا رنګ غلا ښيي، داسې شیان چې واقع شوي وي خو پټ وي. خلق دې فالګر ته ځي او دا ورته خبر ورکوي چې جادو او تعویذ په فلاني ځای کې دی. د غلا مال په فلانی ځای کې دی. غل فلانی دی. جادوګر فلانی دی، ددې نه علاو نور داسې شیان چې واقع شوي وي خو پټ پاتې وي، نو داسې خلقو ته تلل او د هغوی تصدیق کول حرام دی، که څوك لاړ، نو په سزا کې الله پاك د هغه څلوېښت ورځې لمونځ نه قبلوي. نعوذ بالله من ذلك.

س: د مصیبت او بیماري لرې کولو یا محبت او بل څه دپاره کنجکې، تړتکې او تعویذ زوړندول څه رنګه دي؟

ج: ناجائز او شرك دي. عقبه بن عامر جهني رضي الله عنه وائي چې: "أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَقْبَلَ إِلَيْهِ رَهْطٌ فَبَايَعَ تِسْعَةً وَ أَمْسَكَ عَنْ وَّاحِدٍ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! بَايَعْتَ تِسْعَةً وَ تَرَكْتَ هٰذَا، قَالَ: "إِنَّ عَلَيْهِ تَمِيمَةً" فَأَدْخَلَ يَدَهُ فَقَطَعَهَا، فَبَايَعَ وَ قَالَ: "مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ"" "رسول الله ﷺ ته یوه ډله راغله، نو د نهو کسانو سره ئې بیعت وکړ او د یو کس نه ئې لاس راټول کړ، صحابه و عرض وکړ چې ای د الله رسوله! تا د نهو کسانو سره بیعت وکړ او دا یو دې پرېښود، وئې فرمایل: دده په ځان باندې تمیمه (تعویذ) دی، هغه سړي لاس ننویستو او هغه ئې وشلوه، بیا رسول الله ﷺ ورسره بیعت وکړ او وئې فرمائل: چا چې تمیمه تعویذ، کنجکه وغیره زوړند کړل، نو هغه بېشکه شرك وکړ." [2]

[1] صحیح مسلم، حدیث:2230 .

[2] مسند أحمد:4/156 ، بإسناد حسن.



Scanned with CamScanner

ددې حديث نه معلومه شوه چې تعويذونه او کنجکې زوړندول حرام دي، برابره خبره ده چې په انسان پورې زوړند وي او که په حيواناتو پورې، او که په ګاډو او که په کور او که په دوکان او که په ونه وغيره پورې زوړند وي، برابره خبره ده چې دا زوړند کړی شوی شی که هډوکي وي او که ښکر او که پڼه وي او که ويښتان او که اوسپنه يا زېړ يا تعويذ وغيره، ځکه چې په دې ټولو سره اعتماد په غير الله راځي اوغير الله ته ميلان راځي، او په غير الله ئې د نفعې او نقصان اعتقاد وساته او غير الله ته ئې التفات وکړ او په غير الله باندې ئې وثوق او اعتماد وکړ، دا شرك دی.

س: نفاق څه ته وائي؟

ج: نفاق دې ته وائي چې د سړي په زړه کې يو څه وي او ظاهروي بل څه او دا نفاق په دوه قسمه دی. يو ته اعتقادي نفاق ويلی شي، دويم ته عملي نفاق ويلی شي، اعتقادي نفاق دا دی چې په ظاهره کې مسلمان وي او په باطن کې کافر وي، داسې منافق ظاهراً مسلمان مګر باطنًا کافر زنديق وي او که په دغه حالت کې مړ شي، نو دده ځای په جهنم کې درك اسفل دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا﴾ "بېشکه منافقان د اور ترټولو لاندينۍ طبقه کې دي او تهٔ به کله هم د هغوی دپاره څوك مدد کوونکی ونهٔ مومې." [1]

② عملي نفاق دا دی چې په دې دوه حديثونو کې رسول اللهﷺ ذکر کړی دی، رسول اللهﷺ فرمائي: "آيَةُ الْـمُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَ إِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَ إِذَا أُتُمِنَ خَانَ." "د منافق درې نښې دي، کله چې خبرې کوي، دروغ وائي، او کله چې وعده وکړي، خلاف ئې کوي، کله چې ورسره امانت کېښودی شي، نو خيانت په کې کوي." [2]

د صحيح مسلم په الفاظو کې دا هم شته چې "وَ إِنْ صَامَ وَ صَلَّى وَ زَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ" "اګر که دی روژه نيسي او مونځ کوي او خيال ئې دا وي چې دی مسلمان دی." [3]

[1] النسآء4:145.
[2] صحيح البخاري، حديث:33 ، و صحيح مسلم، حديث: 59.
[3] صحيح مسلم، حديث: 59 [213].



Scanned with CamScan

په بل حديث کې دي چې رسول اللهﷺ فرمائي:" أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، وَ مَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِّنَ النِّفَاقِ حَتّٰى يَدَعَهَا: إِذَا أُتُمِنَ خَانَ، وَ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَ إِذَا عَاهَدَ غَدَرَ ، وَ إِذَا خَاصَمَ فَجَرَ""څلور خصلتونه دي، په چا کې چې دا څلور خصلته وي، نو هغه خالص منافق دی او که په چا کې ددغو نه يو خصلت وي، نو په هغه کې يو خصلت د نفاق دی تردې چې دغه خصلت پرېږدي: کله چې امانت ورسره کيښودی شي خيانت کوي ئې، کله چې خبرې کوي دروغ وائي،، کله چې وعده وکړي، نو دوکه کوي، کله چې جګړه کوي، نو پوچ ګوئي کوي."[1]

دا قسم نفاق سړی د اسلام د دائرې نه نه وباسي خو دا ډېر بد اخلاق دي چې الله او رسولﷺ ئې نه خوښوي.

[1] صحيح البخاري، حديث:34 ، و صحيح مسلم، حديث: 58.



Scanned with CamScan

# توحید في الأسماء والصفات

د دین درجه ډېره اوچته او اهمیت ئې ډېر لوی دی، نو هیچا لره ممکن نه دي چې د الله تعالیٰ عبادت په کامل او اکملې طریقې سره وکړي څو پورې چې د الله تعالیٰ په اسماء او صفاتو باندې علم حاصل نه کړي.

ځکه چې د الله بندګي عَلٰی وَجْهِ الْبَصیرة هله کېدی شي چې انسان د الله په عظمت پوه شي او دا هله کېدی شي چې د الله تعالیٰ د اسماء او صفاتو نه خبر وي.

س: د صفات الٰهیه ؤ په باره کې د سفلو منهج څه دی؟

ج: د صفاتو په باره کې د سلفو د منهج پېژندو نه مخکې سلف پېژندل ضروري دي چې سلف څوك دي؟ کله چې سلف مطلق ذکر شي، نو اصطلاحًا ترې مراد د رسول اللهﷺ هغه ملګري دي چې هغوی د رسول اللهﷺ سره په هغه وخت کې موجود وو او د رسول اللهﷺ نه ئې خپله بلا واسطه د علومو أخذ کړی و، که هغه علوم اصول وو او که فروع. دا رنګه په دې اصطلاح کې تابعین او تبع تابعین هم شامل دي. دا د سلفیت اصطلاح هله ظاهره او مشهوره شوه کله چې د کلامیه فرقو تر مینځ نزاع ظاهره شوه او هرې فرقې دا کوشش کولو چې هغه سلفو ته منسوب وي او دا اعلان ئې کولو چې زه په کوم اعتقاد یم،، همدا د سلفو عقیده ده،، نو ضروري ده چې د سلفو او د صفات الهیه ؤ د ثابتولو په سلسله کې څه خاص او جداګانه قواعد او ضوابط وي چې په هغو سره د نورو نه مُمَيَّز وي او ددوی اقتدا چې څوك کوي، د هغوی معامله خلط ملط نه وي. د هغه قواعدو خلاصه دا ده:

① قاعده: د قرآن و سنت نقل په عقل باندې مقدم کول، ددې دا مقصد نه دی چې سلف د عقل نه انکار کوي یا په عقل سره معارفو ته د رسېدو نه انکار کوي. بلکې دوی نقل لره وړاندې کوي په عقل باندې، ددې وجې نه چې دوی په دې خبره ایمان لري چې الله پاك رسولان رالېږلي دي او په دوی باندې ئې کتابونه نازل کړي دي او دوی ئې د هغو په بیان مکلف کړي دي کوم څه چې بیان ته محتاج وو، هغه مسلمان لره د هر څه نه بې پروا کوي.



Scanned with CamScan

نو ددې قاعدې راز هم په همدغه نقطه کې دی، نو وروسته راتلونکو نسلونو ته د سلفو د تابعدارۍ نه لابدي ده، په دې بنیاد چې د صفاتو په باره کې سلف أعلم وو. او طریقه ددوی ډېره مضبوطه او ډېره سالمه ده د هر قسم شکونو، شبهاتو او کجرویو نه.

② قاعده: دویمه قاعده دا ده چې سلف د تاویل بطلان کوي او خپله فیصله داسې وړاندې کوي چې په هر څه کې چې قرآني یا حدیثي نص موجود وي په هغه نص باید اکتفاء وشي او د نص معارضه په ادله عقلیه ؤ سره ونه شي.

③ قاعده: سلف په عقایدو کې د صفات الهیه ؤ او فرایضو د اثبات له پاره د کتاب او سنت په دلائلو کې فرق نه کوي. مقصد دا چې په بحث د اسماء او صفاتو کې د سلفو دا موقف دی چې په دې کې اتباع مطلق ده، ځکه چې دا داسې بحث دی چې په دې کې اجتهاد، استحسان او قیاس کار نشي کولی.

خلاصه دا چې د الله صفت دی بیان کړی شي په هغه طریقه چې پخپله الله خپل صفت بیان کړي وي یا رسول اللهﷺ د الله صفت بیان کړی وي بغیر د تعطیل، تحریف، تاویل، تشبیه، او تکییف نه او بغیر د تجسیم نه. ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ [1]

## درې ضروري نقطې یادول لازم دي

① د هغه څه ثابتول چې الله خپل ځان له ثابت کړي دي یا رسول اللهﷺ ورله ثابت کړي دي، ځکه چې مخلوق د الله نه زیات پوه نه دي او نه رسول اللهﷺ بغیر د وحي نه د الله په ذات او صفاتو کې خبرې کوي.

الله فرمائي: ﴿ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللَّهُ﴾ "ایا تاسو ډېر پوه یئ، یا که الله؟." [2] ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ○ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾ "او دی د خپل خواهش نه خبرې نهٔ کوي. نهٔ دی دا (قرآن) مګر وحي چې (دهٔ ته) وحي کول شي." [3]

② د الله تعالیٰ تنزیه د ذات د مخلوق د مشابهت نه په صفاتو کې، ځکه الله پاك فرمائي:

[1] الشورٰی 11:42.
[2] البقرة2:140 .
[3] النجم 4,3:53 .



Scanned with CamScanner

﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾ "د هغهٔ په مثل هيڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی ، ښه ليدونکی دی." [1]

③ د صفاتو د حقيقت د ادارك دپاره كوشش نه كول، لكه څنګه چې د ذات د حقيقت د ادارك دپاره كوشش نه كوي، ځكه چې الله پاك فرمائي: ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا﴾ "او دوی د هغهٔ د علم احاطه نشي كولی." [2] ﴿هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا﴾ "ايا تهٔ ددهٔ كوم همنام پېژنې." [3]

س: د صفاتو څو اقسام دي؟

ج: سلف صالحينو د صفاتو په تقسيم كې وخت نه دی ضائع كړی، ځكه چې هغوی د صفاتو په باره كې د قرآن او سنت نه تجاوز نه كاوه او كوم سلف چې په دور عباسي كې موجود وو، هغوی د اهل كلامو په مناقشاتو او مجادلاتو كې د هغوی اسلوب ته محتاجه شول، نو دوی څه قدرې د صفاتو كې په تقسيم ګوتې ووهلې، مګر خَلَف (اشاعره، ماتريديه وغيره) دوی ددې تقسيم دلداده وو، نو دوی صفات په څو برخو وېشلي دي:

### ① صفات سلبيه او ثبوتيه

صفات سلبيه (د دوی په نيز) هر هغه صفت دی چې هغه دلالت نه كوي په دلالت مطابقي سره په معنٰی وجودي باندې بالكل، بلكې دلالت كوي په معنٰی سلبي غير ثبوتي باندې. مثلًا: "قِدَم" چې دلالت كوي په عَدَم باندې په نه وړاندې والي. او "بقاء" دلالت كوي په عدمِ لُحُوق د فناء باندې، نو په دې طريقې سره صفات سلبي د دوی په نيز صرف پنځه دي: مثلًا: ① القدم، ② البقاء ③ الوحدانية، ④ المخالفة للحوادث، ⑤ الغنى المطلق، چې ددوی په نيز "القيام بالنفس" باندې معروف دی.

د سلفو په نيز صفات سلبيه ؤ نه مراد هر هغه صفت دی چې په كې حرف نفي (مثلًا: لا ، يا ما، يا ليس) داخل وي. دا قسم صفات سلبيه په قرآن او حديث كې ډېر دي. په قرآن او حديث كې صفات سلبيه هغه ذكر كېږي چې شامل وي په كمال د ضد د هغه صفت باندې

[1] الشورٰى11:42 .
[2] طٰهٰ110:20 .
[3] مريم65:19 .



Scanned with CamScan

چې د کوم صفت نفي شوې وي، مثلًا: په قرآن کې دي﴿وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾ "ستا رب ظلم نه کوي په هيچا باندې." [1] دا دلالت کوي په نفي د ظلم د رب د عدل په کمال باندې، يا ﴿لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞ﴾ "نه نيسي ده لره پرکالي او ننه خوب." [2] دا دلالت کوي په نفي د پرکالي او خوب خو ورسره دلالت کوي په کمال د حيات او د قيوميت د الله باندې. يا﴿وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٖ﴾ "نه ده رسېدلې مونږ ته څه ستوماني." [3] دا دلالت کوي (په نفي د ستوماني باندې مګر ورسره دلالت کوي په کمال د قوت د الله تعالىٰ باندې، مقصد دا شو چې په مطلق نفي کې مدح نشته ترڅو چې په دې نفي سره ئې په کمال د ضد د هغه باندې دلالت نه وي کړی.

## ثبوتي صفات

ثبوتي صفات هغه دي چې ددغو صفاتو په معنىٰ ثبوتي وجودي باندې دلالت کوي دغه صفات سبعه (اوه) دي دغه، مثلًا: قدرت، اراده، سمع، بصر، علم، حيات، کلام، دا صفات دلالت کوي په دلالت مطابقي سره په معنىٰ وجودي باندې، ځکه چې دا داسې يو صفت دی چې په دې سره ايجاد د ممکناتو او اعدام د ممکناتو په يو وخت کې موافق د ارادې او مشيت د الله سره کېدی شي، د دې سره سره دلالت کوي په سلب دعجز د الله تعالىٰ باندې د وجې د محال والي د اجتماع د ضدينو نه عقلًا، همدارنګې دا نور شپږ واړه صفات ثبوتيه دي.

## ② صفات ذاتيه - صفات فعليه

صفات ذاتيه: هغه دي چې د الله د ذات پورې لازم وي. او د هغو تجدد نه کېږي. څنګه چې د صفات فعليه ؤ تجدد کېږي. نو دا صفات ذاتي دي په معنىٰ ثبوتي وجودي باندې ددوی د دلالت په حيثيت سره، مثلًا: علم، سمع، بصر، عزت، حکمت، د صفات فعليه په تعريف کې د اشاعره ؤ، ماتريديه ؤ او متعزله ؤ اختلاف دی.

خو ددغو اقوالو نه جامع قول دا دی چې صفات فعليه يا صفات اختياريه، مختلف دي

[1] الکهف 49:18.
[2] البقرة 255:2.
[3] ق 38:50.



Scanned with CamScanner

د هغه صفات ذاتيه ثبوتيه ۇ نه چې په هغو پورې د الله مشيئت متعلق نه دي نه د هغو ذات پورې او نه د هغو انواعو پورې، مثلًا: قدرت، علم، سمع، بصر، بل دا داسې صفات دي چې په دې پورې تعلق لري مشيت د الله تعالىٰ او نوى كېږي مواقع د مشيت د الله تعالىٰ، لكه "مجئ، استواء، غضب، فرح، ضحك" دا صفات ذاتي دي په اعتبار د اصل صفت سره او صفات افعال دي په اعتبار د افرادو او نوع د كلام سره.

## صفات شرعيه عقليه او صفات خبريه

س: د الله تعالىٰ صفات د ثبوت په اعتبار سره څو قسمه دي او كوم كوم دي؟

ج: د الله تعالىٰ صفات د ثبوت په لحاظ سره دوه قسمه دي:

① صفات شرعيه عقليه ② صفات خبريه، نقليه سمعيه.

س: صفات شرعيه عقليه څه ته وائي؟

ج: صفات شرعيه عقليه هغه دي چې دغه صفت په دليل شرعي او دليل عقلي او فطرت سليمه سره ثابت شي. د الله تعالىٰ صفات ثبوتيه اكثر همداسې دي چې په سمعي، عقلي او فطري دلائلو سره ثابت دي.

س: صفات خبريه نقليه سمعيه څه ته وائي؟

ج: صفات خبريه چې ورته نقليه سمعيه وائي دا هغه صفات دي چې د هغو ثبوت نشي كيدى مګر په طريقه د سعمې (اورېدو) سره د الله تعالىٰ يا د رسول اللهﷺ نه (مطلب دا چې ددغه صفاتو د ثبوت دپاره مجردِ عقل لره دخل نشته تر څو چې د الله تعالىٰ او رسول اللهﷺ نه سماع د هغو نه وي شوې او دومره ده چې عقل سليم او فطرت ددغه انكار نه كوي.

س: ددغو صفاتو چې د هغو د اثبات دپاره عقل محض لره دخل نشته. څه مثال شته؟

ج: هو، مثلًا: وجه، يد، عين، غضب، رضا، فرح، قَدَم، رِجل، سَاق، أَصَابِع، استواء على العرش، نزول، مجئ، إتيان، ضحك، عجب وغيره.

س: ددې صفات: خبريه نقليه ۇ، سمعيه هم اقسام شته او كنه؟

ج: هو، صفات خبريه نقليه سمعيه هم په دوه قسمه دي:

① فعليه چې د الله د ارادې او مشيت سره متجدد كېږي.



Scanned with CamScan

② ذاتيه چې د الله په ذات پورې متعلق دي او متجدد کېږي نه.
س: ددې دواړو څه مثالونه شته چې د يو بل نه جدا شي؟
ج: هو، صفات فعليه مثلًا: نزول، إتيان، مجيئ، غضب، فرح، ضحك، عجب، استواء على العرش وغيره. او صفات ذاتيه: مثلًا وجه، يد، اصابع، قدم، رجل، ساق، عين وغيره.
تبنيه: ياد لرل پكار دي كوم صفات چې د الله تعالیٰ په اضافت سره وارد دي هغه صفات هم هغسې استعمالول پكار دي د هغو نه اسم نشي مشتق كولی، مثلًا: لفظ كيد، مكر، سخريه، استهزاء، أخذ، بطش، شديد المحال، شديد العقاب، شديد العذاب ددې الفاظو نه اسم نشي مشتق كولی د الله په باره كې داسې نشي ويلی چې "كائد" "ماكر" "ساخر" وغيره.
بس دا صفات فعليه دي چې ثابت دي الله تعالیٰ لره څرنګ چې د هغه د جلال او عظمت او كبريائي سره لائق وي. مقصد دا چې كوم الفاظ چې له فعل سره وارد وي هغه همغسې استعمالولی شي څنګه چې وارد دي. د هغه نه اسم نشي مشتق كولی، ځكه چې كه د هغو نه اسم مشتق كړی شي، نو بدعت به وي، ځكه په الله باندې ددغه اسم اطلاق په قرآن او سنت كې نه دی راغلی.
مكر: ويلی شي چې يو شی ظاهرًا يو شان ظاهرول خو په باطن كې هغه بل شان كول، ددې لپاره چې خپل مقصد ته ورسي او دا په دوه قسمه دي:
① محمود، ② مذموم.
محمود هغه دي چې دا فعل له هغه چا سره وكړی شي چې هغه ددغه مكر او كيد مستحق وي او دا كار ورسره وشي دپاره د عقوبت او سزا د هغه، دا محمود دی، ددې نسبت الله ته كولی شي په هغه طريقه چې كومه الله او رسول غوره كړې ده، ځكه چې په دې كې نقص نشته بلكې كمال دی، لكه چې دا مكر او كيد د الله تعالیٰ دی د اهل مكر او كيد سره د وجې د مقابل ددوی د فعل او د وجې د جزا وركولو دوی ته د دوی د عمل د جنس نه.
مذموم: هغه مكر او كيد دی چې وكړی شي دا مكر او كيد د هغه چا سره چې دی مستحق نه وي ددغه مكر او كيد. ځكه دا دده د كوونكي دپاره نقص دی او ددې كيد او مكر نسبت الله ته نشي كولی.
خلاصه دا شوه چې نسبت د مكر او كيد وغيره الله ته د اطلاق د فعل نه دی او په

اوصافو کې وسعت دی په نسبت سره اسماءو ته ، دغه وجه ده چې الله پاك په خپل نفس باندې د بعض افعالو اطلاق کړی دی او ددغه افعالو د اسماءو په فاعل سره ئې ځان نه دی موسوم کړی، مثلًا: په خپل ځان کې د "أَرَادَ، شَاءَ، أَحْدَثَ" وغیره اطلاق کړی دی مګر ددې نه په اسم مشتقي اسم فاعل سره ئې خپل ځان نه دی موسوم کړی، مثلًا ځان ته ئې "مرید، شائي، مُحْدِث" نه دی ویلی، څرنګ چې الله پاك خپل ځان صانع، فاعل، متقن، ساخر، باطش، کائد، ماکر، مستهزء وغیره سره نه دی موسوم کړی. لهٰذا مونږ به ددغو صفاتو اطلاق په الله باندې په هغه طریقه کوو چې په کومه طریقه په خپله الله او د هغه رسول اللهﷺ کړی دی او ددغو صفاتو په اسماءو به ئې نه موسوم کوو.

دا هم یاد ساتل پکار دي چې الله پاك او رسول اللهﷺ چې د کومو اوچتو صفاتو اطلاق په الله تعالیٰ باندې کړی دی هغه لفظًا او معنًا اکمل دي په نسبت د هغو صفاتو چې الله او رسول اللهﷺ د هغو اطلاق په الله تعالیٰ باندې نه دی کړی، مثلًا "العلیم الخبیر" اکمل دی د "الفقیه العارف" نه، دارنګ "الکریم الجواد" اکمل دی د "السخي" نه، دارنګ "الخالق، البارئ، المصور "اکمل دی د الصانع الفاعل نه او "الرؤف الرحیم" اکمل دی د الشفیق نه.

امام قرطبيؒ وائي: اسماء د الله تعالیٰ اګر که ډېر دي خو په ذات کې ئې تعدد نشته او نه په کې ترکیب شته . نه ترکیب حسي، لکه جسمیات او نه ترکیب عقلي لکه محدودات. بېشکه متعدد دي اسماء د الله پاك په اعتبار د اعتباراتو زوائدو سره د ذات نه، بیا دا اسماء د الله تعالیٰ د دلالت په لحاظ په څلور قسمه دي:

① هغه چې دلالت کوي مجرد په ذات باندې، لکه لفظ د "الله" نو دا دلالت کوي په ذات د الله په دلالت مطلقه غیر مقیده سره، په دې لفظ د "الله" سره پېژندی شي، ټول اسماء د الله، مثلًا مونږ داسې ویلی شو چې "رحمن" د الله تعالیٰ د اسماءو نه دی او داسې نه شو ویلی چې "الله" د "رحمن" د اسماءو نه دی.

② هغه چې دلالت کوي الله ته د یو امر په اضافت باندې، لکه خالق، رازق او داسې نور.

③ هغه چې دلالت کوي د الله د ذات دپاره په د صفات ثابته باندې، لکه: علیم، قدیر سمیع، بصیر او داسې نور.

④ هغه چې دلالت کوي د الله نه د یو شي په سلب باندې، لکه علي، قدوس، مثلًا چې



Scanned with CamScan

دلالت کوي، د الله په صفت د علو (اوچت والي) او د الله نه نقائصو لره سلب کوي، لکه، سفول (ټيټوالي) او نه تقدس، دارنګ هغه الفاظ چې د الله پاك په صفاتو دلالت کوي او هغه په درې قسمه دي:

① د الله دپاره په قطعي طور باندې ثابت دي. ② د الله دپاره په قطعي طور باندې ممتنع دي.
③ثابت دي خو د اضافت سره.

① هغه دي چې د هغه ذکر مفردًا هم جائز دی او د اضافت سره هم دا ډېر دي، لکه: القادر، القاهر. ② او بعضې داسې دي چې مفردًا استعمالول جائز دي او د اضافت سره هم جائز دي مګر په شرط سره، لکه، خالق، چې مجرد استعمال ئې هم جائز دی، او د اضافت سره هم چې خالق کل شيء. لېکن خالق القرد، خالق الکلب ويل نه دي جائز د الله سره د تأدب د وجې نه، ګنې نو قرد او کلب هم په کُلْ کې داخل دي. ③ او بعضې اسماء داسې دي چې د اضافت سره استعمالولی شي، مجرد نشي استعمالولی، لکه اَلْمُنْشِئُ چې مُنْشِئُ الْخَلْقِ ويلی شي او صرف "اَلْمُنْشِئُ" نشي ويلی.

س: د صفت او نعت څه معنٰی ده؟

ج: مراد د صفت او د نعت نه هغه صفت او نعت نه دی چې د نحوميانو مراد وي. همدارنګه د سلفو محدثينو په نيز صفت او نعت سره مترادف دي، نو د محدثينو په نيز د صفت او نعت تر مينځ فرق نشته خو بعضو خلقو ئې فرق کړی دی خصوصًا د کلام علماءو، خو دا فرق بې فائدې دی.

يعنې نعت ويلی شي "وَصَفَ الشَّيْءَ يَصِفُهُ وَصْفًا، أَيْ نَعَتَهُ، الْوَصْفُ وَصْفُكَ الشَّيْءَ بِحُلِيَّتِهِ وَنَعْتِهِ" يعنې د يو شي صفت بيان کړه صفت بيانوي په صفت بيانولو سره، يعنې نعت ئې بيانوي. ستا صفت بيانول د يو شي په حُليه او نعت د هغه سره، دا صريح دی په دې خبره چې صفت او نعت سره مترادف دي.

## بحث د الله پاك د صفاتو او افعالو په تجدد کې

س: د افعالو او صفاتو د تجدد نه څه مراد دي؟

ج: دا ياد لرل په کار دي چې الله سبحانه و تعالٰی همېش د کمال په صفاتو سره که هغه



Scanned with CamScan

صفات الذات وي او که هغه صفات الفعل وي، او دا عقيده لرل نه دي جائز چې ګڼې الله په يو صفت باندې مخکې موصوف نه و اوس موصوف شو، ځکه چې د الله تعالٰی صفات د کمال صفات دي او نشتوالی ددغه صفت نقص دی، ددې وجې نه جائز نه دي چې مونږ عقيده وساتو چې د الله تعالٰی ثابت دی أزلًا و أبدًا. متجدد (نوي) کېږي نه، که صفات د ذات وي، او که صفات د فعل وي، ځکه چې د فعل صفات په يو وخت کې موجود والي او په بل وخت کې نه موجود والي ته نشي ويلی چې دا صفت په ده کې نه و، او اوس په کې راغی، يا دا صفت دده دپاره ممتنع و او اوس ورته جائز شو، يا دا فعل دده دپاره ممتنع و او اوس ئې وکړ، ځکه چې فعل د الله تعالٰی دپاره په هر وخت کې ممکن دی. او دا جائز نه دي چې وويلی شي چې الله پاك د فعل نه معطل و په يو وخت کې د وختونو نه، ځکه چې داسې عقيده ساتل د الله دپاره نقص دی. بلکې دا عقيده ساتل پکار ده چې الله تعالٰی په دې صفاتو باندې هر وخت متصف دی. او دغه صفات ورله هر وخت ممکن دي. لېکن اظهار د هغې مناسبې موقع سره کوي. دغه اظهار ته تجدد ويلی شي، د تجدد نه هم دغه مراد دی.

س: اضافت څه ته وائي؟

ج: اضافت د يو شي بل شي ته نسبت کولو ته وائي، لکه:قَلَمُ زَيْدٍ. چې د قلم نسبت زيد ته شوی دی. الله تعالٰی ته د يو شي اضافت په دوه قسمه دی:

① يو اضافت د هغه أعيانو چې قَائِم بِنَفْسِها وي، لکه بيت الله، عبد الله، روح الله، نو دا اضافت چې الله ته شوی دی دا د اختصاص او د شرافت اقتضاء کوي.

② د صفاتو اضافت دی چې قائم بِنَفْسِها نه وي، لکه: علم د الله، حيات، قدرت، عزت، سمع، بصر، يد، اراده، کلام، وجه، او نفس دده. نو دا صفت اضافت شوی دی موصوف ته، دارنګه هغه اشياء چې د هغه په باره کې خبر ورکړی شي چې دده نه دي، نو هغه به کتلی شي که اعيان (ذات) وي، لکه: ﴿رُوحٌ مِّنْهُ﴾ [1] يا ﴿وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ﴾ [2] ددې نه مراد خلق او تقدير دی. او که اوصاف وي، لکه ﴿تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ مِنَ

[1] النسآء 4:171.
[2] الجاثية 45:13.



Scanned with CamScan

اللّٰهِ﴾ [1] نو دا دلالت کوي چې دا صفت د الله پاك دی، ځکه چې صفت قائم بنفسه نشي کېدی، دغه وجه ده چې کله سلفو دې فرق ته لاره موندله چې په دې سره فرق په مینځ د حق او باطل کې کېږي، نو ورته د صراط مستقیم هدایت وکړی شو.

## د الله تعالیٰ د ذات او صفاتو تر مینځه تعلق

س: د الله تعالیٰ د ذات او صفاتو تر مینځه څه تعلق دی؟

ج: د ایمان بالله نه مراد په هغه ذات ایمان دی چې هغه واجب الوجود دی په حقیقي وجود سره، دا ایمان دی د الله په اوچتو صفتونو او ښو، ښو نومونو باندې کله چې یو مؤمن ووائي چې أَمَنْتُ بِاللّٰهِ ددې نه مراد دی چې هغه ایمان چې شامل دی په هغه ذات چې مشابه نه دی د نورو ذواتو سره او متصف دی په داسې صفات کمالیه ؤ سره چې دا صفات د مخلوق له صفاتو سره مشابه نه دی بلکې د الله د صفاتو دپاره ځانله حقائق دي او د مخلقو د صفاتو دپاره ځانله حقائق دي. نو بیا په دې باندې د ذات او صفاتو تر مینځه علاقه او تلازم ده چې ایمان بالذات (الله) دا مستلزم دی ایمان بالصفات لره، او ایمان بالصفات مستلزم دی ایمان بالذات لره، ځکه چې هغه حقیقت چې مختص دی د الله په ذات پورې چې په هغه کې ورسره څوك شریك نشته. هغه موصوف کول د الله دي په صفاتو د کمال سره، هغه کمال مطلق چې په هغه کې ورسره څوك نه دي شریك، په هغه علم کامل سره چې محیط دی ټولو معلوماتو لره او په هغه کلماتو سره چې هغه لره ختمېدل نشته، او په هغه قدرت کامله سره چې هغه لره هیڅ شی نشي عاجز کولی، بلکې دی سبحانه و تعالیٰ په هر څه قادر دی. کله چې دا نقطه دې وپېژندله، نو ایمان به دې صحیح شي. صحیح ایمان هغه ایمان راوړل دي په داسې رب چې متصف دی په خپلو صفاتو د کمال او اسماء حسنی باندې چې د دواړو حقیقت واحده دی، داسې حقیقت واحده چې تجزي نه قبلوي. د الله ذات او أسماء او صفات د یو بل نه جداوالی نه قبلوي، سُبْحَانَهُ وَ تَعَالٰی.

س: د آثارو او معانیو په لحاظ سره د صفات الهیه ؤ یو بل سره څه تعلق دی؟

ج: د الله تعالیٰ ټول صفات د کمال دي. او د الله تعالیٰ ټول اسماء حسنی (ښه) دي ځکه چې

[1] الجاثية 45:2.



Scanned with CamScanner

دا اسماء اوصافو ته متضمن دي ، نو د اسماءو او صفاتو په مينځ کې تعلق دا دی چې د اسماءو صفات د معانيو نه دي چې دغه صفات غالبًا ددغه اسماءو نه ماخوذ دي. بيا د الله تعالیٰ اسماء ټول د کمال اوصاف دي او اوصاف د الله تعالیٰ ټول اسماءو نه ماخوذ دي. بيا د الله تعالیٰ اسماء ټول د کمال اوصاف دي او اوصاف د الله تعالیٰ ټول اسماء حسنیٰ دي. دا په نفسِ وقت کې أعلام هم دي او اوصاف هم دي. د الله تعالیٰ وصف د علميت منافي نه دی په خلاف د مخلوق د اوصافو نه چې غالبًا د علميت منافي دي.

نو د الله تعالیٰ د صفاتو په باره کې ممکن دي چې وويلی شي چې دا ټول مترادف دي په دې نسبت سره چې ددوی تعلق د يو ذات پورې دی، په دې شان چې دا ټول وارد کېږي په واحد موصوف باندې، څرنګه چې د هغه د شان سره لائق وي. هر چې په دې نسبت سره چې د اوصافو د يو بل سره تعلق وي، نو کله د معنیٰ په لحاظ يو د بل سره مترادف وي او کله يو د بل سره متقارب وي، لکه: محبت، (رحمت) فرح (خوشحالي) تعجب، ضحك، (خندا) دا يو بل ته متقارب دي. بلکې دا ويلی شو چې په دغو اوصافو کې چې د محبت نه وروسته ذکر وشي دغه اوصاف د محبت اثار دی. او د الله بعضې اوصاف متقابل دي، لکه: رفع، خفض، اعزاز، اذلال، عطاء، منع اوليت اخريت، ظاهريت باطنيت، د بعضې اسماءو اطلاق خو په الله تعالیٰ باندې نه کېږي مکر مقابلةً، لکه: المعطي، المانع، النافع، الضار، المعز، المذل، القابض، الباسط، العفو، المنتقم، د منتقم اطلاق بغير د قيد نه نه کېږي، لکه: ﴿فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ﴾ [1] ﴿إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ﴾ [2] همدارنګه بعضې صفات د معانيو په لحاظ سره متضاد دي، لکه: غضب او سخط په نسبت سره رضا ته، او کراهت په نسبت سره محبت ته.

س: په الأسماء الحسنیٰ باندې د ايمان څو ارکان دي؟

ج: په الأسماء الحسنیٰ باندې د ايمان ارکان درې دي:

① ايمان په اسم، ② ايمان په هغه څه چې دلالت کوي دغه اسم په معنیٰ د هغه. ③ او په هغه څه چې په ده پورې ئې اثار معلق وي، ددې مثال داسې دي، لکه ته چې ايمان راوړې په اسم د رحيم باندې، رحيم اسم شو او الله پاك د رحمت خاوند منل. دا ددغه اسم معنیٰ

[1] الزخرف 41:43.

[2] السجدة 22:32.



Scanned with CamScan

شوه، او الله لره دا منل چې دی رحم کوي په چا چې خوښه ئې شي، دا ددغه اسم اثر دی. نو د هر اسماء حسنٰی د دلالت انواع درې دي:

①دلالت مطابقي کله چې مونږ د اسم معنٰی د اسم په جميع مدلول باندې وکړو. ② دلالت تضمني کله چې مونږ معنٰی د اسم په بعضې مدلول باندې وکړو. ③ دلالت التزامي: کله چې مونږ استدلال وکړو ددغه اسم په نورو اسماء باندې، نو مناسب دي د هغه چا لپاره څوك چې د الله نه سوال کوي چې هغه سوال وکړي په داسې اسم سره چې هغه مقتضی ددغه مطلوب وي، مثلًا: چې څوك مغفرت غواړي، نو يَا غَفَّارُ اغْفِرْلِي دې ووائي. كه څوك رحمت غواړي، نو يَا رَحْمٰنُ ارْحَمْنِي دې ووائي. كه توبه وېستل غواړي يَا تَوَّابُ تُبْ عَلَيَّ دې ووائي.

## د دوو نومونو اتحاد

د دوه اسمونو د اتحاد نه د دوی په مسمٰی کې تماثل نه راځي. ځکه چې الله پاك ځان مسمٰی کړی دی په بعضې هغو اسماءو سره چې په کوم ئې خپل بعضې مخلوق مسمٰی کړی دی. نو ددې نه تشبيه نه لازمېږي، دارنګ الله پاك خپل نفس موصوف کړی دی په هغو صفاتو سره چې په هغو سره ئې خپل بعضې مخلوق هم موصوف کړی دی. نو ددې نه تشبيه نه لازمېږي، لکه چې الله پاك خپل ځان موصوف کړی دی په بعضو صفاتو، لکه سمع، بصر، علم، قدرت، يد، وجه، رضا، غضب، وغيره په دغو اوصافو باندې ئې مخلوق هم موصوف کړی دی، نو مطلب دا شو چې په دې کې د تشبيه، تمثيل او تجسيم شبه نشته، ځکه چې د الله دغه صفات د انسان د صفاتو غوندې نه دي. او نه د مخلوق صفات د الله تعالٰی د صفاتو غوندې دي. دغه صفات د الله دي څرنګ چې د هغه د شان سره مناسب دي. او همدغه صفات د مخلوق دي چې څرنګ د مخلوق سره مناسب وي.

نو د الله صفت د مخلوق غوندې نشو او د مخلقو صفت د الله غوندې نه دي.﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ "د هغهٔ په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی."[1]

الحي: د الله تعالٰی د نومونو نه يو نوم دی، چې کامل حيات لره شامل دی داسې کامل حيات

[1] الشورٰی42:11.



Scanned with CamScanner

چې عدم ترینه نه دی مخکې شوی او نه ورته زوال لاحق کېږي او دا حیات د صفاتو کمال له مستلزم دی علم، قدرت، سمع، بصر، وغیره.
العلیم: دا د الله د اسماءو نه یو اسم دی چې شامل دی هغه کامل علم له چې جهل ترینه نه دی مخکې شوی او نه ورته نسیان لاحق کېږي.
الرحمن: د الله تعالیٰ د نومونو نه یو نوم دی چې شامل دی هغه رحمت کامله ته چې د هغه په حقله رسول اللهﷺ فرمائي: خامخا الله پاك زیات رحم کوونکی دی په خپلو بندګانو باندې ددې ښځې نه چې په خپل بچي باندې رحم کوي.[1]
کله چې یو اسم د بل اسم سره راشي، نو بیا کمال دپاسه کمال شي، مثلًا: العزیز الحکیم. نو هر یو د دغو نه دلالت کوونکی دی په هغه خاص کمال باندې چې هغه له هر یو اسم اقتضاء کوي، مثلًا د عزت اقتضاء عزیز کوي او د حکم او حکمت اقتضاء حکیم کوي او چې جمع شي، نو په یو بل کمال باندې دلالت کوي چې هغه دا چې د الله عزت د هغه د حکمت سره پیوست دی، نو عزت د الله اقتضاء د ظلم او جور او د بد فعل نه کوي.
همدارنګه حکم او حکمت د الله تعالیٰ پیوست دي د عزت سره په خلاف د حکم د مخلوق نه چې هغه کله پیوست شي د ذلت سره، دارنګ نور جوړه نومونه، لکه غني حمید، عفو قدیر، حمید مجید، وغیره شو.
دارنګ که نوم متعدي وي، نو هغه درې شیانو ته متضمن وي: ① ددغه اسم ثبوت. ② د هغه صفت ثبوت چې دغه اسم ورلره متضمن وي. ③ د حکم او د دغه اسم د مقتضا ثبوت، مثلًا: السمیع متعدي دی او د سمیع د نوم اثبات له شامل دی. همدارنګ شامل دی اثبات د صفت د سمع له، همدارنګ شامل دی اثبات د حکم او مقتضا ددې اسم له چې اورېدل دي.
او که نو متعدي نه وي، نو هغه دوه شیانو له متضمن وي: ① د اسم اثبات. ②د صفت اثبات، لکه (الحي) چې متعدي نه دی، نو دا شامل دی اثبات د نوم د (الحي) له همدارنګ شامل دی اثبات د صفت د حیات له.
س: په نفس بشري کې د الله تعالیٰ د اسماء او د صفاتو آثار څه دي؟

[1] صحیح البخاري، حدیث: 5999 ، و صحیح مسلم، حدیث: 2754.



Scanned with CamScanner

ج: بېشکه د اسماء حسنٰی او اوچتو صفتونو بعضې آثار هغه معاني دي چې بنده ئې مومي په خپل قلبي عبوديت کې، داسې معانې چې په زړه کې په الله باندې توکل او اعتماد پيدا کوي او د جوارحو ساتنه او د خطراتو او وسوسو نه د زړه حفاظت پيدا کوي، تردې چې انسان د الله تعالٰی د مرضي نه بغير هېڅ سوچ نه کوي صرف د الله دپاره او د الله په باره کې مبحت کوي د الله په رضا کتل او اوريدل کوي، ددې سره سره په الله پورې ډېر پراخ امېد لرونکی او په خپل رب حسن ظن کوونکی وي او دا رجاء او حسن ظن د الله تعالٰی د معرفت، جود، او کرم او احسان او د نيکۍ د اثراتو نه يو اثر دی. چې الله تعالٰی عفو کوونکی دی، عفو خوښوي. او دارنګ پراخ رحمت والا دی. دا او دې غوندې نورې معانې په بنده کې ظاهر او باطن عبوديت پيدا کوي. د بنده ګانو په مينځ کې د تفاوت په بناء توحيد في الاسماء والصفات او توحيد ربوبيت دا دروازې دي د توحيد الوهيت دپاره، ځکه چې اول هغه څه چې په هغه پورې زړه نښلي هغه د الله ربوبيت او د هغه اسماء او صفات دي، بيا انسان ترقي کوي د الوهيت توحيد ته.

س: د سلفو محدثينو په نيز د ذاتِ الهيه څه مفهوم دی؟

ج: د الله رب العلمين د ذات حقيقت او د هغه کيفيت معامله ده چې هېڅ مخلوق په دې نه پوهېږي ځکه چې دا کيدی نشي چې مخلوق د خالق د حقيقت احاطه وکړي. د علم او ادراك په اعتبار سره نه ذاتًا او نه صفةً، الله پاك فرمائي: ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا﴾ "بندګان احاطه نشي کولی په الله له جهته د علمه" [1] نو مفهوم د ذات الهيه د علماء حديث (اهل حديثو) په نيز دا دی چې ذات د الله تعالٰی کامل دی په کمال مطلق سره، د الله سره په دې کمال کې څوك شريك نشته، د الله ذات مشابه نه دی د ذواتو د مخلوق سره بلکې د الله نه سوا په هغه هيڅوك نه پوهېږي، نو ذات د الله سبحانه و تعالٰی موصوف دی په ټولو هغه کمالاتو چې هغه نه شمېرلی شي او نه ګېرولی شي. دې معنی ته محمد رسول اللهﷺ لار ښودنه کړې ده چې: "لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ" "زه ستا ثنا او تعريف نشم پوره کولی، ته هم هغه سې ئې څرنګ چې تا د خپل ځان صفت کړی دی." [2]

---

[1] طٰهٰ 20:110.

[2] صحيح مسلم، حديث:486 .



Scanned with CamScanner

س: الله پاك په لفظ د ذات سره په قرآن او سنت كې ياد شوى دى؟

ج: د الله تعالىٰ د ذات ذكر په قرآن كريم كې د لفظ د ذات د تصريح نه ډېر دى. الله فرمائي: ﴿ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ﴾ "الله (چې دى) نشته هيڅ لائق د عبادت مګر هم دى دى، همېشه ژوندى دى، (د ټول عالم) انتظام كوونكې دى." ❶ ﴿ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ﴾ "الله (چې دى) نشته دى هيڅ لائق د عبادت مګر هم دى دى ، خاص ددۀ دپاره ترټولو ښكلي نومونه دي." ❷ ﴿ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ﴾ "الله د اسمانونو او ځمكې نور دى." ❸

دارنګ نور ايتونه په قرآن كريم كې بې شمېره دي. په حديث كې لفظ د ذات صراحةً وارد دى، لكه په حديث كې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ، ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللهِ" "ابراهيم عليه السلام دروغ نه دي ويلي، سوا د دريو نه چې (ظاهرًا دروغ ښكاريدل، هغه هم) په دغو كې دوه د الله تعالىٰ د ذات په باره كې وو." ❹

دارنګ حديث د ابو هريره رضي الله عنه دى د خبيب رضي الله عنه د قتل په قصه كې چې هغه په خپله مرثيه كې فرمائي:

وَ لَسْتُ أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا
عَلٰى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلّٰهِ مَصْرَعِي
وَ ذٰلِكَ فِي ذَاتِ الْإِلٰهِ وَ إِنْ يَّشَاءْ
يُبَارِكْ عَلٰى أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ

"زه پرواه نه لرم كله چې په حالت د اسلام كې قتل كړى شم. په كوم اړخ چې د الله دپاره زما غورځيدل وي.

---

❶ البقرة2:255 .
❷ طٰهٰ 20:8 .
❸ النور24:35 .
❹ صحيح البخاري ، حديث: 3358 .



Scanned with CamScanner

دا قتل زما د الله تعالیٰ د ذات دپاره که الله وغواړي. برکت به واچوي په هغه پربکړی شوو، ټکره ټکره کړی شوو جوړونو کې"[1]

## (التنزيه)

الله سبحانه و تعالیٰ پیغمبران راولیږل د الله تعالیٰ د داسې صفاتو د بیان لپاره چې اقتضا کوي د کمال، په اثبات د اسماؤ او صفاتو کې په طریقه د تفصیل سره او نفي د نقص او تمثیل کوي په طریقه د اجمال سره. نو الله سبحانه و تعالیٰ موصوف دی په داسې صفاتو د کمال سره چې د دغه کمال نه زیات کمال نشي کېدی ، د الله تعالیٰ صفت د کمال مثیل کیدی نشي او هر څه چې صفت د نقص دي، نو الله پاك ددغه صفت څخه بالکل منزه او پاك دی. او هر څه چې صفات د کمال د الله دي. په دې کې د الله مثیل څوك نشته بلکې هېڅ شی د اشیاؤ نه د الله کمال ته قریب کېدی هم نشي.

تنزيه په دوه قسمه ده: ① نفي د نقص. ② نفي د مماثلت: یعنِي الله پاك له هر قسم نقص نه پاك او له هر قسم مماثلت نه منزه دی. هر چې مخالفین د رسولانو دي، لکه مشرکان او د هغوی تابعدار جهمیه، فلاسفه، معتزله وغیره د هغوی طریقه نفي مفصله او اثبات مجمل دی، دوی د صفاتو د کمال نفي کوي او د داسې شي اثبات کوي چې د هغه وجود د خیال نه علاوه هېڅ نه وي. ددوی نه اشاعره او ماتریدیة سخت متاثره شوی دي، دوی هم اثبات کوي او نفي مفصل کوي، لکه چې ما تریدیه وائي: الله نه جوهر دی، نه جسم دی، نه عرض دی، نه په حیِّز کې دی او نه په جهت کې دی، نه ورته اشاره کولی شي چې دلته دی یا هلته دی او وربانديې نه صحیح کېږي. حرکت او انتقال او نه جهل او کذب (دروغ) ، نه کل دی، نه جزء دی. صفات ئې نه عینِ ذات دي او نه غیر ذات دي. نه ذي لون دی او نه ذي رائحه دی. نه صورت لري او نه شکل او نه متناهي دی. نه حال دی په شي کې، نه محل د شي دی. نه یو شي سره متحد کېږي او نه ده ته لذت عقلي او حسي عارض کېږي او نه ورته درد او نه هېڅ شی د هغه اشیاؤ نه چې انسانانو ته عارض کېږي. نه مُحدَث دی، نه مخلوق.[2]

نه عرض دی، نه جسم دی، نه جوهر. نه مُصَوَّر دی، نه محدود دی، نه معدود ، نه متبعض

[1] صحیح البخاري، حدیث:3045.

[2] المعتقد المنتقد، ص: 69 .



Scanned with CamScan

دی، نه متحيز او نه مترکب دی او نه متناهي او موصوف دی په ماهيت او نه په کيفيت، نه متمکن دی په مکان او نه ورباندې زمانه جاري کېږي. ده لره صفات ازليه ثابت دي او قائم دي د ده د ذات پورې خو دا صفات نه عينِ ذات دي نه غير ذات دي.[1]

دغه الفاظ ملا علي قاري په شرح فقه اکبر کې ذکر کړي دي او دا الفاظ ئې ورسره زيات کړي دي چې دا موصوف کولی نشي په کيفيت سره د لون او خوند او د بوئي او د ګرمي او يخني او وچوب سره ، د دې نه علاوه هغه اوصاف چې جاري کېږي په اجسامو پورې او نه متمکن دی په يو مکان پورې، نه بره دی نه ښکته او نه غير ده دغه دو جهتونه، نه حال دی يو محل پورې او نه محل د يو شي دی، دارنګ نور الفاظ چې د دوی وجود خيالي دی. تَعَالَى اللهُ عَنْ ذٰلِكَ عُلُوًّا كَبِيرًا.

## محض نفي

س: په محض نفي کې څه کمال دی؟

ج: کوم صفت چې الله پاك د خپل ځان نه، يا رسول اللهﷺ د الله تعالیٰ نه نفي کړی دی د هغې نفي نه مراد ثبوت د کمال دی په ضد د هغې کې، نه مجرد نفي، او چې مجرد نفي څه کمال راشي. بله دا چې کله نفي د محل د ناقابليت د وجې نه وي، لکه چې وائي ديوال ظلم نه کوي او کله نفي د عجز د وجې نه وي. دغه وجه ده چې الله پاك څومره صفات سلبيه چې ذکر کړي دي په هغو کې اثبات د کمال د ضد د هغو کوي، سره ددې نه چې صفات سلبيه ئې ډېر نه دي ذکر کړي او چې ذکر کوي ئې، نو هم ئې په څه خاص حالت کې ذکر کوي چې دغه خاص حالتونه عمومًا درې دي:

① چې مراد ترينه بيان د عموم د کمال وي، لکه ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾.[2]

② کومه غلطه دعوٰی چې د الله په باره کې کذابينو کړې وي د هغې نفي مراد وي، لکه:

---

[1] شرح العقيدة النسفية، ص: 14-49.

[2] الشورٰی 42:11.



Scanned with CamScan

﴿وَمَا يَنۢبَغِىْ لِلرَّحْمٰنِ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا۝﴾ "او رحمٰن ته نهٔ ښائي چې اولاد ونیسي."[1]

③ د يو معين امر په باره کې چې توهم د نقص د کمال کېدی شي د هغه دفع مراد وي، لکه: ﴿وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ۝﴾ "او مونږ اسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې ددواړو په مینځ کې دي ؛ نهٔ دي پيدا کړي ، په داسې حال کې چې عبث او لوبې کوونکي يو." [2] ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ۝﴾ "او يقينًا يقينًا مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې ددواړو په مینځ کې دي ، په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي ، او مونږ ته هيڅ ستوماني نهٔ ده رارسېدلې." [3]

کله چې دا معلومه شوه چې الله پاك د سلبي صفات ذکر په خاصو حالاتو کې کوي، نو دا ياد ساتل پکار دي چې نفي محض نه مدح ده او نه کمال. تر څو چې اثبات ته شامل نه وي، پس هر هغه څه چې الله پاك د خپل ذات نه نفي کړي دي، يا رسول اللهﷺ د الله پاك د ذات نه نفي کړي دي په مخلوق کې د چا سره د مشارکت د وجې نه، نو دا نفي دلالت کوي د هغو په ضد کې په اقسامو د کمال باندې، لکه چې الله او رسول اللهﷺ نفي کړې ده د شريك، ند او نظير نه دپاره د اثبات د کمالِ عظمت د الله او نفي ئې کړې ده د ښځې او اولاد او مدد گار نه، دا نفي شامل ده کمال د ربوبيت، قهر او غلبې ته او د الله تعالیٰ نه ئې عجز نفي کړی دی، دا دلالت کوي په کمال د قدرت د الله باندې او نفي ئې کړې ده د جهل، نسيان او د علم د الله نه د يو شي د پټيدلو نه، دا دلالت کوي په کمال د علم او احاطه د الله باندې. الله او رسول ا للهﷺ د الله نه د ظلم نفي کړې ده دا دلالت کوي په اثبات د کمال عدل د الله باندې. الله او رسول اللهﷺ د الله نه پرکالي او خوب نفي کړ ی دی. دا دلالت کوي په اثبات د کمالِ حيات او کمالِ قيوميت د الله باندې. الله او رسول اللهﷺ د الله نه نفي د عبث او د خلقو د بيکاره پيدا کولو کړې ده، دا دلالت کوي په کمال او حکمتِ تامَّه د الله تعالیٰ باندې، الله تعالیٰ او رسول اللهﷺ د الله تعالیٰ نه نفي د مثل کړې ده، دا دلالت کوي په کمال د ذات د الله تعالیٰ باندې.

[1] مريم 92:19.
[2] الدخان38:44 .
[3] ق 38:50 .



Scanned with CamScanner

س: د صفاتو په اثبات کې کوم دوه لوی مصبيتونه دي؟
ج: په اثبات د صفاتو کې د دوه لويو مصيبتونو نه ځان ساتل ضروري دي: ① تمثيل. ② تکييف.
تمثيل: دا دی چې د صفاتو ثابتونکی دا عقيده وساتي چې ګڼي د الله تعالیٰ صفات د مخلوق د صفاتو غوندې دي.
تکييف: دا دی چې د صفتونو ثابتونکی دا عقيده وساتي چې ګڼي د الله تعالیٰ صفات داسې دي بغير د مقيد کولو نه په مماثل پورې، نو دا عقيده قطعًا باطله ده.
دريم مصيبت چې ددغه دواړو نه زيات دی هغه د تعطيل مصيبت دی: تعطيل د الله د صفتونو نه د تشبيه يا تمثيل يا تجسيم په بهانه انکار کولو ته وائي، برابره خبره ده چې دا تعطيل عام په اسماءو او صفاتو دواړو کې وي يا خاص وي فقط يو د دواړو کې ، نو معطله فرقې نصوص د خپل اصل معنی نه داسې معانيو ته واړول چې هغه هغوی په خپلو عقولو سره معين کړي دي، نو دا ياد لرئ چې هر مُعَطِّل مُمَثِّل دی او هر مُمَثِّل مُعَطِّلْ دي. د مُعَطِّلْ تعطيل خو معلوم دی خو ممثل ځکه شو چې ده دا تعطيل ددې وجې وکړو چې دده خيال دی چې د صفاتو په اثبات کې د الله تعالیٰ د صفاتو د مخلوق د صفاتو سره مماثلت راځي، نو ده اول د الله تعالیٰ د صفاتو مماثلت وکړو، بيا ئې انکار وکړو. نو دې مُعَطل او مُمثل دواړه شو.
او د ممثل تمثيل خو معلوم دی مګر د ممثل معطل والی په دريو وجوهو سره دی:
① دې مُمثل نفس هغه نصوص مُعَطَّل کړل چې په هغه سره صفت ثابتيږي په دې طريقه چې ده نص لره په تمثيل باندې دلالت کوونکی وګرځولو، سره ددې نه چې په دغه نص کې په تمثيل هيڅ دلالت نشته، ځکه چې دا نص په يو صفت باندې دلالت کوي څرنګ چې د الله جل جلاله د عظمت سره لايق او مناسب وي.
② دې ممثل مُعَطَّل کړو تمام هغه نصوص چې په هغه کې د مخلوق سره د مماثلت نفي وه.
③ ده الله لره مُعَطَّل کړو د هغه د صفت کمال نه چې د هغه د شانه سره منايب و په دې طريقه چې ده د ناقص مخلوق سره تمثيل وکړو.
س: د معيت او قرب د صفت نه مطلب څه دی؟
ج: په قرآن کريم کې بعضې داسې ايتونه دي چې هغه دلالت کوي په دې خبره چې الله پاك



Scanned with CamScan

خپل بنده ته قريب دی او ورسره معيت لري او داسې ايتونه هم شته چې الله پاك په عرش باندې مستوي دی او د ټولو مخلوقاتو نه دپاسه دی. كله چې په دغو ايتونو كې سوچ او تدبر وكړی شي، نو معلومېږي چې معيت او قرب په دوه قسمه دی:

① معيت عامه چې حكم ئې ټول مخلوق لره ثابت دی، يعنې الله تعالىٰ په اعتبار د علم، قدرت، احاطې او احصاء سره د ټول مخلوق سره دی، الله پاك پوهېږي په هغه حالاتو په كوم كې چې مخلوق دی. د الله تعالىٰ نه هېڅ پټيدونكې نه پټيږي كه هغه شی په اسمان كې وي او كه په ځمكه كې وي، لكه چې الله پاك وائي: ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ﴾ "او دغه (الله د خپل شان لائق) لهٔ تاسو سره دی ، هر چېرې چې تاسو يئ." [1]

② معيت خاصه: دا قسم خاص دی د الله د نېكو بندګانو سره چې هغوی ئې په تقوٰی، احسان، صبر او ټولو نېكو اخلاقو سره خاص كړي دي، الله پاك فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّ الَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ۝﴾ "بېشكه الله د هغو كسانو ملګری دی چې پرهېزګاري كوي او د هغو كسانو چې هغوی نېكي كوونكي دي." [2] ﴿اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ﴾ "يقينًا الله د صبر كوونكو ملګری دی." [3]

د معيت د دواړو اقسامو سره د ذات مخالطت او ممازجت، ګډون او مماسات مستلزم نه دی، په دغه معنیٰ باندې نه شرع دلالت كوي او نه لغت بلكې كله چې د مع اضافت الله ته وشي، نو ګډون او مخالطت لره منع كوي، ځكه چې لفظ د "مع" لغةً په مطلق مصاحبت (ملګرتوب) او مقارنت باندې دلالت كوي او دا مقارنت او مصاحبت عام دی بالذات وي او كه په بلې معنی سره وي. مګر سياق د كلام او هغه قرائن چې مقام لره محيط وي. هغه ددغه مصاحبت او مقارنت تعين كوي. الله پاك او رسول اللهﷺ د معيت ذكر كړی دی، نو مونږ باندې لازم دي چې په دې باندې ايمان راوړو چې معيت د الله سبحانه و تعالىٰ همدغه معيت د علم او اطلاع او د احاطې دي كه معيت عامه وي او د حفظ او نصرت او تائيد دی كه معيت خاصه وي، ځكه چې د سورة حديد په ايت كې الله پاك خبر وركوي چې الله پاك

[1] الحديد4:57 .
[2] النحل 128:16.
[3] البقرة 153:2 .



Scanned with CamScanner

په تفصيل سره خبردار دی په ټول هغه څه چې په عالم علوي کې او عالم سفلي کې جاري کېږي او د الله پاك د خپلو بندګانو سره د علم په اعتبار سره دی چې چرته دوی وي، ځکه چې دی د دوی په ټولو اعمالو باندې خبردار دی. نو ذکر د علم واضحه قرینه ده چې مراد د معیت نه معیت د علم او د احاطې دی. او په سورة مجادله کې خو قرینه ددې نه هم قوي او واضحه ده چې مراد د معیت نه معیت د علم او احاطې دی، ځکه چې د ایت ابتداء او اختتام هم په علم سره دی، نو معیت د الله تعالی صفت دی، لکه چې فرمائي: ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾ "او دغه (الله د خپل شان لائق) لهٔ تاسو سره دی، هر چېرې چې تاسو یئ او الله هغو کارونو لره چې تاسو ئې کوئ ، ښه لیدونکی دی." ❶

﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾ "غم مهٔ کوه ، بېشکه الله زمونږ سره دی." ❷

① معیت عامه: ددې مقتضٰی علم، احاطه او اطلاع ده.

② معیت خاصه: ددې مقتضی حفظ، نصرت، تائید او توفیق دی. اولنی ایت د معیت عامه مثال دی، یعني الله تعالٰی د تاسو سره دی د نګاهبانۍ په لحاظ سره چرته چې تاسو یئ په وچه کې یئ که په لونده کې، د شپې یئ که د ورځې، په کورونو کې یئ که په بیابانونو کې، په هر ځای کې الله ته برابر دی چې تاسو د الله د نظر لاندې د هغه په سمع کې یئ، ستاسو اعمالویني او ستاسو اقوال اوري. او دویم او دریم ایت د معیت خاصه مثال دی چې الله فرمائي چې زه د تاسو سره یم بخپل خاص تائید، حفظ او نصرت سره. ❸

س: د معیت خاصه او معیت عامه تر مینځ څه فرق دی؟

ج: څرنګه چې ما مخکې عرض وکړو چې د معیت عامه او خاصه تر مینځ فرق دا دی چې د معیت عامه اقتضاء په ټول مخلوق باندې علم، احاطه او اطلاع ده، او دا معیت عامه د الله تعالٰی د صفات ذاتیه ؤ نه دی او معیت خاصه د الله تعالٰی د صفات فعلیه ؤ نه دی. او معیت عامه په سیاق د تخویف او مُحَاسَبه عَلَى الْأَعْمَال کې وي، او د معیت خاصه د مقتضاؤ نه حفظ،، نصرت، توفیق او حمایت دی د هلاکتونو او مهالکو نه او خاص لفظ وي په خپلو

❶ الحدید 57:4 .

❷ التوبة9:40 . ❸ د معیت په باره کې ښخې سپینه او بې اشکاله خبره دا ده چې مونږ ووایو: الله زمونږ سره دی څرنګه چې د هغه د شان سره لائق وي (عبد الولي)



Scanned with CamScan

پیغمبرانو، رسولانو او اولیاؤ باندې او د معیت خاصه په دې مرتبې سره هغه څوك متصف کېږي چې جمیله اوصافت او حمیده اخلاق لري.

د معیت ظاهرًا حقیقت دا دی چې د الله تعالٰی د خپل مخلوق سره معیت اقتضاء کوي ددې خبرې چې الله تعالٰی محیط وي په دوی باندې د علم، قدرت، سمع، بصر، تدبیر او سلطان په لحاظ سره. د الله تعالٰی په عرش باندې، د الله د علو سره، او سره د فوقیت د الله تعالٰی نه په خپل ټول مخلوق باندې. په نورو الفاظو کې الله تعالٰی لره معیت حقیقي دی څرنګ چې د هغه د جلال او عظمت سره مناسب وي او دا معیت اقتضاء کوي احاطه د الله تعالٰی هر شي لره د علم، قدرت، سمع، بصر، سلطان او تدبیر په لحاظ سره او الله تعالٰی ددې نه منزه دی چې د مخلوق سره مختلط شي، یا ددوی په اماکنوکې حل شي، ځکه چې معیت په عربي ژبه کې چې د قرآن ژبه ده، په مکان کې اختلاط او مصاحبت لره مستلزم نه دی، لهٰذا الله تعالٰی د ذات او صفاتو په اعتبار سره اوچت دی، او دا علو "اوچت والی" د الله تعالٰی د صفات ذاتیه ؤ نه دی، دده نه نه جدا کېږي او الله په عرش باندې مستوي دی څرنګ چې دده د جلال سره لایق دي او دا په عرش باندې دی مستوي کېدل دده د معیت سره منافي نه دي، ځکه چې ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾ "د هغهٔ په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی."[1]

کله چې مونږ د معیت او قرب په مسئله کې په دې ایتونو کې سوچ او فکر کوو، نو مونږ هغه څه ددغو نورو ایتونو او حدیثونو نه فهم کولی شو چې مونږ ددې ایتونو نه فهم کړل، ځکه چې هغه قرینه چې په دې ایتونو کې ذکر ده په هغو نورو ایتونو او احادیثو کې هم جاري کېږي چې د قرائنو نه خالي دي. دا ځکه چې د قرب او معیت په دغه معنې باندې د سلفو اجماع ده. ابن عبد البر په التمهید (139/7) کې وائي: "لِأَنَّ عُلَمَاءَ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ الَّذِينَ حُمِلَ عَنْهُمُ التَّاوِيلُ، قَالُوا فِي تَاوِيلِ هٰذِهِ الْآيَةِ: هُوَ عَلَى الْعَرْشِ، وَ عِلْمُهُ فِي كُلِّ مَكَانٍ وَ مَا خَالَفُهُمْ فِي ذٰلِكَ أَحَدٌ يُحْتَجُّ بِقَوْلِهِ" "د صحابو او تابعینو هغه علماء چې د هغوی نه د نصوصو معاني اخستې شي هغوی ددې ایت معنٰی کړې ده: الله پاك

[1] الشورٰی 11:42.



Scanned with CamScan

په عرش باندې دی. او علم ئې په هر ځای کې دی او ددوی مخالفت په دې معنٰی کې هېڅ یو داسې کس نه دی کړی چې د هغه قول ته څه اعتبار ورکړی کېږي." [1]

اية ﴿وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ﴾ "او مونږ دهٔ ته (ددهٔ) د ورمېږ د رګ نه زیات نژدې یو" [2]

امام ابن القیم فرمائي: ددې ایت یو معامله ده او هغه دا چې سلفو په دې کې اختلاف کړی دی، بعضې وائي چې مراد په دې ایت کې قرب بالعلم والقدرة والإحاطة دی. په دې توجیه سره معنٰی دا شوه چې قرب د الله تعالٰی بنفسه همدغه دده د قدرت نفوذ او دده مشیت او په هغه سره د ده د علم احاطه ده. حالانکه په دواړو ایتونو کې د عمل مباشرت ملائکو کړی دی.

دا قول د اول نه په څو وجوهو سره ارجح (زیات راجح) او اصح (زیات صحیح) دی. ①په دې ایت کې قرب مقید شوی په: ﴿اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ﴾ [3] ظرف پورې او عامل په ظرف کې ﴿نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ﴾ [4] دی. نو د الله قرب مقید نه دی په وخت د' تلقی د ملائکو پورې، لهٰذا ددې قید په ذکر کولو بیا څه فائده نه مرتب کېږي، ځکه چې علم او قدرت د الله تعالٰی عام دی. ② ایت د الله تعالٰی علم او د ملائکو کتابت لره متضمن دی، دپاره د عبد د عمل، دا مثال د هغه ایت دی، لکه چې الله تعالٰی فرمائي: ﴿اَمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَ نَجْوٰىهُمْ ؕ بَلٰى وَ رُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ﴾ "ایا دوی دا ګمان کوي چې بېشکه مونږ ددوی پټې خبرې او پټې مشورې نهٔ اورو، ولې نهٔ! او زمونږ رسولان لیکل کوي ددوی ترڅنګه" [5] ③ بېشکه د الله تعالٰی قرب خاص وارد دی، عام نه دی وارد، او دا په دوه قسمه دی: د الله قرب دعا کونکي ته په اجابت سره، او د الله قرب مطیع ته په انابت سره، او قرب داسې نه دی راغلی لکه څنګه چې معیت راغلی دی خاص او عام. په قرآن او سنت کې داسې

---

1. خو ابن عبدالبر رحمه الله په صحیح سند سره د هېڅ یو صحابي نوم نه دی پېش کړی. (عبد الولي)
2. قٓ 50:16.
3. قٓ 50:17.
4. قٓ 50:16.
5. الزخرف 43:80.



Scanned with CamScan

چرته نشته چې الله هر چا ته قريب دی. يعنې کافر، فاسق او فاجر ته هم قريب دی. په قرآن او سنت کې قربِ خاصه راغلی دی فقط، لکه چې الله پاك فرمائي: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ﴾ "او کله چې زما په باره کې لهٔ تانه زما بندګان تپوس وکړي، نو يقينًا زهٔ قريب يم." ❶ چې دا قرب داعي ته او د الله نه سوال کوونکي ته دی، الله پاك فرمائي: ﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ "بېشکه د الله رحمت نېکي کوونکو ته ډېر نژدې دی." ❷ کله چې رحمت يو صفت دی د الله د صفاتو نه او د الله تعالٰی د صفاتو قائم دي د الله تعالٰی د ذات پورې. کله چې رحمت د الله محسنينو ته قريب شو، نو الله پاك خو قطعي طور باندې قريب شو، ددې وضاحت داسې دی چې احسان اقتضاء کوي د قرب د بنده د خپل رب سره، نو الله پاك بنده ته قريب کېږي په خپل احسان سره، ځکه چې په حديث شريف کې راځي، حديث قدسي دی، چې الله پاك فرمائي: "څوك چې ماته يوه لويشت نزدې شي، نو زه ورته يو لاس نزدې کېږم، او که څوك راته يو لاس نزدې شي، نو زه ورته يو باع (دواړه خواره لاسونه) نزدې کېږم. ❸ نو الله پاك محسنينو ته په احسان او رحمت سره قريب دی په داسې قرب سره چې هغه لره نظير او مثيل نشته او الله پاك ددې قرب سره سره اوو اسمانونو دپاسه دی په خپل عرش باندې، لکه چې الله پاك خپلو بندګانو ته نزدې کېږي په اخر د شپې کې، او دی دپاسه د عرش وي، او نزدې کېږي مازيګري د عرفې کې په عرفات باندې ودريدونکو ته، حالانکه هغه د عرش دپاسه وي.

مقصد دا چې علو د الله تعالٰی د ذات سره لازمه ده، دده دپاسه قطعًا هېڅ شی نشي کېدی، لکه چې رسول اللهﷺ فرمائي: "أَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ" "ته ظاهر (غالب او بره) ئې ستا دپاسه هېڅ شی نشته." ❹

نو الله پاك اوچت دی سره د قرب او قريب دی سره د علو.

❶ البقرة2:186 .
❷ الأعراف 7:56.
❸ صحيح البخاري، حديث:7537 .
❹ صحيح مسلم، حديث: 2713.



Scanned with CamScanner

## د دغه اجمال د وضاحت دپاره د څو صفاتو بيان

س: توحيد في الأسماء والصفات څه ته وائي؟

ج: توحيد في الأسماء والصفات دې ته وائي چې مونږ په الله باندې بل هېڅ نوم نه ږدو مګر هغه چې الله پاك په خپل كتاب كې يا رسول اللهﷺ په خپلو سنتو كې د هغه نوم ايښې دى. او د الله هېڅ صفت بيان نه كړو مګر هغه صفت چې الله پاك په خپل كتاب كې ذكر كړى وي، يا رسول اللهﷺ د الله دپاره ذكر كړى وي. او دا د الله صفات په داسې طريقې سره منل توحيد دى چې د هغه صفاتو څه كيفيت بيان نشي او نه د هغه مثال بيان شي او نه د هغه تأويل وكړى شي، او نه معطل پرېښودلى شي، او نه د الله مثال په مخلوق سره وركړى شي، او نه د مخلوق مثال د الله سره وركړى شي. او نه د مخلوق سره مشابه كړى شي او نه ورله جسم ثابت كړى شي، الله تعالى فرمائي:﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾ "د هغهٔ په مثل هېڅ شى نشته او هم دغه ښه اورېدونكى ، ښه ليدونكى دى." [1] ﴿فَلَا تَضْرِبُوا۟ لِلَّهِ ٱلْأَمْثَالَ﴾ "نو تاسو د الله دپاره مثالونه مهٔ بيانوئ." [2] ﴿وَلِلَّهِ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ﴾ "او خاص د الله دپاره ترټولو لوړ مثال دى." [3]

ښېشكه مونږ الله لره هغه اسم او صفت ثابتوو چې په قرآن او سنت كې د هغه ذكر وي، څرنګ چې د هغه له جلال او عظمت سره لائق او مناسب وي، او مونږ ايماان راوړو په دغو اسماءو او صفاتو باندې څرنګ چې د هغه له شان سره لائق وي.

د قرآن او سنت د تتبع او تحقيق نه معلومه ده چې د لفظ "خدا" او خداى په قرآن او سنت كې د الله په نومونو كې نشته.

س: بعضې خلق وائي چې مونږ د الله په اسماءو او صفاتو باندې ايمان لرو، تېول هغه صفات او اسماء چې الله پاك يا رسول اللهﷺ د الله تعالى دپاره ذكر كړي دي؛ منو خو ددې بيانولو ته څه ضرورت دى؟

---

1. الشورى42:11 .
2. النحل16:74.
3. النحل16:60 .



Scanned with CamScanner

ج: صرف په منلو او ايمان راوړلو باندې کار نه کېږي بلکې بيانول ئې ضروري دي، ځکه چې ايمان په اسماءو او صفاتو باندې دا اصل ايمان دی، او معرفت د الله په کاملې طريقې سره نه پوره کېږي، مګر د الله د اسماء او صفاتو او افعالو په پېژندلو سره پوره کېږي، ځکه چې الله تعالیٰ په دغو اسماء او صفاتو سره خپل تعارف خپلو بندګانو ته کړی دی. تر څو چې يو بنده الله تعالیٰ د هغه په اسماءو او صفاتو او افعالو سره نه وي پېژندلی، نو هغه د الله توحيد ربوبيت او توحيد الوهيت نشي پېژندلی، او نه پرې عمل کولی شي، ځکه چې د انسان په زړه او دماغ کې د الله عظمت او جلال او د الله نه خوف او رجاء هله پيدا کېږي چې انسان د الله اسماء حسنیٰ او صفات عُليَا او افعال وپېژني.

س: د الله اسماء او صفات چې دومره اهم دي، نو د الله تعالیٰ يو څو اسماء او صفات د نمونې په طور ښودلی شئ؟

ج: ولې نه، د الله تعالیٰ ډېر زيات اسماء او صفات دي چې په هغو کې بعضې دا دي:

① علو: د الله تعالیٰ په صفاتو کې علو (اوچتوالی) يو داسې صفت دی چې په قرآن او سنت، عقل سليم، انساني فطرت او اجماع سره ثابت دی.

## قرآني دلائل

① ﴿ اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ○﴾ "رحمٰن په عرش باندې برقراره شو" [1]

دا الفاظ الله تعالیٰ په خپل کتاب کې د مسئلې د اهميت د وجې د سورة "طه" نه علاوه په شپږو نورو سورتونو کې هم ذکر کړي دي، مثلاً: أعراف 54:7، يونس 3:10، الرعد 2:11، الفرقان 59:25، السجده 4:32، الحديد 4:57. بيا ئې اکتفاء صرف په (استوى على العرش) باندې نه ده کړې بلکې الفاظ د فوق او رفع او صعود او سماء او عروج ئې صراحةً ذکر کړي دي چې هر يو د الله تعالیٰ په علو باندې صراحةً دلالت کوي څرنګ چې د هغه د شان سره مناسب وي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ﴾"او هم دی غالب دی، د خپلو بندګانو دپاسه دی." [2]

[1] طٰهٰ 5:20.
[2] الأنعام 18:6، 61.

② ﴿يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَ يَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ○﴾ "دوی د خپل رب څخه ويريږي چې د دوی دپاسه دی او دوی کوي هغه څه چې دوی ته حکم کاوۀ شي ." ❶

③ ﴿اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ﴾ "همدغه (الله) ته پاکيزه خبرې پورته خېژي او نېک عمل دغه (کلمات) پورته کوي." ❷

④ ﴿يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ﴾ "هغه د کار تدبير کوي د اسمان نه ځمکې ته (د قيامت د ورځې پورې) ، بيا به دۀ ته دغه (کار) په هغې ورځ کې خېژي." ❸

⑤ ﴿ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ ○﴾ "ايا تاسو په امن (او بې ويرې) شوي يئ د هغه ذات نه چې په اسمان کې دی ، لۀ دې نه چې هغه تاسو په ځمکه کې ښکته ننباسي ، بيا دغه (ځمکه) ناڅاپه لړزان شروع کړي." ❹

⑥ ﴿اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ؕ فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ○﴾ "ايا تاسو د هغه ذات ، نه چې په اسمان کې دی په امن (او بې ويرې) شوي يئ ، لۀ دې نه چې په تاسو باندې د کاڼو باران راخوشې کړي، نو چې تاسو به ژر پوه شئ چې زما ويرول څنګه دي ." ❺

⑦ ﴿مِنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ○ تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَ الرُّوْحُ اِلَيْهِ﴾ "د الله لۀ جانبه دی، چې د اوچتو زينومالک دی. چې ددۀ په طرف پورته ملائک او روح ورخېژي." ❻

① د رسول الله ﷺ قول، فعل او تقرير نه ثابت دي، حتي چې حد د تواتر حد ته رسي چې رسول الله ﷺ به په سجده کې فرمايل: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى" "پاکې ده زما رب لره چې ډېر زيات اوچت دی." ❼

② "إِنَّ اللهَ لَـمَّا قَضَى الْخَلْقَ كَتَبَ عِنْدَهُ فَوْقَ عَرْشِهِ: إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي" "الله

❶ النحل 50:16 .
❷ الفاطر 10:35 .
❸ السجدة 5:32 .
❹ الملك 16:67 .
❺ الملك 17:67 .
❻ المعارج 4,3:70 .
❼ صحيح مسلم، حديث:772.



Scanned with CamScanner

چې کله پیدا مخلوق کړ، نو وئې لیکل د ځان سره د خپل عرش دپاسه چې بېشکه زما رحمت زما په غضب سبقت (وړاندې والی) کړی دی." ❶

③ ابوسعید خدري رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "أَلَا تَأْمَنُونِي وَ أَنَا أَمِينُ مَنْ فِي السَّمَآءِ" "تاسو ما امین نه ګڼئ، حالانکه زه امین د هغه ذات یم چې بره دی." ❷

④ معاويه بن الحكم السلمي رضي الله عنه وائي چې رسول الله ﷺ یوې وینځې ته وویل: "أَيْنَ اللهُ؟" الله چېرته دی؟، هغې وویل: په اسمان کې دی، بیا ئې ترې پوښتنه وکړه: "مَنْ أَنَا؟" زه څوك یم؟ هغې وویل: ته رسول الله (ﷺ) ئې، نو رسول الله ﷺ ئې مالك ته وفرمایل: "أَعْتِقْهَا، فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ" "ازاده ئې کړه، ځکه چې دا مؤمنه ده." ❸

## عقل سلیم

عقلِ سلیم د الله تعالیٰ دپاره د صفتِ کمال په ثبوت باندې او د نقص نه د الله تعالیٰ په تنزیه باندې دلالت کوي او علو او اوچت والی کمال دی او ټیټ والی نقص دی، د الله دپاره صفت د علو او تنزیه د ضد د هغه نه واجب شو. انساني فطرت هم دلالت کوي په علود الله باندې، ځکه چې کله څوك د اضطرار او مصیبت او وېرې په حالت کې دعا کوي، نو د زړه توجه ئې په فطري طور باندې بره اسمان طرف ته وي.

د یو لمونځ ګذار نه چې صرف د لمونځ په معنیٰ پوهېږي، هغه چې کله سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى ووائي، نو د هغه زړه اسمان طرف ته متوجه وي، نو د الله په علو باندې فطرت هم دلالت کوي.

## د امت اجماع

د ټولو صحابه ؤ، تابعینو رحمهم الله او د مذهب د امامانو په دې خبره اجماع ده چې الله تعالیٰ د اسمانونو دپاسه په عرش باندې مستوي دی، څرنګ استوٰی چې د هغه د شانه سره مناسبه وي. د صحابه و، تابعینو او ائمه ؤ کلام په دې باره کې مشهور، ظاهر او صریح دی، امام

❶ صحيح البخاري، حديث:7422، و صحيح مسلم، حديث: 2751.

❷ صحيح البخاري، حديث:4351.

❸ صحيح مسلم، حديث:537 .



Scanned with CamScanner

اوزاعي فرمائي: ① "كُنَّا وَالتَّابِعُونَ مُتَوَافِرُونَ نَقُولُ: إِنَّ اللهَ تَعَالٰى ذِكْرُهُ فَوْقَ عَرْشِهِ نُؤْمِنُ بِمَا جَاءَتْ بِهِ السُّنَّةُ مِنَ الصِّفَاتِ" "مونږ به د تابعينو په زمانه کې چې هغوی لا ښه ډېر وو، دا ويل: بېشکه الله تعالٰی د خپل عرش دپاسه دی. مونږ په هغو صفاتو ايمان لرو چې په حديثو کې راغلي وي." [1]

د علو په صفت باندې ډېرو علماءو اجماع نقل کړې ده، چې امت په دې خبره متفق او مجمع دی او د قرآن او سنت دلائل عظيمه په دې باندې داسې دلالت کوي چې هيڅوک ترينه انکار نشي کولی، سوا د هغه چا نه چې هغه مکابر وي يا الله تعالٰی د هغه زړه او عقل مسخ کړی وي او دده فطرت شيطان خراب کړی وي، نو علو د الله تعالٰی په خپل ذات سره او صفاتو سره د ټولو شيانو نه ډېره ظاهره ده د دليل په لحاظ سره او د واقع په لحاظ سره د ټولو شيانو نه زياته او اثبت ده.

## د الله تعالٰی علو او زمونږ مدارس

زمونږ په مدرسو کې (حنفي مدرسو کې) چې کوم کتابونه لوستلی کېږي په هغو کې د الله تعالٰی د علو نه انکار دی، لکه چې:

①علامه تفتا زاني وائي: "وَاحْتَجَّ الْـمُخَالِفُ بِالنُّصُوصِ الظَّاهِرَةِ فِي الْجِهَةِ .... وَاللهُ تَعَالٰى لَيْسَ حَالًّا وَ لَا مَحَلًّا لِلْعَالَمِ فَيَكُونُ مُبَايِنًا لِلْعَالَمِ فِي جِهَةٍ فَيَتَحَيَّزُ" (شرح العقيدة النسفية) "مخالف د جهت په اثبات کې په ظاهر نصوصو باندې دليل نيولی دی، حالانکه الله پاك نه په يو محل حال دی. او نه د عالم دپاره محل دی که نه يو شي به جدا د عالم نه په يو جهت کې، نو بيا به په حيز (طرف) کې شي."

② دارنګ ملا علی قاري وائي: "وَ لَا مُتَمَكِّنٌ فِي مَكَانٍ لَا عُلُوَّ وَ لَا سِفْلَ وَ لَا غَيْرَهُمَا." "په يو مکان کې متمکن نه دی، نه بره، نه ښکته، نه غير د دينه. مقصد د علو نفي ده." [2]

③ همدارنګه محقق دواني په الدواني علی العقائد العضيديه:67 مصنف عضديه ددې قول

[1] أخرجه البيهقي في الاسماء والصفات، ص: 408، والذهبي في العلو و ابن تيمية في الحموية و صححه الألباني في مختصر العلو، ص:138.

[2] شرح فقه اکبر، ص:57 .



Scanned with CamScanner

چې ''وَ لَا فِي حِيَزٍ وَّ جِهَةٍ'' ''نه په يو طرف کې دی او نه په جهت کې'' په شرح کې وائي چې: ''وَ أَكْثَرُ الْـمُجَسِّمَةِ هُمُ الظَّاهِرِيُّونَ الْـمُتَّبِعُونَ لِظَاهِرِ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ أَكْثَرُهُمْ الْـمُحَدِّثُونَ وَ لِابْنِ تَيْمِيَةَ أَبِي الْعَبَّاسِ مَجْدٍ وَ أَصْحَابِهِ مَيْلٌ عَظِيمٌ إِلَى إِثْبَاتِ الْجِهَةِ'' ''او اکثر مجسمه همدغه ظاهريان متبع د ظاهر قرآن او سنت دي او اکثره د دوی نه محدثين دي او د مجد ابن تيميه ابو العباس او د هغه ملګرو ډېر لوی ميلان دی اثبات د جهت د (علو) ته.''

او قصيده بدء الامالي، ص: 3 کې شيخ الاسلام ابو الحسن على بن عثمان محمد الدوسي وائي:

نُسَمِّي اللهَ شَيْئًا لَا كَالْأَشْيَاءِ

ذَاتًا عَنْ جِهَاتِ السِّتِّ خَالٍ

''مونږ مسمی کوو الله لره په شي سره، نه د نورو شيانو غوندې. دارنګ ذات ورته وايو خو د شپږو وارو جهتونو نه خالي دی.''

همدارنګه برکاتي په المعتقد المنتقد کې وائي: ''فَلَيْسَ سُبْحَانَهُ بِذِي لَوْنٍ ... وَ كَذٰلِكَ الْجِهَةُ إِذْ مَعْنَى الْاخْتِصَاصِ بِالْجِهَةِ اخْتِصَاصُهُ بِحَيِّزٍ مُعَيَّنٍ'' ''الله سبحانه و تعالٰی رنګ والا نه دی دارنګ په يو جهت کې هم نه دی، ځکه چې معنٰی د خاص والي په يو جهت پوري دا ده چې دی مختص شي په يو معين طرف پورې.'' [1]

حالانکه د کتاب او سنت نه د الله علو ثابت ده. الله پاك خپله علو کله په لفظ د علو سره ثابته کړی ده، لکه: ﴿وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾ [2] او کله په لفظ د فوقيت سره لکه: ﴿وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ﴾ [3] او کله ئې په لفظ د استوا على العرش سره لکه: ﴿الرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى﴾ ''رحمٰن په عرش باندې برقراره شو.'' [4]

1. المعتقد المنتقد، ص:69 .
2. البقرة 2:255.
3. الأنعام 6:18.
4. طٰه 20:5.



Scanned with CamScan

او كله په لفظ د کبدو د الله په اسمان کې، لکه: ﴿ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ﴾ "ایا تاسو په امن (او بې وېرې) شوي يئ د هغه ذات نه چې په اسمان کې دی، لۀ دې نه چې هغه تاسو په ځمکه کې ښکته ننباسي." ❶ کله په لفظ د "صعود" سره لکه: ﴿اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ﴾ "همدغه (الله) ته پاکيزه خبرې پورته خېژي." ❷ کله په لفظ د "رفع" سره، لکه: ﴿وَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ﴾ "او نېک عمل دغه (کلمات) پورته کوي." ❸ ﴿وَ رَافِعُكَ اِلَىَّ﴾ ❹ کله په لفظ د "عروج" سره لکه: ﴿تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ﴾ "چې ددۀ په طرف پورته ملائک او روح ورخېژي ." ❺ کله په لفظ د "نزول" سره لکه: ﴿نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ﴾ " هغه ستا د رب لۀ جانبه په حقه سره روح القدس (جبريل) نازل کړی دی ." ❻ دارنګ احاديث قولي، فعلي او تقريري دومره ډېر دي چې حد د تواتر ته رسي. همدارنګه د انسان عقل او فطرت سليمه هم دا مني چې الله بره دی او د امت اجماع هم د الله په بره والي شوې ده.

※ د الله په صفاتو کې يو صفت اول، آخر، ظاهر او باطن دی، الله پاك فرمائي: ﴿هُوَ الْاَوَّلُ وَ الْاٰخِرُ وَ الظَّاهِرُ وَ الْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ○﴾"هم دغه (الله) اول دی (هيڅ شی د هغۀ نه مخکې نۀ وُ) او اخر دی (ددۀ نه بعد هيڅ شی نشته) او لوړ دی (په هر شي بره دی) او باطن دی (ددۀ په وړاندې هيڅ شی پټ نۀ دی) او هغه په هر شي باندې ښه پوه دی." ❼

ددې ايت تفسير پخپله رسول الله ﷺ کړی دی، لکه: حديث شريف کې راځي: "أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَ أَنْتَ الْآخِرُ، فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَ أَنْتَ الظَّاهِرُ، فَلَيْسَ

❶ الملك 16:67.
❷ فاطر 10:35.
❸ فاطر 10:35.
❹ آل عمرٰن 55:3.
❺ المعارج 4:70.
❻ النحل 102:16.
❼ الحديد 3:57 .



Scanned with CamScanner

فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَ أَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ" "ته اول ئې تا نه مخکې هېڅ شی نه وو، ته آخر ئې، تانه وروسته به هېڅ شی نه وی، ته ظاهر ئې، ستا نه دپاسه هېڅ شی نشته، ته باطن ئې تانه قريب هېڅ شی نشته." ❶

* د الله تعالٰی په صفاتو کې يو صفت "الحي القيوم" دی، الله پاك فرمائي: ﴿ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ﴾ "الله (چې دی) نشته هېڅ لائق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، (د ټول عالم) انتظام كوونكی دی." ❷

* د الله په صفاتو کې يو صفت "العلی العظيم" دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴾ "او هم هغه ډېر اوچت دی، ډېر لوی دی." ❸

* د الله پاك په صفاتو کې يو صفت "العلي الكبير" دی، الله پاك فرمائي: ﴿ وَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴾ "او دا چې بېشكه الله، هم دی ډېر اوچت، ډېر لوئ دی." ❹ ﴿ وَ اَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ وَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۝ ﴾ "او دا چې بېشكه هغه (معبودان) چې دوئ ئې د هغهٔ (الله) نه غير بولي، باطل دي او دا چې بېشكه الله، هم دی ډېر اوچت، ډېر لوئ دی." ❺

* د الله جل مجده په صفاتو کې يو صفت "الكبير المتعال" دی، الله پاك فرمائي: ﴿ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيْرُ الْمُتَعَالِ ۝ ﴾ "د غيبو او د ښكاره ؤ عالم دی، ډېر لوئ، لوړ برتر دی." ❻

* د الله سبحانه و تعالٰی په صفاتو کې يو صفت: "علي حكيم" دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿ اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴾ "بېشكه دی، ډېر اوچت، ښه حكمت والا دی." ❼

---

❶ صحيح مسلم، حديث:2713 .
❷ البقرة 2:255.
❸ البقرة 2:255.
❹ الحج 22:62.
❺ لقمان 31:30.
❻ الرعد 13:9.
❼ الشورٰی 42:51.



Scanned with CamScanner

* د الله پاك په صفاتو کې يو صفت "غني حميد" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيۡدٌ﴾"او پوه شئ چې يقينًا الله ډېر بې پروا ، ډېر ستائل شوی دی." ❶

* د الله په صفاتو کې يو صفت "حکيم حميد"دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿تَنۡزِيۡلٌ مِّنۡ حَكِيۡمٍ حَمِيۡدٍ﴾"د ډېر حکمت والا ، ښه ستائل شوي (الله) لهٔ جانبه رالېږل شوی دی." ❷

* د الله په صفاتو کې يو صفت "العزيز الحميد" دی، الله پاك فرمائي: ﴿بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ اِلٰى صِرَاطِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَمِيۡدِ﴾"د دوی د رب په اذن سره ، د ډېر غالب ، ښه ستائل شوي ذات لارې ته." ❸

* د الله پاك په صفاتو کې يو صفت "الولي الحميد" دی، الله پاك فرمائي:﴿وَهُوَ الۡوَلِيُّ الۡحَمِيۡدُ﴾"او هم دی ښهٔ کارساز ، ښه ستائل شوی دی." ❹

* د الله په صفاتو کې يو صفت "الاعلیٰ" دی، الله رب العزة فرمائي: ﴿سَبِّحِ اسۡمَ رَبِّكَ الۡاَعۡلَى﴾"تهٔ پاکي بيان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی." ❺

* د الله په صفاتو کې يو صفت "عزيز حکيم" دی، الله تعالیٰ فرمائي:﴿تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَكِيۡمِ ۝﴾"د کتاب نازلول د الله لهٔ جانبه دي چې ډېر غالب ، ښه حکمت والا دی." ❻

* د الله په صفاتو کې يو صفت "الحکيم الخبير" دی، الله پاك فرمائي:﴿وَهُوَ الۡحَكِيۡمُ الۡخَبِيۡرُ﴾"او همدغه (الله) ښه حکمت والا ، ښه خبردار دی." ❼

---

❶ البقرة2:267 .
❷ حم السجدة 42:41.
❸ إبراهيم 1:14 .
❹ الشورٰی42:28 .
❺ الأعلى 1:87 .
❻ الجاثية 2:45 .
❼ سبا 1:34 .



Scanned with CamScanner

* د الله په صفاتو کې يو صفت د "عفو قدير" دى الله فرمائي: ﴿فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا﴾ "بېشکه الله لهٔ ازله ښه معافي کوونکی ، ښه قادر دی." (1)

* د الله په صفاتو کې يو صفت "مقلب القلوب" دى، د نبيﷺ اكثر قسم به دا و: "لَا وَ مُقَلِّبِ الْقُلُوبِ" (2)

* د الله جل جلاله په صفاتو کې يو صفت "الديان" دى، رسول اللهﷺ فرمائي: "يَحْشُرُ اللهُ الْعِبَادَ فَيُنَادِيهِمْ بِصَوْتٍ يَسْمَعُهُ مَنْ بَعُدَ كَمَا يَسْمَعُهُ مَنْ قَرُبَ: أَنَا الْـمَلِكُ أَنَا الدَّيَّانُ" "الله تعالىٰ به (د قيامت په ورځ) بندګان راجمع کړي، بيا به ورته په داسې اواز سره اواز وکړي چې لرې او نزدې ټول خلق به ئې واوري: زه بادشاه يم، زه بدله ورکوونکي يم." (3)

* د الله جل ثناؤه په صفاتو کې يو صفت د عزت، جلال، کبريائي او عظمت دى، رسول اللهﷺ فرمائي: "فَيَقُولُ اللهُ: وَ عِزَّتِي وَ جَلَالِي وَ كِبْرِيَائِي وَ عَظَمَتِي لَأُخْرِجَنَّ مِنْهَا مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" "الله پاك به ووائي چې زما دې په خپل عزت، جلال، لوئي او عظمت باندې قسم وي چې زه به خامخا وباسم هغه چا لره چې لا إلٰه إلا الله ئې ويلي وي." (4)

* الله سبحانه و تعالىٰ لره صفت د "رداء الكبرياء" "د لوئي څادر" ثابت دى، كَمَا يَلِيقُ بِعَظَمَتِهِ، په حديث شريف کې راځي: "وَ مَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَ بَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِ عَلٰى وَجْهِهِ فِي جَنَّةِ عَدَنٍ" "او نه به وي په مابين د قوم او په ما بين دده کې چې وګوري خپل رب ته مګر د لوئي څادر په مخ د رب باندې د همېشه والي په جنت کې." (5)

* د الله په صفاتو کې يو صفت "غفور ، حليم" دى، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ﴾ "او الله ډېر بخښونکی، ښه تحمل کوونکی دی." (6)

---

(1) النسآء4:149 .
(2) صحيح البخاري، حديث: 7391 .
(3) الأدب المفرد للبخاري، حديث: 970، و مسند أحمد: 3/395.
(4) صحيح البخاري، حديث:7510.
(5) صحيح البخاري، حديث:4878 .
(6) البقرة2:225 .



Scanned with CamScanner

* د الله په صفاتو کې يو صفت "غنی او حليم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ﴾ "او الله ډېر بې پروا ، ډېر تحمل والا دی." ❶

* د الله په صفاتو کې يو صفت "عليم او حليم" دی، الله فرمائي: ﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ﴾ "او الله ښه پوه، ښه تحمل ولا دی." ❷

* د الله په صفاتو کې يو صفت "شکور او حليم" دی. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ﴾ "او الله ښه قدردان ، ښه تحمل والا دی." ❸

* الله په صفاتو کې يو صفت "حکيم او خبير" دی، مطلب دا چې الله پاك د خپل مخلوق په مينځ کې په خپل امر ديني، شرعي او امر کوني قدري سره، يعنې دې الله لره دی حکم په دنيا او اخرت کې، نو حکمت د الله تعالیٰ صفت دی چې ورپورې قائم دی، لکه د نورو صفتونو غوندې. "خبير" د خبر نه دی او "خبير" په تمامو اشياؤ باندې کمال د علم ته ويلی شي او په دقت سره ئې احاطه کړې ده، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ﴾ "او همدغه (الله) ښه حکمت والا ، ښه خبردار دی." ❹

* د الله تعالیٰ په صفاتو کې يو صفت "خبير بصير" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ﴾ "بېشکه الله په خپلو بندګانو باندې خامخا ښه خبردار، ښه ليدونکی دی." ❺

* د الله په صفاتو کې يو صفت "بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِير" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ﴾ "بېشکه هغه هر شي لره ښه ليدونکی دی ." ❻

* د الله په صفاتو کې يو صفت "سميع بصير" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا

---

❶ البقرة263:2 .
❷ النسآء12:4 .
❸ التغابن17:64 .
❹ سبا 1:34 .
❺ فاطر31:35 .
❻ الملك19:67 .



Scanned with CamScan

﴿بَصِيْرًا﴾ "بېشکه الله ښه اورېدونکی ، ښه ليدونکی دی." ❶

* د الله په صفاتو کې يو صفت "بصير بالعباد" دی، الله فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ﴾ "او الله بندګانو لره ښه ليدونکی دی." ❷

* د الله په صفاتو کې يو صفت "رؤف بالعباد" دی، الله جل جلاله فرمائي: ﴿وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ﴾ "او الله تاسو د خپل ځان نه وېروي او الله په بندګانو باندې ډېر نرمي کوونکی دی." ❸

* د الله په صفاتو کې يو صفت "غفور شکور" دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرٌ﴾ "بېشکه زمونږ رب خامخا ډېر بخښونکی ، بې حده قدردان دی." ❹

* د الله په صفاتو کې يو صفت "عزيز غفور" دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ غَفُوْرٌ﴾ "بېشکه الله ښه غالب ، ډېر بخښونکی دی." ❺

* د الله په صفاتو کې يو صفت "عفو غفور" دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ﴾ "او بېشکه يقينًا الله ډېر معافي کوونکی ، ډېر بخښونکی دی." ❻

* د الله په صفاتو کې يو صفت "الغفور ذو الرحمة" دی، الله فرمائي: ﴿وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ﴾ "او هم ستا رب ډېر بخښونکی ، د رحمت والا دی." ❼

* الله په صفاتو کې يو صفت "غفور رحيم" دی، الله جل جلاله فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ "او الله ډېر بخښونکی ، بې حده مهربان دی." ❽

---

❶ النسآء4:58 .
❷ آل عمرٰن3:15 .
❸ آل عمرٰن3:30 .
❹ فاطر35:34 .
❺ فاطر35:28 .
❻ المجادلة 58:2 .
❼ الكهف18:58 .
❽ المآئدة 5:74 .



Scanned with CamScanner

* د الله په صفاتو کې یو صفت "الرحمن الرحيم" دی، الله تعالی فرمائي: ﴿تَنْزِيلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ۝﴾ "(دغه) نازلول د ډېر مهربان ، بې حده رحم کوونکي لهٔ جانبه دي." ❶

* د الله تعالی جل جلاله په صفاتو کې یو صفت "ارحم الراحمين" دی، الله تعالی فرمائي: ﴿وَ اَدْخِلْنَا فِيْ رَحْمَتِكَ ۖ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ۝﴾ "او مونږه په خپل رحمت کې داخل کړه او تهٔ ترټولو لوی مهربان ئې." ❷

* د الله په صفاتو کې یو صفت "التواب الرحيم" دی، لله تعالی فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا﴾ "بېشکه الله ډېر توبه قبلونکی، بې حده مهربان دی." ❸

* د الله په صفاتو کې یو صفت "البر الرحيم" دی، الله تعالی فرمائي: ﴿اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ﴾ "بېشکه هم دی ډېر احسان کوونکی ، بې حده رحم کوونکی دی." ❹

* د الله په صفاتو کې یو صفت "رؤف رحيم" دی، الله تعالی فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ﴾ "یقینًا الله په خلقو باندې خامخا ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی." ❺

* د الله په صفاتو کې یو صفت "رحيم ودود" دی، الله تعالی فرمائي: ﴿اِنَّ رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ﴾ "بېشکه زما رب ډېر مهربان ، بې حده مینه کوونکی دی." ❻

* د الله په صفاتو کې یو صفت "الغفور الودود" دی، الله تعالی فرمائي: ﴿وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ﴾ "او هم دی ډېر بخښونکی ، ډېر محبت کوونکی دی." ❼

الله لره عزت ثابت دی څرنګ چې د هغه د شان سره مناسب وي، الله تعالی فرمائي: ﴿وَ

❶ حٰمٓ السجدة 2:41.
❷ الأعراف151:7 .
❸ النسآء16:4 .
❹ الطور28:52 .
❺ البقرة 143:2 .
❻ هود90:11 .
❼ البروج 14:85 .



Scanned with CamScanner

﴿لَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۚ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ○﴾ "او ددوی وینا دې تا غمژن نهٔ کړي ، بېشکه عزت ټول خاص د الله دپاره دی ، هم هغه ښه اورېدونکی ، ښه پوه دی." ❶

﴿وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ﴾ "او عزت (خو) خاص د الله دپاره دی او د هغهٔ د رسول دپاره دی." ❷

﴿فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ "نو قسم ستا پر عزت! چې خامخا ضرور به زهٔ دوی ټول ګمراه کوم." ❸

* د الله په صفاتو کې یو صفت "الحق المبين" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَيَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِينُ﴾ "او دوی به پوه شي چې بېشکه الله هم هغه ښکاره ( او ثابت) حق دی." ❹

* د الله په صفاتو کې یو صفت "الكريم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ﴾ "ای (کافره) انسانه! تهٔ په خپل کریم (او سخي) رب باندې څه شي دوکه کړی ئې." ❺

* د الله په صفاتو کې یو صفت "احكم الحاكمين" دی، الله لا اله غيره وائي: ﴿وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ﴾ "او بېشکه هم ستا وعده حقه ده او تهٔ ترټولو ښه فیصله کوونکی ئې." ❻

* د الله په صفاتو کې یو صفت "عليم بذات الصدور" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾ "بېشکه الله ښه پوه دی په هغو (خبرو) چې په سینو (زړونو) کې دي." ❼

* د الله په صفاتو کې یو صفت "عليم قدير" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ﴾

❶ یونس10:65 .
❷ المنافقون 63:8.
❸ صٓ38:82 .
❹ النور24:25 .
❺ الانفطار 82:6 .
❻ هود11:45 .
❼ آل عمرٰن3:119 .



Scanned with CamScanner

"بېشکه الله ښه عالم ، ښه قادر دی."❶

✻ د الله په صفاتو کې یو صفت "واسع" (فراخه فضل والا) دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ﴾ "او الله فراخی والا دی، ښه پوه دی." ❷

✻ د الله په صفاتو کې یو صفت "شاکر علیم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَ كَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا﴾ "او الله لهٔ همېشه شکر قبلونکی ، ښه پوه دی." ❸

✻ د الله په صفاتو کې یو صفت "بکل شيء علیم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ﴾ "او الله په هر شي باندې ښه پوه دی." ❹

✻ د الله په صفاتو کې یو صفت "شهید" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا﴾ "او الله ښه کافي دی (په حیث د) ګواه." ❺

✻ د الله په صفاتو کې یو صفت "وکیل" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا﴾ "او په الله باندې توکل وکړه او الله کافي دی کارساز." ❻

✻ د الله په صفاتو کې یو صفت "حاسب" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَ كَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ﴾ "او هم بس یو مونږ حساب کوونکي." ❼

✻ د الله په صفاتو کې یو صفت "حسیب" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَ كَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا﴾ "او الله کافي دی، چې ښه حساب اخستونکی دی." ❽

✻ د الله په صفاتو کې یو صفت "ولي" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ ۭ

---

❶ النحل16:70 .
❷ آل عمرٰن3:73 .
❸ النسآء4:147 .
❹ النسآء4:176 .
❺ النسآء4:166 .
❻ النسآء4:81 .
❼ الأنبيآء21:47 .
❽ النسآء 4:6 .



Scanned with CamScan

﴿وَ كَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا﴾"او الله ستاسو په دښمنانو ښه پوه دی او الله كافي دی كارساز." ❶

* د الله په صفاتو كې يو صفت "نصير" دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿وَ كَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا﴾"او الله كافي دی مدد كوونكی." ❷

* د الله په صفاتو كې يو صفت "رقيب" دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا﴾ " بېشكه الله په تاسو باندې ښه ساتونكے (نگهبان) دے." ❸

* د الله په صفاتو كې يو صفت دا دی چې الله پاك د هر څه رقيب او نگهبان دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿وَ كَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ رَّقِيْبًا﴾" او الله دے په هر شي باندې ښه نگران." ❹

* د الله په صفات ذاتيه ؤ كې يو علم دی او علم د الله شامل دی او محيط دی په هر څه باندې، الله تعالٰى فرمائي: ﴿وَ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا﴾"او دا چې يقينًا الله د علم په لحاظ هر شی راگېر كړی دی." ❺

* د الله په صفاتو كې يو صفت "سميع بصير" دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَیْءٌ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ﴾"د هغهٔ په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونكی، ښه ليدونكی دی." ❻

* د الله په صفاتو كې يو صفت "رازق" دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ○﴾"بېشكه هم دغه الله ښه روزي وركوونكی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی." ❼

* د الله په صفاتو كې يو صفت "رحمت" دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿وَ رَحْمَتِیْ وَسِعَتْ كُلَّ شَیْءٍ﴾"او زما رحمت هر شی راگېر كړی دی." ❽

❶ النسآء4:45.
❷ النسآء4:45.
❸ النسآء 4:1.
❹ الأحزاب33:52.
❺ الطلاق65:12.
❻ الشورٰى42:11.
❼ الذاريات51:58.
❽ الأعراف7:156.



Scanned with CamScan

* د الله په صفاتو کې يو صفت "د مغفرت" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ﴾ "او بېشکه ستا رب د خلقو دپاره د هغوی د ظلم باوجود يقينًا د لوی مغفرت والا دی." [1]

* د الله په صفاتو کې يو صفت "د مغفرت او رضوان" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ﴾ "د الله لهٔ جانبه بخښنه او رضامندي ده." [2]

* د الله په صفاتو کې يو صفت "سميع عليم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ "يقينًا الله ښه اورېدونکی، ښه عالم دی." [3]

* د الله په صفاتو کې يو صفت "سميع الدعاء" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ﴾ "بېشکه زما رب خامخا د دعا ښه اورېدونکی دی." [4]

* د الله په صفاتو کې يو صفت "سميع قريب" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ﴾ "بېشکه هغه ښه اورېدونکی ، ډېر نژدې دی." [5]

* د الله په صفاتو کې يو صفت د "سمع او رويت" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ﴾ "تاسو مهٔ وېرېږئ ، بېشکه زهٔ لهٔ تاسو سره يم ، زهٔ اورم او زهٔ وينم." [6]

* د الله جل جلاله په صفاتو کې يو صفت "الواحد القهار" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَبَرَزُوا لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ "او دوی (ټول) به خاص الله ته چې يو دی ، ډېر غالب دی ، مخامخ ودرېږي." [7]

* د الله لا إلٰه غيره په صفاتو کې يو صفت "علام الغيوب" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّكَ

---

1. الرعد 6:13 .
2. الحديد 20:57 .
3. البقرة 181:2 .
4. إبراهيم 39:14 .
5. سبا 50:34 .
6. طٰهٰ 46:20 .
7. إبراهيم 48:14 .



Scanned with CamScan

اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ﴾ "بیشکه هم ته په غیبو ښه عالم ئې." ❶

* د الله په صفاتو کې یو صفت "اللطیف، ا لخبیر" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَهُوَ اللَّطِیْفُ الْخَبِیْرُ﴾ "او هغه ډېر باریکبین ، ښه خبردار دی." ❷

* د الله په صفاتو کې یو صفت "رفیع الدرجات" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ﴾ "(دغه الله) د اوچتو درجو والا (د درجو اوچتونکی) دی ، د عرش مالک دی." ❸

* د الله په صفاتو کې یو صفت "قوي عزیز" دی، الله جل جلاله فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ﴾ "بیشکه الله ډېر قوي ، ښه غالب دی." ❹

* د الله په صفاتو کې یو صفت "الاکرم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿اِقْرَاْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ ○﴾ "ته ولوله ، په داسې حال کې چې ستا رب تر ټولو لوئ کریم دی." ❺

* د الله په صفاتو کې یو صفت "ذو الجلال والاکرام" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ○﴾ "او باقي به پاتې شي ستا د رب مخ (ذات) چې د جلال او د عزت خاوند دی." ❻

* د الله په صفاتو کې یو صفت "الملك الحق" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ○﴾ "نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی ، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی ، د عزتناک عرش رب دی." ❼

* د الله په صفاتو کې یو صفت "الملك القدوس" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ﴾ "دغه الله هغه ذات دی چې نشته هیڅ حق معبود مګر هم دی

❶ المآئدة 116:5 .
❷ الأنعام6:103 .
❸ المؤمن40:15 .
❹ الحدید57:25 .
❺ العلق 96:3 .
❻ الرحمن55:27 .
❼ المؤمنون23:116 .



Scanned with CamScanner

دی ، چې (حقيقي) بادشاه دی." ❶

* د الله جلاله په صفاتو کې يو صفت "عالم الغيب والشهادة، الرحمن الرحيم، الملك القدوس، السلام، المؤمن، المهيمن، العزيز، الجبار، المتكبر، الخالق، البارئ، المصور، العزيز الحكيم" دی، الله تعالٰی فرمائي:

﴿هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَیْبِ وَ الشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ۝ هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَیْمِنُ الْعَزِیْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ۝ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی ؕ یُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ وَ هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝﴾

"دغه الله هغه ذات دی چې دهٔ نه غير بل هيڅ حق معبود نشته ، په غيبو او په ښکاره ؤ عالم دی ، هم دی ډېر مهربان ، بې حده رحم کوونکی دی. دغه الله هغه ذات دی چې نشته هيڅ حق معبود مګر هم دی دی ، چې (حقيقي) بادشاه دی ، ښه پاک دی ، سلامتي ورکوونکی (او) امان ورکوونکی دی ، نګهبان (محافظ) ښه غالب (اوزورور) ، ډېر عظمت والا ، ډېر لوئي والا دی ، الله پاک دی د هغو (شيانو) نه چې دوی ئې ورسره شريکوي. هم دغه الله پيدا کوونکی ، (د نيشت نه وجود ته) راوېستونکی ، صورت ورکوونکی دی ، خاص هم دهٔ دپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي ، دهٔ پاکي بيانوي هر هغه شی چې په اسمانونو او ځمکه کې دی ، او هم دی ښه غالب ، ډېر حکمت والا دی." ❷

* د الله جل مَجْدُه په صفاتو کې يو صفت "الغني ذوالرحمة" دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَ رَبُّكَ الْغَنِیُّ ذُو الرَّحْمَةِ﴾ "او هم ستا رب ښه بې پروا ، (او) رحمت والا دی." ❸

* د الله په صفاتو کې يو صفت "غنی کريم" دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ رَبِّیْ

❶ الحشر 23:59 .
❷ الحشر 22:59-24 .
❸ الأنعام 133:6 .



Scanned with CamScanner

غَنِيٌّ كَرِيْمٌ﴾ "نو بېشکه زما رب ډېر بې پروا، ډېر کرم کوونکی دی." ❶

* د الله په صفاتو کې يو صفت "غنی" دی د مخلوق نه، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ﴾ "او څوک چې کافر شۀ، نو بېشکه الله د مخلوقاتو نه بېخي پروا دی." ❷

* د الله په صفاتو کې يو صفت "ذو الفضل العظيم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ﴾ "او الله د عظيم فضل خاوند دی." ❸

* د الله په صفاتو کې يو صفت "ذوفضل على العلمين" دی، الله جل مجده فرمائي: ﴿وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ﴾ "او لېکن الله په عالمونو باندې دلوی فضل کولو والا دی." ❹

* د الله په صفاتو کې يو صفت "ذوفضل على المؤمنين" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ○﴾ "او الله په مومنانو باندې د لوی فضل کولو والا دی." ❺

* د الله په صفاتو کې يو صفت "ذو رحمة واسعة" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَقُلْ رَّبُّكُمْ ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ﴾ "نو تۀ ووايه: ستاسو رب د فراخه رحمت والا دی." ❻

* د الله په صفاتو کې يو صفت "ذوالعرش المجيد" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ﴾ "دعرش مالک دی ، لوی شان (او عزت) والا دی." ❼

* د الله په صفاتو کې يو صفت "رب د مشرقينو" او رب د "مغربينو" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ○﴾ "(هغه د ژمي او د اوړي) د دواړو مشرقونو رب دی او (د ژمي او د اوړي) د دواړو مغربونو رب دی." ❽

---

❶ النمل 40:27 .
❷ آل عمرٰن 97:3 .
❸ البقرة 105:2 .
❹ البقرة 251:2 .
❺ آل عمرٰن 152:3 .
❻ الأنعام 147:6 .
❼ البروج 15:85 .
❽ الرحمن 17:55 .



Scanned with CamScanner

* د الله په صفاتو کې يو صفت "رب المشارق" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ۝﴾ "چې د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي او د مشرقونو رب دی." ❶

* د الله په صفاتو کې يو صفت "رب العالمين" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ "د اسمانونو رب دے او د ځمکې رب دے، د عالمونو رب دے." ❷

* د الله په صفاتو کې يو صفت "رب العرش العظيم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ﴾ "نشته دی هيڅ لائق د عبادت مګر هغه دی، خاص په هغهٔ ما توکل کړی دی او هم هغه د عظيم عرش مالک دی." ❸

* د الله جل مجده په صفاتو کې يو صفت "رب غفور" دی، الله جل مجده فرمائي: ﴿بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَّ رَبٌّ غَفُوْرٌ﴾ "(دا ښار) پاکيزه ښار دی او (ستاسو) رب دی ډېر بخښونکی." ❹

* د الله په صفاتو کې يو صفت "رب رحيم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿سَلٰمٌ ۚ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ﴾ "سلام دی (چې دوی ته به ويلی شي) ښکاره ويل د رب لهٔ جانبه، چې ډېر مهربان دی." ❺

* د الله په صفاتو کې يو صفت "الخلاق العليم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿بَلٰی ۚ وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ﴾ "ولې نهٔ! او هم دی ښه پيدا کوونکی، ښه پوه دی." ❻

* د الله په صفاتو کې يو صفت په هر څه باندې علم دی، الله سبحانه و تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ﴾ "او پوه شئ چې يقيناً الله په هر شي باندې ښه پوه دی." ❼

❶ الصافات 5:37 .
❷ الجاثية 36:45.
❸ التوبة 129:9.
❹ سبا 15:34 .
❺ يٰسٓ 58:36 .
❻ يٰسٓ 81:36 .
❼ البقرة 231:2 .



Scanned with CamScanner

* د الله جل جلاله په صفاتو کې يو صفت دی چې دی په هر "خلق" باندې پوه دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ﴾"او هغه په خپل مخلوق باندې ښه عالم دی." [1]

* د الله جل جلاله په صفاتو کې يو صفت دا دی چې ده په هر څه احاطه کړې ده د ملکيت او د علم په لحاظ سره، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطًا﴾"او خاص د الله دپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله هر شي لره ښه راګېرونکی دی." [2] ﴿وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾ "او دا چې يقينًا الله د علم په لحاظ هر شے راګېر کړے دې." [3]

* د الله په صفاتو کې يو صفت "الوهاب" دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ﴾"(د نعمت او رحمت) بې حده عطاء کوونکی ئې." [4]

* د الله لا إلٰه غيره په صفاتو کې يو صفت "العزيز الوهاب" دی، الله لا إلٰه غيره فرمائي: ﴿أَمْ عِنْدَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ﴾ "ايا ددوی سره ستا د رب د رحمت خزانې دي (هغه رب) چې ډېر غالب، عطا کوونکی دی؟." [5]

* د الله جل مجده په صفاتو کې يو صفت "العزيز الغفار" دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَأَنَا أَدْعُوكُمْ إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ﴾"حال دا چې زهٔ تاسو ډېر غالب، ډېر مغفرت کوونکي (الله) ته رابولم." [6]

* د الله پاك په صفاتو کې يو صفت "الغني" دی، الله پاك فرمائي: ﴿وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ﴾"او هم دا الله غني (ښه بې پروا) دی او هم تاسو فقيران يئ." [7]

---

[1] يٰس79:36 .
[2] النسآء126:4 .
[3] الطلاق 12:65.
[4] آل عمرٰن 8:3 .
[5] ص9:38 .
[6] المؤمن42:40 .
[7] محمد38:47 .



Scanned with CamScanner

* د الله تبارك و تعالیٰ په صفاتو کې یو صفت "الفتاح العلیم" دی، الله تعالیٰ وائي: ﴿قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ۚ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ ۝﴾ "ته ووایه: زمونږ رب به زمونږ په مینځ کې جمع وکړي، بیا به زمونږ په مینځ کې په حقه سره فیصله وکړي او هم دی ښه فیصله کوونکی، ښه عالم دی." ❶

* د الله په صفاتو کې یو صفت "أَعْلَم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿أَوَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ الْعَالَمِينَ﴾ "ایا الله ښه عالم نهٔ دی په هغه (اخلاص او نفاق) چې د عالمونو (خلقو) په سینو کې دی." ❷

* د الله جل جلاله په صفاتو کې یو صفت "علیم بالمتقین" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ﴾ "او الله په پرهېزګارانو ښه پوه دی." ❸

* د الله تبارك و تعالیٰ په صفاتو کې یو صفت "علیم بالظالمین" دی، الله تبارك و تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ﴾ "او الله په ظالمانو ښه پوه دی." ❹

* د الله تبارك و تعالیٰ په صفاتو کې یو صفت "بکل شيء شهید" دی، الله سبحانه و تعالیٰ وائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا﴾ "بېشکه الله په هر شي باندې ګواه دی." ❺

* د الله په صفاتو کې یو صفت "علیم خبیر" دی، الله جلاله فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا﴾ "بېشکه الله لهٔ همېشه ښه پوه، ښه خبردار دی." ❻

* د الله تعالیٰ په صفاتو کې یو صفت "علیم حکیم" دی، الله جل جلاله فرمائي: ﴿إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝﴾ "بېشکه ستا رب ښه پوه، ښه حکمت والا دی." ❼

---

❶ سبأ26:34 .
❷ العنکبوت10:29 .
❸ آل عمرٰن115:3 .
❹ التوبة47:9 .
❺ النسآء33:4 .
❻ النسآء35:4 .
❼ یوسف 6:12 .



Scanned with CamScan

* د الله په صفاتو کې يو صفت "واسع حکيم" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَ كَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا﴾ "او الله لهٔ همېشه فراخی والا ، ښه حکمت والا دی." [1]

* د الله په صفاتو کې يو صفت "خير الرازقين" دی، الله پاك فرمائي: ﴿وَارْزُقْنَا وَ اَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ﴾ "اوتهٔ مونږ ته روزي راکړه او تهٔ تر ټولو غوره رزق ورکوونکی ئې." [2]

* د الله تبارك و تعالیٰ په صفاتو کې يو صفت "خير الفاصلين" دی، الله تبارك و تعالیٰ فرمائي: ﴿اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَ هُوَ خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ﴾ "نشته دی حکم مګر خاص د الله دپاره ، هغه حق بيانوي او هغه ډېر غوره فيصله کوونکی دی." [3]

* د الله سبحانه و تعالیٰ په صفاتو کې يو صفت "خير الحاكمين" دی، الله سبحانه و تعالیٰ فرمائي: ﴿فَاصْبِرُوْا حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا ۚ وَ هُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ﴾ "نو تاسو صبر کوئ تردې چې الله زمونږ په مينځ کې فيصله وکړي او هغه ترټولو بهتر فيصله کوونکی دی." [4]

* د الله جل جلاله په صفاتو کې يو صفت "خير الفاتحين" دی، الله جل جلاله تعالیٰ فرمائي: ﴿رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَ اَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ﴾ "ای زمونږه ربه! تهٔ زمونږ په مينځ کې او زمونږ د قوم په مينځ کې په حقه سره فيصله وکړه او تهٔ ترټولو غوره فيصله کوونکی ئې." [5]

* د الله جل جلاله په صفاتو کې يو صفت "خير الغافرين" دی، الله فرمائي: ﴿اَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَ ارْحَمْنَا وَ اَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ﴾ "تهٔ زمونږ کارساز ئې ، نو تهٔ مونږ ته بخښنه وکړه او په مونږ رحم وکړه او تهٔ ترټولو غوره بخښونکی ئې." [6]

* د الله جل جلاله په صفاتو کې يو صفت "خير الوارثين" دی، الله جل مجده فرمائي:

---

1. النسآء4:130 .
2. المآئدة 5:114 .
3. الأنعام6:57 .
4. الأعراف7:87 .
5. الأعراف7:89 .
6. الأعراف7:155 .



Scanned with CamScan

﴿وَزَكَرِيَّآ اِذۡ نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرۡنِىۡ فَرۡدًا وَّاَنۡتَ خَيۡرُ الۡوٰرِثِيۡنَ﴾"او (یاد کړه) زکریا کله چې هغهٔ خپل رب ته اواز وکړ: ای زما ربه! ما یوازې (بې اولاده) مهٔ پرېږده او تهٔ ترټولو غوره وارث ئې." [1]

* د الله جل ذکره په صفاتو کې یو صفت "خير المنزلين" دی، الله جل مجده فرمائي: ﴿وَقُلۡ رَّبِّ اَنۡزِلۡنِىۡ مُنۡزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنۡتَ خَيۡرُ الۡمُنۡزِلِيۡنَ﴾" او (د کوزېدو په وخت کې) ووایه: ای زما ربه! تهٔ ما په یو مبارک منزل (ځای) کې کوز کړه او تهٔ تر ټولو کوزونکو ښخه ډېر غوره ئې." [2]

* د الله په صفاتو کې یو صفت د "محبت" دی، داسې محبت څرنګ چې د هغه د شان او جلال سره مناسب وي، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿فَسَوۡفَ يَاۡتِى اللّٰهُ بِقَوۡمٍ يُّحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّوۡنَهٗۤ﴾"نو ژر ده چې الله به داسې خلق راولي چې هغه (الله) به د دوی سره مینه کوي او دوی به د هغه (الله) سره مینه کوي." [3]

* الله تعالىٰ د متقینو دوست دی، الله سبحانه و تعالىٰ فرمائي: ﴿وَاِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ بَعۡضُهُمۡ اَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍ‌ ۚ وَاللّٰهُ وَلِىُّ الۡمُتَّقِيۡنَ﴾"او بېشکه ظالمان (چې دي) ددوی ځینې د ځینو نورو دوستان دي او الله د پرهېزګارانو ملګرى دى." [4]

* الله محبت کوي د محسنینو سره، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَالۡكٰظِمِيۡنَ الۡغَيۡظَ وَالۡعَافِيۡنَ عَنِ النَّاسِ‌ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الۡمُحۡسِنِيۡنَ﴾"او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي او خلقو ته معافي کوونکي وي او الله نېکي کوونکي خوښوي." [5]

* الله تعالىٰ متقینو سره محبت کوي، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُتَّقِيۡنَ﴾"بېشکه الله

1. الأنبياء21:89 .
2. المؤمنون23:29 .
3. المائدة 5:54 .
4. الجاثية 45:19 .
5. آل عمرٰن3:134 .



Scanned with CamScanner

(د بې عهدۍ نه) ځان ساتونکي خوښوي."❶

✻ الله تعالیٰ محبت کوي د توکل کوونکو سره، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾"بیا چې کله ته ټنګه اراده وکړې، نو په الله باندې توکل کوه، یقینًا الله لهٔ توکل کوونکو سره مینه کوي."❷

✻ الله جل جلاله محبت کوي له مقسطینو (انصاف کوونکو) سره الله جل جلاله فرمائي: ﴿وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾"که چېرې ته فیصله کوې ، نو د دوی په مینځ کې په انصاف سره فیصله وکړه ، بېشکه الله د انصاف کوونکو سره مینه کوي."❸

✻ الله سبحانه و تعالیٰ د پاکې حاصلونکو سره محبت کوي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾"په دې (جومات) کې داسې سړي دي چې ښه پاک اوسېدل خوښوي او الله ښه پاک اوسېدونکي خوښوي."❹

✻ الله تعالیٰ محبت کوي د توبه کوونکو سره، الله جل مجده فرمائي: ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾"نو کله چې ښې پاکې شي، بیا دوی سره جماع کوئ، په هغه ځای کې چې الله تاسو ته حکم کړی دی. یقینًا الله ډېرې توبې وېستونکي خوښوي او ښه پاک اوسېدونکي خوښوي."❺

✻ الله تعالیٰ د صبر کوونکو سره محبت کوي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ﴾"او نهٔ ئې کمزورتیا ښکاره کړه او نهٔ ټیټ شول، او الله د صبرکوونکو سره مینه کوي."❻

❶ التوبة 7:9 .
❷ آل عمرٰن159:3 .
❸ المآئدة 42:5.
❹ التوبة 108:9 .
❺ البقرة 222:2 .
❻ آل عمرٰن 146:3 .



Scanned with CamScan

* الله تعالیٰ د ظالمانو سره محبت نه کوي، الله فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ﴾"او الله د ظالمانو سره مينه نهٔ کوي." ❶

* الله تعالیٰ د هېڅ متکبر او فخر کوونکي سره محبت نه کوي، الله سبحانه و تعالیٰ فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرًا﴾"بېشکه الله نهٔ خوښوي هغه چالره چې کبرجن ، ډېر فخر کوونکی وي." ❷

* الله جل جلاله محبت نه کوي د هېڅ خيانت کر، گناه گار سره، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا﴾"بېشکه الله د هغه چا سره مينه نهٔ کوي چې ډېر خائن ، سخت گناهگار وي." ❸

* الله تعالیٰ محبت نه کوي د فساديانو سره، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ﴾ "بېشکه الله فساد کوونکي نهٔ خوښوي." ❹

* الله تعالیٰ محبت نه کوي د حد نه تجاوز کونکو سره، الله جل ذکره فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ﴾"بېشکه الله د حد نه تېرېدونکي نهٔ خوښوي." ❺

* الله تعالیٰ محبت نه کوي د اسراف کوونکو سره، الله فرمائي: ﴿وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ﴾"او تاسو اسراف مهٔ کوئ ، بېشکه هغه (الله) اسراف کوونکي نهٔ خوښوي." ❻

* الله تعالیٰ محبت نه کوي د خيانتکرو سره، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ﴾ "بېشکه الله خيانت کوونکي (وعده ماتونکي) نهٔ خوښوي." ❼

* الله تعالیٰ محبت نه کوي د تکبر کوونکو سره، الله فرمائي: ﴿اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ﴾

❶ آل عمرٰن 3:57 .
❷ النسآء 4:36 .
❸ النسآء4:107 .
❹ القصص28:77 .
❺ المآئدة 5:87 .
❻ الأنعام 6:141 .
❼ الأنفال 8:58 .



Scanned with CamScanner

"بېشکه هغه (الله) تکبر کوونکي نهٔ خوښوي." ❶

* الله تعالیٰ محبت نه کوي د هېڅ خيانت کار، ناشکره سره، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ﴾ "بېشکه الله هر ډېر خيانت کر، لوی ناشکره نهٔ خوښوي." ❷

* الله تعالیٰ د هغه چا سره محبت نه کوي چې په مال او دولت باندې د فخر او تکبر د وجې نه خوشحالي کوي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ﴾ "تهٔ (په مال خوشحالي او) تکبر مهٔ کوهٔ، بېشکه الله (په مال خوشالېدونکي) تکبر کوونکي نهٔ خوښوي." ❸

* الله پاك د خپل مخلوق سره هېڅ ظلم نه کوي، الله پاك فرمائي: ﴿وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَالَمِينَ﴾ "او الله په عالَمونو باندې د ظلم کولو اراده نهٔ لري." ❹ ﴿وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ﴾ "او ځکه چې يقينًا الله په بندګانو هيڅ ظلم کوونکے نهٔ دے." ❺

* الله تبارك و تعالیٰ د خپلو بندګانو سره د ظلم کولو اراده نه کوي.

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ﴾ "او الله په بندګانو د هيڅ ظلم اراده نهٔ کوي." ❻

* الله جل جلاله د خپل مخلوق د اعمالو نه بې خبره نه دی.

الله جل جلاله فرمائي: ﴿وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾ "او الله ستاسو د عملونو نه کله هم غافل نهٔ دی." ❼

* په الله تعالیٰ باندې پرکالي او خوب نه راځي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا

❶ النحل 23:16 .
❷ الحج 38:22 .
❸ القصص 76:28 .
❹ آل عمرٰن 108:3 .
❺ آل عمرٰن 182:3 .
❻ المؤمن 31:40 .
❼ البقرة 74:2.



Scanned with CamScanner

نَوْمٌ﴾ "په دهٔ نهٔ پرکالي راځي، او نهٔ خوب." ❶

* الله تعالیٰ د خپلې وعدې مخالفت نه کوي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿حَتّٰى يَاْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ؀﴾ "تر هغه پورې چې د الله وعده راشي ، بېشکه الله د وعدې خلاف نهٔ کوي." ❷

* الله تعالیٰ لوبې، ټوقې، عبث او باطل کار نه کوي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ؀﴾ "او مونږ اسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي ؛ نهٔ دي پيدا کړي، په داسې حال کې چې عبث او لوبې کوونکي يو." ❸ ﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ؀﴾ "ايا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پيدا کړي يئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نهٔ راوستلی کېږئ." ❹ ﴿وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاۗءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا﴾ "او مونږ اسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي داسې نهٔ دي پيدا کړي ، چې باطل (او عبث) دي." ❺

* الله تعالیٰ د اسمانونو او ځمکو په پيدا کولو ستړی شوی نه دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ڰ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ؀﴾ "او يقينًا يقينًا مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي ، په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي ، او مونږ ته هيڅ ستوماني نهٔ ده رارسېدلې." ❻

* الله رب العزة د اسمانونو او ځمکو په ساتنه نه ستومانه کېږي، الله رب العزة فرمائي: ﴿وَلَا يَـــُٔـــوْدُهٗ حِفْظُهُمَا﴾ "او د (دې) دواړو ساتنه هغه (الله) نهٔ ستړی کوي." ❼

---

❶ البقرة 2:255 .
❷ الرعد 13:31 .
❸ الدخان44:38 .
❹ المؤمنون23:115 .
❺ ص38:27 .
❻ ق50:38.
❼ البقرة2:255 .



Scanned with CamScanner

* الله تعالیٰ کافرانو ته هدایت نه کوي، الله فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ﴾ "او الله په ظالمانو باندې ښه پوه دی." ❶

الله تعالیٰ ظالم قوم ته هدایت نه کوي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ۝﴾ "او الله ظالم قوم ته سمه لار نهٔ ښيي." ❷

* الله تعالیٰ فاسقانو ته هدایت نه کوي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ﴾ "او الله فاسقو خلقو ته نېغه لار نهٔ ښيي." ❸

* الله تعالیٰ هدایت نه کوي خیانت ګرو ته، الله فرمائي: ﴿وَ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ﴾ "او دا چې یقینًا الله د خیانتګرو مکر نهٔ برابروي (سر ته ئې نه رسوي)." ❹

* الله تعالیٰ مسرف دروغجن ته، هدایت نه کوي، الله فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ﴾ "بېشکه الله هدایت نهٔ کوي هغه چا ته چې هغه د حده تېرېدونکی، ډېر دروغجن وي." ❺

* د الله عزوجل سره په بادشاهت کې څوك شریك نشته او د عاجزۍ په وجه نه څوك مددګار او نه ئې اولاد شته، الله وائي: ﴿وَ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّ لَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَ لَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَ كَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا۝﴾ "او تهٔ ووایه: ټوله ثنا هغه الله دپاره خاص ده چې نهٔ ئې څوک اولاد نیولی دی او نهٔ دهغهٔ دپاره په بادشاهۍ کې څوک شریک شته او نهٔ د هغهٔ دپاره د عاجزۍ په وجه څوک دوست شته او تهٔ د هغه لوئي بیانوه، لوئي کامله." ❻

* الله تعالیٰ لره هیڅوک عاجز کولی نشي، الله فرمائي: ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَيْءٍ فِي

❶ البقرة 264:2 .
❷ البقرة 258:2 .
❸ المائدة 108:5 .
❹ یوسف52:12 .
❺ المؤمن28:40 .
❻ بني إسرائيل111:17 .



Scanned with CamScanner

السَّمٰوٰتِ وَلَا فِى الْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا قَدِيْرًا﴾"او الله کله هم داسې نۀ دی چې هغۀ لره دې عاجزه کړي هېڅ کوم شی په اسمانونوکې او په ځمکه کې."❶

* د الله تبارك و تعالىٰ نه څوك نشي وړاندې کيدی، الله فرمائي:﴿نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ۝﴾"بېشکه مونږ ستاسو په مېنځ کې مرګ مقدر کړی دی او مونږ عاجز کړی شوي نۀ يو."❷

* الله جل جلاله چې څه کوي د هغه نه څوك تپوس نشي کولی، الله فرمائي:﴿لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ۝﴾"د هغۀ نه پوښتنه نشي کېدی د هغه څه په باره کې چې هغه ئې کوي او لۀ دوی نه پوښتنه کېږي."❸

* د الله تعالىٰ د فيصلو څوك تعقيب کوونکی نشته، الله فرمائي:﴿وَاللّٰهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ ۭ وَهُوَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ﴾"هيڅوک د هغۀ د حکم رد کوونکی نشته او هغه ډېر ژر حساب کوونکی دی."❹

* الله جل مجده د خپلو فيصلو د انجام نه نه وېرېږي، الله تعالىٰ فرمائي:﴿وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ۝﴾"او دی (الله) ددغه (هلاکت او عذاب) د انجام نه نۀ وېرېږي."❺

* الله رب العالمين د خپل ځان نه حکايت او اِخبار کوي، په دې اخبار زمونږ ايمان دی، كَمَا يَلِيقُ بِشَأْنِهِ، چې الله رب العزة په هر څه ښه قدرت والا دی، الله رب العزة فرمائي:﴿وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا﴾"او الله په هر شي باندې قدرت لرونکی دی."❻

* الله تبارك و تعالىٰ "شديد العذاب" دی، الله تعالىٰ فرمائي:﴿اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ﴾"چې يقينًا قوت ټول خاص د الله دپاره دی او دا چې يقينًا الله ډېر سخت

❶ فاطر35:44 .
❷ الواقعة 56:60 .
❸ الأنبيآء21:23 .
❹ الرعد 13:41 .
❺ الشمس 91:15 .
❻ الكهف18:45 .



Scanned with CamScanner

عذاب ورکوونکی دی." ❶

* الله سبحانه و تعالیٰ "شدید العقاب دی، الله سبحانه و تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾"او د الله نه وېرېږئ او پوه شئ چې یقینًا الله سخت عذاب ورکونکی دی." ❷

* الله تعالیٰ قوی او شدید العقاب دی، الله جل جلاله فرمائي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾ "بېشکه الله قوي ، (او) ډېر سخت عذاب والا دی." ❸

* الله تعالیٰ "شدید المحال" دی، الله فرمائي: ﴿وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِى اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ﴾ "په داسې حال کې چې دوی د الله په باره کې جګړه کوي او هغه ډېر سخت سزا والا دی." ❹

* الله تعالیٰ "سریع الحساب" دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ﴾ "او د الله نه وېرېږئ ، بېشکه الله ډېر ژر حساب کوونکی دی." ❺

* الله تعالیٰ "سریع العقاب" دی، الله فرمائي: ﴿اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيْعُ الْعِقَابِ ۚ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ "او بېشکه هغه خامخا ډېر بخښونکی ، بې حده مهربان دی." ❻

* الله جل شانه د عذاب او سزا په لحاظ سره ډېر سخت دی، الله فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا﴾"او الله ډېر سخت دی د جنګ په لحاظ او ډېر سخت دی د سزا ورکولو په لحاظ." ❼

* د الله تعالیٰ نیول "الیم شدید" دی، الله جلت عظمته وائي: ﴿اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ﴾ "بېشکه د هغهٔ نیول ډېر دردونکي ، ډېر سخت دي." ❽

❶ البقرة 165:2 .
❷ البقرة 196:2 .
❸ الأنفال52:8 .
❹ الرعد13:13 .
❺ المآئدة 4:5 .
❻ الأعراف167:7 .
❼ النسآء84:4 .
❽ هود102:11 .



Scanned with CamScanner

✻ الله تبارك و تعالٰی "عزیز ذوانتقام" دی، الله تبارك و تعالٰی فرمائي:﴿إِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ﴾"ېشکه الله ډېر غالب ، (او) انتقام والا دی."❶

✻ الله پاك "ذو عقاب الیم" دی، فرمائي:﴿إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ وَّ ذُو عِقَابٍ أَلِيمٍ﴾"بېشکه ستا رب خامخا د مغفرت والا او د ډېر دردونکي عذاب والا دی."❷

✻ د الله پاك امر پوره کړی شوی دی، فرمائي:﴿وَ كَانَ أَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُولًا﴾"او دی د الله کار ادا کړی شوی."❸

✻ د الله تبارك و تعالٰی امر په اندازه دی، فرمائي:﴿وَ كَانَ أَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا﴾"او دی د الله امر قطعي ټاکل شوې فیصله."❹

✻ الله تعالٰی ته هر کار اسان دی، فرمائي:﴿وَ كَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرًا﴾"او دغه (کار) الله ته ډېر اسان دی."❺ ﴿وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ ۝﴾"او دغه (کار) په الله باندې هېڅ ګران نهٔ دی."❻

## اراده

✻ د الله تعالٰی په صفاتو کې یو صفت د "ارادې" دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ﴾"او لېکن الله کوي هغه څه چې اراده ئې وکړي."❼ ﴿إِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ﴾ "بېشکه الله فیصله کوي د څه چې اراده کوي."❽

## اراده په دوه قسمه ده

①اراده کونیه قدریه. ② اراده دینیه شرعیه. په اول ایت کې د ارادې نه مراد اراده کونیه

❶ إبراهيم47:14 .
❷ حم السجدة 43:41 .
❸ الأحزاب37:33 .
❹ الأحزاب38:33 .
❺ الأحزاب19:33 .
❻ إبراهيم20:14 .
❼ البقرة 253:2 .
❽ المائدة 1:5 .



Scanned with CamScanner

قدريه ده او په دويم ايت کې د ارادې نه مراد اراده دينيه شرعيه ده.

الله تعالىٰ هغه څه کوي چې اراده ئې وکړي، فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ﴾"بېشکه الله کوي هغه چې اراده ئې وکړي." ❶ ﴿إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ﴾"بېشکه الله فيصله کوي د څه چې اراده کوي." ❷

* الله تعالىٰ هغه چا ته هدايت کوي چې اراده ئې وکړي، فرمائي: ﴿وَأَنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يُرِيدُ﴾"او دا چې بېشکه الله هدايت کوي چا ته چې اراده وکړي." ❸

## مشيت

* د الله تعالىٰ په صفاتو کې يو صفت "مشيت" دی، الله تعالىٰ فرمائي:﴿وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً﴾"او که الله غوښتلي وی (نو) دوی به ئې خامخا يو امت ګرځولي وو." ❹

* الله سبحانه و تعالىٰ کوي هغه څه چې ئې وغواړي، فرمائي:﴿إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ﴾ "بېشکه الله کوي هغه څهٔ چې اراده ئې وکړي." ❺

* الله تعالىٰ پيدا کوي هغه څه چې وئې غواړي، فرمائي: ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ﴾ "او ستا رب پيدا کوي هغه چې وغواړي او هغه انتخاب کوي." ❻

* د الله تعالىٰ چې کوم شي ته کله خوښه شي په هغه ښه قادر دی، فرمائي: ﴿وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَاءُ قَدِيرٌ﴾"او دغه (الله) کله چې وغواړي ددغو (څيزونو) په راجمع کولو ښه قادر دی." ❼

❶ الحج 14:22 .
❷ المآئدة 1:5.
❸ الحج16:22 .
❹ الشورٰى 8:42.
❺ الحج18:22 .
❻ القصص68:28 .
❼ الشورٰى29:42 .



Scanned with CamScanner

* الله تعالىٰ هغه چا ته هدايت كوي چې ئې خوښه شي، فرمائي: ﴿ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِىْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ﴾ "دغه د الله هدايت دی ، چې چاته وغواړي په دهٔ سره هدايت ورکوي." ❶

* الله تعالىٰ رزق فراخوي چاته چې ئې خوښه شي او تنګوي ئې چاته چې ئې خوښه شي، فرمائي: ﴿اِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يَقْدِرُ﴾ "بېشکه ستا رب رزق فراخوي چاته چې وغواړي او تنګوي ئې ، (چا ته چې وغواړی)." ❷

## وجه

* د الله تعالىٰ دپاره صفت د "وجه" (مخ) شته څنګه چې د هغه د شان سره مناسب او لائق وي، د تجسيم، تمثيل او تشبيه نه بغير، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَ يَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَ الْاِكْرَامِ ○﴾ "او باقي به پاتې شي ستا د رب مخ (ذات) چې د جلال او د عزت خاوند دی." ❸

## عين

* الله لره عين (سترګې) شته څنګه چې د هغه د شان او عظمت سره لائق دي، بغير د تجسيم، تمثيل او تشبيه نه، الله فرمائي: ﴿وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْيُنِنَا﴾ "نو تهٔ د خپل رب حکم ته صبر کوه، پس بېشکه تهٔ زمونږ د سترګو په وړاندې ئې ." ❹

## لاس

* الله تعالىٰ په صفاتو کې يو صفت د يَدَيْنو (دوه لاسونه) دی، څرنګ چې د هغه د شان سره لائق او مناسب وي، بغير د تجسيم، تشبيه او تمثيل نه، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿يٰۤاِبْلِيْسُ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَىَّ﴾ "ای ابليسه! تهٔ هغه کس ته د سجدې کولو نه څه شي منع کړې ، چې ما پخپلو دواړو لاسونو پيدا کړی دی ؟." ❺

❶ الزمر23:39 .
❷ بني إسرائيل30:17 .
❸ الرحمٰن27:55 .
❹ الطور48:52 .
❺ ص75:38 .



Scanned with CamScanner

* د الله تعالیٰ په صفت د "يد" باندې د يمين او شمال اطلاق کېږي، رسول الله ﷺ فرمائي:

"يَطْوِي اللهُ عَزَّوَجَلَّ السَّمَوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْـمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْـمُتَكَبِّرُونَ؟ ثُمَّ يَطْوِي الْأَرْضَ بِشِمَالِهِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْـمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْـمُتَكَبِّرُونَ"

"الله عزوجل به د قيامت په ورځ اسمانونه راونغاړي، بيا به ئې په ښي لاس سره ونيسي، بيا به ووائي: زه بادشاه يم، څه شول هغه طاقتور، څه شول هغه تکبر کوونکي؟ بيا به ونغاړي ځمکه په خپل ګس (چپ) لاس سره، بيا به ووائي: زه بادشاه يم، څه شول د دنيا طاقت والا، څه شول هغه تکبر کوونکي؟." (1)

چونکه رسول الله ﷺ اطلاق د شمال په لاسونو د الله کړی دی داسې لاسونه څرنګ چې د هغه له شان سره مناسب وي حديث پاك کې دي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "إِنَّ الْـمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ عَلٰى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمٰنِ عَزَّوَجَلَّ، وَ كِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ، الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَ أَهْلِيهِمْ وَ مَا وَلُوا." "بېشکه انصاف کوونکي به د الله په نيز د نور په منبرونو باندې وي، د رحمان بادشاه ښي طرف ته او دواړه لاسونه د الله ښي دي، دا مقسطين هغه کسان دي چې انصاف کوي په خپلو فيصلو کې او په خپل اهل کې او د هغه چا په باره کې چې دوی په هغوی مشران شوي دي." (2)

## (ساق) پنډۍ

* الله سبحانه و تعالیٰ لره ساق ثابت دی بغير د تمثيل، تشبيه، تجسيم او د تکييف نه، الله سبحانه و تعالیٰ فرمائي: ﴿يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَّيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝﴾ "او (ياده کړه) هغه ورځ چې پنډۍ به بربنډه کړی شي او دوی به سجدې کولو ته راوبللی شي، نو دوی به توان ونهٔ لري." (3)

(1) صحيح مسلم، حديث:2788 .
(2) صحيح مسلم، حديث:1827 ، و سنن النسائي: 5381.
(3) القلم68:42 .



Scanned with CamScanner

## قدم

* الله تعالیٰ لره قدم هم ثابت دی څنګه چې د هغه د جلال، عظمت او شان سره لایق وي، نبيﷺ فرمائي: ''لَا يَزَالُ يُلْقٰى فِيهَا وَ هِيَ تَقُوْلُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ، حَتّٰى يَضَعَ فِيهَا رَبُّ الْعَالَمِيْنَ قَدَمَهُ فَيَنْزَوِي بَعْضُهَا إِلٰى بَعْضٍ ثُمَّ تَقُوْلُ: قَدْ قَدْ، فَبِعِزَّتِكَ وَ كَرَمِكَ وَ لَا تَزَالُ الْجَنَّةُ تُفَضِّلُ حَتّٰى يُنْشِئَ اللهُ لَهَا خَلْقًا فَيُسْكِنُهُمْ فَضْلَ الْجَنَّةِ'' ''په جهنم کې به دوزخیان مسلسل اچول کېږي، او جهنم به وائي: نور شته؟ تردې چې الله رب العلمین به په هغه کې خپل قدم کېږدي، نو جهنم به بعضې بعضو لره راټول شي، بیا به ووائي: بس دی، بس دی، نو ستا په عزت او کرم مې دې قسم وي چې جنت به مسلسل د جنتیانو نه زیات وي تردې چې الله پاك د جنت دپاره نوی مخلوق پیدا کړي، نو هغوی به په دغه زیاتي جنت کې اوسي.'' [1]

## رِجل (پښه)

د رجل صفت الله تعالیٰ لره بغیر د تشبیه، تجسیم او تکییف نه څنګه چې د هغه د شان سره لائق وي ثابت دی، نبيﷺ فرمائي: ''فَأَمَّا النَّارُ فَلَا تَمْتَلِئُ حَتّٰى يَضَعَ رِجْلَهُ فَتَقُوْلُ: قَطْ، قَطْ، قَطْ، فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ وَ يُزْوٰى بَعْضُهَا إِلٰى بَعْضٍ وَ لَا يَظْلِمُ اللهُ مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا'' ''هر چې دوزخ دی، نو دی به نه ډکېږي تردې چې الله تعالیٰ به خپله پښه په کې کېږدي، نو وبه وائي: بس دی، بس دی، بس دی، نو په دغه وخت کې به ډك شي او ځینې به ځینو نورو حصو ته راټول شي او الله په خپل مخلوق کې په هیچا باندې ظلم نه کوي.'' [2]

## ګوته

د الله تعالیٰ د ګوتو صفت بغیر د تشبیه او تجسیم نه، څرنګ چې د هغه د شان سره مناسب او لائق وي، ثابت دی، د عبد اللهﷺ نه روایت دی چې د نبيﷺ خوا ته یو سړی راغی او

[1] صحیح البخاری، حدیث:7384 .
[2] صحیح البخاري، حدیث:4850 .



Scanned with CamScan

وئي ويل: "يَا أَبَا الْقَاسِمِ! إِنَّ اللهَ يُمْسِكُ السَّمَوَاتِ عَلٰى إِصْبَعٍ، وَالْأَرْضِينَ عَلٰى إِصْبَعٍ، وَالشَّجَرَ وَالثَّرٰى عَلٰى إِصْبَعٍ، وَالْخَلَائِقَ عَلَى إِصْبَعٍ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْـمَلِكُ، أَنَا الْـمَلِكُ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ ضَحِكَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ، ثُمَّ قَرَأَ ﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ﴾ "اى ابو القاسمه! ببشكه چې الله پاك اسمانونه راټينګوي په يوه ګوته او ځمكې راټينګوي په بله ګوته، ونې او اوبه په بله ګوته، او مخلوق په بله ګوته کې بيا به ووائي: زه بادشاه يم، زه بادشاه يم، نو ما رسول الله ﷺ وليدو چې وئې خندل تردې چې د جامې غاښونه ئې ښكاره شول، بيا ئې ولوستو، دوی د الله قدر ونه کړو څرنګ چې د الله قدر پکار و." [1]

## ضحك (خندا)

د الله تعالٰى يو صفت د "ضحك" (خندا دی، څرنګ چې د هغه د عظمت او جلال سره لائق وي، رسول الله ﷺ فرمائي: "يَضْحَكُ اللهُ إِلٰى رَجُلَيْنِ: يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ، يَدْخُلَانِ الْجَنَّـةَ يُقَاتِلُ هٰذَا فِي سَبِيلِ اللهِ، فَيَقْتُلُ ثُمَّ يَتُوبُ اللهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْتَشْهَدُ" "الله تعالٰى د هغو دوه كسانو په باره کې خاندي چې يو د دوی نه بل وژني او دواړه جنت ته داخل شي، دا يو د الله په لاره کې جهاد وکړي او شهيد شي، بيا دا قاتل د كفر نه توبه وباسي، بيا دی په جنګ کې شهيد شي." [2]

## فرح (خوشالي)

د الله تعالٰى يو صفت د فرح (خوشحالی) دی، څرنګ چې د هغه د جلال سره لائق وي، انس رضی الله عنه وائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "اَللهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ سَقَطَ عَلٰى بَعِيرِهِ وَقَدْ أَضَلَّهُ فِي أَرْضِ فَلَاةٍ" "خامخا الله پاك د خپل بنده په توبه باندې د هغه كس نه هم زيات خوشحالېږي چې په بيابان او صحرا کې خپل ورك كړی اوښ ومومي." [3]

1. صحيح البخاري، حديث: 7415.
2. صحيح البخاري، حديث: 2826.
3. صحيح البخاري، حديث: 6309.



Scanned with CamScanner

## عجب

د الله تعالی په صفاتو کې یو صفت د "عجب" دی، رسول اللهﷺ فرمائي: "عَجِبَ اللهُ مِنْ قَوْمٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ فِي السَّلَاسِلِ" "الله تعالی تعجب کوي د هغه قوم نه چې هغوی جنت ته داخلېږي په ځنځيرونو کې." [1]

## نفس

الله تعالی د نفس اطلاق په خپل ځان باندې کړی دی، زمونږ پرې ایمان دی، څرنګ چې د هغه د شانه سره مناسب دي، الله تعالی فرمائي: ﴿تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ﴾ "نو یقینًا تاته به معلومه وَی ، تهٔ عالم ئې په هر هغه څه چې زما په نفس کې دي او زهٔ نهٔ پوهېږم په هغه څه چې ستا په نفس کې دي ، بېشکه هم تهٔ په غیبو ښه عالم ئې." [2]

## شيء

الله تعالی په خپل ځان باندې د شي اطلاق کړی دی، زمونږ پرې ایمان دی. بغیر د تشبیه، تمثیل او تجسیم نه، الله فرمائي: ﴿قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللَّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ﴾ "تهٔ ووایه: د ګواهۍ په لحاظ کوم شی تر ټولو لوی دی؟ تهٔ ووایه: الله دی ، (هغه) زما په مینځ کې او ستاسو په مینځ کې ګواه دی." [3] ﴿وَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ لَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ "او تهٔ د الله سره بل هېڅ معبود مهٔ بله (ځکه چې) د عبادت هېڅ لائق نشته مګر هغه دی ، د هغهٔ د مخ (ذات) نه غیر هر څيز فنا کېدونکی دی حکم خاص د هغهٔ دپاره دی او خاص هغهٔ ته به تاسو بېرته بوتلی شئ." [4]

---

1. صحيح البخاري، حديث:3010 .
2. المآئدة 116:5 .
3. الأنعام 19:6 .
4. القصص88:28 .



Scanned with CamScan

## صورت

د الله تعالیٰ دپاره صورت ثابت دی، خو نه لکه د نورو صورتونو بلکې كَمَا يَلِيقُ بِعَظَمَتِهِ لَا يُشْبِهُ مِنْ مَخْلُوقَاتِهِ شَيْءٌ، رسول اللهﷺ فرمائي: "فَإِذَا جَاءَنَا رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ فَيَأْتِيهِمُ اللهُ فِي صُورَتِهِ الَّتِي يَعْرِفُونَ، فَيَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ، فَيَقُولُونَ: أَنْتَ رَبُّنَا" "كله چې مونږ ته زمونږ رب راشي، نو دوی ته به الله په هغه صورت او شکل کې راځي چې دوی ئې پيژني، نو ورته وبه وائي: زه ستاسو رب یم، دوی به ووائي: يقينًا ته زمونږ رب ئې." (1)

## مجيء (راتلل)

د الله تعالیٰ یو صفت د اضافت (راتللو) دی، څرنګ چې د هغه د شان سره لائق وي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا﴾ "او ستا رب راشي او ملائك قطار قطار (راشي)." (2)

## اتيان (راتلل)

د الله تعالیٰ یو صفت د اتيان (راتلل) دی، څرنګ چې د هغه د شیان او عظمت سره لائق وي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ أَوۡ يَأۡتِيَ بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ﴾ "دوی انتظار نهٔ کوي مګر ددې چې دوی ته ملائك راشي ، یا ستا رب راشي ، یا ستا د رب ځینې نښې راشي ، په کومه ورځ کې چې ستا د رب ځینې نښې راشي." (3)

## اتيان او مجيء

چې الله تعالیٰ ته مضاف وي هغه دوه قسمه دي: مطلق او مقيد، کله چې د اتيان او مجئ نه مراد رحمت یا عذاب وي، نو په هغه سره دغه اتيان او مجئ مقيد کړي، لکه حديث شريف کې دي. "حَتَّى جَاءَ اللهُ بِالرَّحْمَةِ وَالْخَيْرِ" تردې چې الله تعالیٰ خپل رحمت او خير راوړي يا

(1) صحيح البخاري، حديث: 7437 .
(2) الفجر89:22 .
(3) الأنعام 6:158 .

په قرآن کريم کې دي. ﴿وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ﴾ "او يقينًا يقينًا مونږ دوی ته کتاب راوړی دی چې مونږ د علم له مخې په تفصيل سره بيان کړی دی." (1)

او که د اتيان او مجيئ نه د الله تعالٰی مجيئ او اتيان مراد وي نو هغه مطلق وي، مقيد نه وي لکه په ذکر شويو ايتونو کې دي.

* د الله تعالٰی په صفاتو کې يو صفت "قبض او بسط" دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَ يَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾ "او الله تنګي راولي او (هغه) فراخي راولي، او تاسو به خاص هغهٔ ته بېرته ورګرځول کېږئ." (2)

### امساك (ټينګول)

د الله تعالٰی په صفاتو کې يو صفت امساك (نيول) دي، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ﴾ "او هغه اسمان ساتي لهٔ دې نه چې په ځمکه باندې راولوېږي مګر (خو) د هغهٔ په حکم سره." (3) ﴿اَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ ۭ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ﴾ "ايا دوی مرغانو ته نهٔ دي کتلي چې د اسمان په فضا کې مسخر کړی شوي دي، دوی لره نهٔ ساتي (د غورځېدلو نه) مګر الله." (4)

### قبضه

د الله تعالٰی په صفاتو کې يو صفت د "قبضه" (موټی) دی څرنګه چې د هغه د جلال سره مناسب وي، الله فرمائي: ﴿وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ بِيَمِيْنِهٖ ۭ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ﴾ "او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونهٔ کړ د هغهٔ حق تعظيم. حال دا چې ځمکه ټوله ددهٔ په قبضه کې ده (ددهٔ قبضه کړی شوې ده) د قيامت په ورځ کې او اسمانونه ددهٔ په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ددهٔ

(1) الأعراف 52:7.
(2) البقرة 245:2.
(3) الحج 65:22.
(4) النحل 79:16.



Scanned with CamScan

لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی د هغو څيزونو نه چې دوی ئې (د هغهٔ سره) شريکوي." (1)

### رضا

د الله په صفاتو کې يو صفت د "رضا" دی، څرنګ چې د هغه دد شان سره لائق وي، الله فرمائي: ﴿رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾ "الله لهٔ دوئ نه راضي شوی دی او دوئ د هغهٔ نه راضي شوي دي." (2)

### غضب

د الله تعالیٰ په صفاتو کې يو صفت د غضب او لعنت دی څرنګ چې د هغه د شان سره لائق وي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾" او الله په دهٔ باندې غضب کړے دے او په دهٔ ئې لعنت کړے دے او ددهٔ دپاره ئې ېخې لوی عذاب تيار کړے دے." (3)

### سخط (غصه)

د الله تعالیٰ په صفاتو کې يو صفت د "سخط" دی، څرنګ چې د هغه د شان سره لائق وي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ﴾ "دغه په دې سبب چې يقينًا دوئ د هغه شي متابعت وکړ چې الله ئې ناراضه کړ." (4)

### کره

د الله په صفاتو کې يو صفت "کره (بد ګڼل)" دی، څرنګ چې د هغه د شان سره لائق وي، الله فرمائي: ﴿وَلَٰكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ﴾ "او لېکن الله ددوی پورته کېدل (د جهاد دپاره) نهٔ ؤ خوښ کړي." (5)

(1) الزمر39:67 .
(2) البينة 8:98.
(3) النسآء4:93 .
(4) محمد47:28 .
(5) التوبة 46:9 .



Scanned with CamScanner

## اسف او انتقام

د الله تعالٰى د صفاتو نه يو صفت "أسف او انتقام" دی، څرنګ چې د هغه د شان سره لايق وي، الله تعالٰى فرمائي: ﴿فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ﴾ "نو کله چې دوی مونږ خفه کړو (، نو) مونږ ددوی نه انتقام واخست." ❶

## مقت

د الله تعالٰى په صفاتو کې يو صفت د "مقت" دی، څرنګ چې د هغه د شان سره لايق وي، الله پاك فرمائي: ﴿لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ﴾ "يقينًا (تاسو ته) د الله غصه کېدل ډېر لوئ ؤ ستاسو خپلو ځانونو ته د غصه کېدلو نه." ❷

## اضافت

د کلمې اضافت الله ته صحيح او درست دی، الله تعالٰى فرمائي: ﴿وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ﴾ "او د الله کلماتو لره هيڅوک اړونکی نشته." ❸ ﴿وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ۚ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ﴾ "او د رښتينولۍ او عدل لۀ لحاظه ستا د رب خبره کمال ته رسېدلې ده، د هغۀ کلماتو لره هيڅوک بدلونکی نشته." ❹

* اضافت د قول الله تعالٰى ته صحيح او درست دی، الله پاك فرمائي: ﴿فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ﴾ "نو په مونږه باندې زمونږ د رب خبره ثابته شوه، يقينًا مونږ خامخا (عذاب لره) څکونکي يو." ❺

* د امر اضافت الله تعالٰى ته جائز او درست دی، الله پاك فرمائي: ﴿وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا

❶ الزخرف43:55 .
❷ المؤمن40:10 .
❸ الأنعام6:34 .
❹ الأنعام6:115 .
❺ الصافات37:31 .



Scanned with CamScanner

مَّقۡدُوۡرًا﴾ "او دی د الله امر قطعي تاکل شوې فيصله."[1]

د دار اضافت الله تعالیٰ ته صحيح او درست دی، ځرنګ چې د بيت اضافت الله تعالیٰ ته صحيح او درست دی، رسول اللهﷺ د شفاعت په حديث کې فرمائي: "فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ ... ثُمَّ أَعُودُ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ .... ثُمَّ أَعُودُ الثَّالِثَةَ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ" "پس زه به اجازت وغواړم د خپل رب نه په کور د ده (جنت) کې، ماته به هغه ته د ورتلو اجازت وشي، بيا به واپس شم او طلب د اجازت به وکړم د خپل رب نه دويم کرت په کور دده کې، نو ماته به هغه ته د ورتلو اجازت وشي بيا به زه واپس شم دريم کرت ، پس طلب د اجازت وکړم د خپل رب نه په کور دده کې، نو ماته به هغه ته د ورتلو اجازت راکړی شي." [2]

**نوټ**: يا د ساتل پکار دي چې الله تعالیٰ ته د يو شي په اضافت کې به يا دغه شی عين وي يا به وصف وي، که عين (ذات) وي، لکه بيت الله، ناقة الله، عباد الله، عباد الرحمن، دَارَهُ، نو نسبت د دغه اعيانو الله ته ثابت دی په طريقې د خَلْق او مِلْك سره چې دا اعيان د الله د مخلوق دي، د الله تعالیٰ په ملك کې دي، نو دا اضافت اضافت تشريفي دی او که وصف وي، لکه علم الله، کلام الله کلمة الله، قدرة الله، ارادة الله، نو دا اضافت اقتضاء کوي قيام ددغه وصف په الله پورې او دا چې الله موصوف دی په دغه اوصافو باندې. کله چې سلفو دی فرق ته سوچ او فکر وکړ، نو الله تعالیٰ ورته هدايت وکړ او کله چې جهم او د هغه تابعدارو دا فرق ونه کړ، نو هغوی ګمراه شول.

## نداء

مخلوق ته د قيامت په ورځ د الله "نداء" (اواز کول) حق دی، زمونږ پرې ايمان دی، ځرنګ چې د هغه د شان سره مناسب وي، الله فرمائي: ﴿وَيَوۡمَ يُنَادِيۡهِمۡ فَيَقُوۡلُ اَيۡنَ شُرَكَآءِیَ الَّذِيۡنَ كُنۡتُمۡ تَزۡعُمُوۡنَ ○﴾ "او (ياده کړه) هغه ورځ چې دوی ته به هغه (الله) اواز وکړي، نو

[1] الأحزاب33:38 .

[2] صحيح البخاري، حديث:7440 .



Scanned with CamScanner

وبه وائي: زما هغه شريكان چېرته دي چې تاسو به ګڼل؟."[1]

## صوت

د الله تعالیٰ په صفاتو کې يو صفت د "صوت" دی حقيقةً، چې د مخلوق د صورت سره مشابه او مثيل نه دی، رسول اللهﷺ فرمائي: "يَحْشُرُ اللهُ الْعِبَادَ ... فَيُنَادِيهِمْ بِصَوْتٍ يَسْمَعُهُ مَنْ بَعُدَ كَمَا يَسْمَعُهُ مَنْ قَرُبَ: أَنَا الْـمَلِكُ، أَنَا الدَّيَّانُ" "الله به (د قيامت په ورځ) بندګان راجمع کړي نو اواز به ورته وکړي په داسې اواز سره چې هغه به اوری هغه څوک چې لرې دي، لکه څرنګه چې هغه څوک اوري چې نزدې دي، زه بادشاه يم، زه ديان يم." [2]

## نزول

د الله رب العزة په صفاتو کې يو صفت د "نزول" دی، كَمَا يَلِيقُ بِشَأْنِهِ، بغير د تشبيه او تجسيم نه، رسول اللهﷺ فرمائي: "يَنْزِلُ رَبُّنَا كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى سَمَآءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ فَيَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ؟ مَنْ يَسْأَلُنِي، فَأُعْطِيَهُ؟ وَ مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي، فَأَغْفِرَ لَهُ؟" "الله تبارك و تعالیٰ راکوزېږي هره شپه دې نزدې اسمان ته، کله چې اخرينی دريمه حصه د شپې پاتې شي نو وائي چې څوک دی چې دعا رانه وغواړي چې زه د هغه دعاء قبوله کړم؟ څوک دی چې رانه سوال وکړي چې زه ئې ورته ورکړم؟ څوک دی چې زما مغفرت وُ غواړي چې ورته بخشش وکړم." [3]

## نَجْوٰی

د الله تعالیٰ په صفاتو کې يو صفت د نجوی (پټې خبرې کولو) دی د قيامت په ورځې، كَمَا يَلِيقُ بِشَأْنِهِ، رسول اللهﷺ فرمائي: "يَدْنُو أَحَدُكُمْ مِنْ رَّبِّهِ حَتَّى يَضَعَ كَنَفَهُ عَلَيْهِ

[1] القصص28:62.
[2] الأدب المفرد للبخاري، حديث: 970، و مسند أحمد: 3/395.
[3] صحيح البخاري، حديث:7494.



Scanned with CamScan

فَيَقُولُ: أَعَمِلْتَ كَذَا وَ كَذَا؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ، وَ يَقُولُ: عَمِلْتَ كَذَا وَ كَذَا؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ فَيُقَرِّرُهُ، ثُمَّ يَقُولُ: إِنِّي سَتَرْتُ عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَ أَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ""په تاسو کې به يو خپل رب ته نږدې شي تردې چې خپل جانب به په ده باندې کېږدي، نو الله به ورته ووائي: ايا تا دا عمل کړی دی؟ بنده به ووائي: هو، بيا به ورته ووائي چې فلانی فلانی کار دې کړی دی؟ بنده به ووائي چې هو، نو الله به وربانديې اقرار وکړي، بيا به ورته ووائي: ګوره! په دنيا کې مې دربانديې پرده اچولې وه، نن ئې درته دغه ګناهونه ښښم." [1]

## لقاء

د الله تعالٰی سره د قيامت په ورځ ملاقات حق دی، الله تعالٰی فرمائي: ﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللهِ﴾"يقينًا هغه کسان تاوانيان شوي دي چا چې د الله ملاقات دروغ ګڼلی دی." [2]

## په قيامت کې د الله تعالٰی د رؤيت، يعنې ليدو مسئله

مونږ د قيامت په ورځ د الله تعالٰی په رؤيت (ليدو) باندې ايمان لرو او دا يوه جازمه پخه عقيده ده چې مومنانو به د قيامت په ورځ الله پاك په خپلو سترګو ويني، د الله به زيارت کوي، خبرې به ورسره کوي او الله به له دوی سره خبرې کوي، الله تعالٰی فرمائي: ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ۝ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ۝﴾"په دغې ورځ کې به څه مخونه تازه روښانه وي. خپل رب ته به کتونکي وي." [3]

او رسول اللهﷺ فرمائي: "إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هٰذا الْقَمَرَ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لَا تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ""بېشکه تاسو به خپل رب وينئ، لکه چې سپوږمۍ وينئ، په داسې حال کې چې د څوارلسمې شپې وي، تاسو د هغې په ليدو کې هېڅ تکليف نه محسوسوئ." [4]

[1] صحيح البخاري، حديث:7514 .
[2] الأنعام6:31 .
[3] القيامة75:22,23 .
[4] صحيح البخاري، حديث:7434 ، و صحيح مسلم، حديث: 633.



Scanned with CamScan

## ختم نبوة

ختم نبوة حق دی، زمونږ پرې ايمان دی او په دې باندې د قرآن او حديث نه دلائل موجود دي، الله پاك فرمائي: ﴿وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾ "او لېکن د الله رسول دی او دنبيانو (دلړی) ختمونکی دی."❶

او رسول الله ﷺ فرمائي: "أَنَا الْعَاقِبُ والْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَه نَبِيٌّ" "زه وروستنی يم او وروستنی هغه وي چې د هغه نه وروسته نبي نه وي." ❷ "أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي" "زه ختمونکی د پېغمبرانو يم، زما نه وروسته نبي نشته." ❸ "أُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً وَ خُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ" "زه ټول مخلوق نه لېږلی شوی يم او په ما باندې نبيان ختم کړی شوي دي."❹

## معراج

د رسول الله ﷺ معراج حق دی، زمونږ پرې ايمان دی چې رسول الله ﷺ د روح مع الجسد سره اسمانونو ته خيژولی شوی و. د انس بن مالك عن مالك بن صعصعه اوږد حديث دی، په هغه کې راځي چې رسول الله ﷺ فرمائي:

"فَانْطَلَقَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ ... ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَاسْتَفْتَحَ .... ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّالِثَةَ فَاسْتَفْتَحَ .... ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ فَاسْتَفْتَحَ .... ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الْخَامِسَةَ فَاسْتَفْتَحَ .... ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ السَّادِسَةَ فَاسْتَفْتَحَ .... ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ السَّابِعَةَ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلِ ... ثُمَّ

❶ الأحزاب33:40 .
❷ صحيح مسلم، حديث:2354 ، جامع الترمذي، حديث: 2840.
❸ جامع الترمذي، حديث:2219 .
❹ مسند أحمد:412/2 .



Scanned with CamScan

رُفِعْتُ إِلٰى سِدْرَةِ الْـمُنْتَهٰى .... فَلَمَّا جَاوَزْتُ نَادٰى مُنَادٍ أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي وَ خَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي''

''پس زه جبرئیل بوتلم تردې چې دې نژدې اسمان ته ورسېد او د دروازې د خلاصولو طلب ئې وکړ، بیا ئې زه وخیژولم تردې چې دویم اسمان ته ورسېد او د دروازې د خلاصولو طلب ئې وکړ، بیا ئې زه وخیژولم تردې چې دریم اسمان ته ورسېد او د دروازې د خلاصولو طلب ئې وکړ ، بیا ئې زه وخیژولم تردې چې څلورم اسمان ته ورسېد او د دروازې د خلاصولو طلب ئې وکړ ، بیا ئې وخیژولم تردې چې پنځم اسمان ته ورسېد او د دروازې د خلاصولو طلب ئې وکړ ، بیا ئې وخیژولم تردې چې شپږم اسمان ته ورسېد او د دروازې د خلاصولو طلب ئې وکړ ، تردې چې اوم اسمان ته ورسېد، نو جبریل د دروازې د پرانستلو طلب وکړ، بیا سدرة المنتهی ته پورته کړی شوم کله چې تېر شوم د موسیٰ علیه السلام نه نو اواز وکړ یو اواز کوونکي، ما پوره کړه خپل فریضه او تخفیف مې وکړ په خپلو بندګانو.'' [1]

## حوض کوثر

حوض کوثر حق دی چې الله پاك په هغه سره خپل رسول ﷺ معزز کړی دی د قیامت په ورځ د خپل امت د خړوبولو دپاره او زمونږ پرې ایمان دی، کوم احادیث چې د حوض کوثر په باره کې وارد دي هغه د تواتر حد ته رسیدلي دي. تقریبًا څه دپاسه دیرش صحابه ؤ نه روایت دي، رسول الله ﷺ فرمائي: ''إِنَّ قَدْرَ حَوْضِي كَمَا بَيْنَ أَيْلَةَ وَ صَنْعَاءَ مِنَ الْيَمَنِ وَ إِنَّ فِيهِ مِنَ الْأَبَارِيقِ كَعَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ'' ''بېشکه زما د حوض اندازه او مقدار دومره دی، لکه د ایله او د یمن د صنعاء تر مینځ فاصله او د ګیلاسونو شمېر د اسمان د ستورو په شمېر دی.'' [2]

## شفاعت

د رسول الله ﷺ شفاعت په ورځ د قیامت کې حق دی، زمونږ پرې ایمان دی، رسول

[1] صحيح البخاري، حديث:3887 .

[2] صحيح البخاري، حديث:6580 ، و صحيح مسلم، حديث: 2303، و مسند أحمد: 225/3، 238 .



Scanned with CamScanner

اللهﷺ په يو اوږد حديث کې فرمائي: "فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي عَزَّوَجَلَّ، ثُمَّ يَفْتَحُ اللهُ عَلَيَّ وَ يُلْهِمُنِي مِنْ مَحَامِدِهِ وَ حُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ عَلَى أَحَدٍ قَبْلِي، ثُمَّ يُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ! ارْفَعْ رَأْسَكَ سَلْ تُعْطَهُ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ: أُمَّتِي يَا رَبِّ، أُمَّتِي يَا رَبِّ. فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ! أَدْخِلْ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَاحِسَابَ عَلَيْهِمْ مِنَ الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ؟" زه به راشم، د عرش لاندې به خپل رب ته په سجده پرېوځم، بیا به الله تعالیٰ راته د حمدونو لارې پرانیځي او الهام به وکړي راته د ښې او غوره ثناء، د داسې حمدونو لارې به راته پرانیځي چې زما نه مخکې به ئې هیچا ته نه وې ښودلې، بیا به راته وویلې شي چې ای محمده! سر دې راپورته کړه سوال کوه چې درکړې شي، سفارش کوه چې سفارش دې قبول کړې شي، نو زه به ووایم چې ای ربه! زما امت، ای ربه زما امت، نو ماته به وویل شي: ای محمده! داخل کړه د خپل امت نه دې جنت ته هغه کسان چې په هغو باندې حساب نشته د جنت په دروازو کې د ښي دروازې نه."[1]

## لوح او قلم

لوح او قلم حق دي، زمونږ پرې ایمان دی او هم په ټولو هغو څیزونو ایمان لرو چې هغه لیکل شوي دي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ۝ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ۝﴾ "بلکې دغه د لوئ قدر والا قرآن دی، په لوح محفوظ کې دی."[2] ﴿نٓ ۚ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ۝﴾ "ن، قسم دی په قلم او په هغه څه چې دوی ئې لیکي."[3]

## عرش او کرسی

عرش او کرسي حق دي، زمونږ پرې ایمان دی، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ ۝ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ۝﴾ "دعرش مالک دی ، لوئ شان (او عزت) والا دی. کوونکی دی ډېر

[1] صحيح البخاري، حديث:4712 .
[2] البروج 22,21:85 .
[3] القلم 1:68 .

هغه څه لره چې دی ئې اراده وكړي." ❶ ﴿وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ﴾"د هغهٔ كرسی اسمانونه او ځمكه راځای كړي (راګېر) كړي دي." ❷

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: كرسي د رب د قدمونو ځای دی او د عرش اندازه د الله نه سوا څوك نشي لګولی. "الْكُرْسِيُّ مَوْضِعُ الْقَدَمَيْنِ وَالْعَرْشُ لَا يَقْدِرُ قَدْرَهُ إِلَّا اللهُ تَعَالَى" "كرسی ځای د قدمونو دی او د عرش په اندازه د الله تعالٰى سوا نه بل څوك نه پوهېږي." ❸

## اهل قبله

اهلِ قبله ته مونږه مسلمانان وايو، ترڅو چې دوی په هغه شريعت اعتراف كوونكي وي، چې هغه رسول الله ﷺ راوړی دی، او د رسول الله ﷺ د وركړو اخبارو تصديق كوي، انس رضي الله عنه فرمائي: "مَنْ شَهِدَ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا وَ صَلَّى صَلَاتَنَا وَ أَكَلَ ذَبِيحَتَنَا فَهُوَ الْـمُسْلِمُ لَهُ مَا لِلْمُسْلِمِ وَ عَلَيْهِ مَا عَلَى الْـمُسْلِمِ ""چاچې دا ګواهي وركړه چې حق معبود نشته مګر الله او زمونږ د لمونځ په شان ئې لمونځ وكړ او زمونږ قبلې ته ئې مخ كړو او زمونږ ذبيحه (حلاله) ئې وخوړه نو دا مسلم دی دده دپاره هغه څه دي چې د مسلمان دپاره دي او په ده باندې هغه څه دي چې په مسلمان باندې دي." ❹

زمونږ دا عقيده ده چې اهل قبله د ګناه په وجه نه كافر كوو، ترڅو چې دغه ګناه ئې حلاله نه وي ګڼلې او دا هم نه وايو چې هېڅ ګناه د ايمان سره مضره نه ده. رسول الله ﷺ فرمائي: "كَانَ رَجُلَانِ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ مُتَوَاخِيَيْنِ، فَكَانَ أَحَدُهُمَا يُذْنِبُ وَ الْآخَرُ مُجْتَهِدٌ فِي الْعِبَادَةِ، فَكَانَ لَا يَزَالُ الْـمُجْتَهِدُ يَرَى الْآخَرَ عَلَى الذَّنْبِ، فَيَقُولُ: أَقْصِرْ، فَوَجَدَهُ يَوْمًا عَلَى ذَنْبٍ، فَقَالَ لَهُ: أَقْصِرْ، فَقَالَ: خَلِّنِي وَ رَبِّي، أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيبًا؟

❶ البروج 85:15,16 .
❷ البقرة 2:255 .
❸ ظلال الجنة، ص:102 .
❹ صحيح البخاري، حديث:393 .



Scanned with CamScan

فَقَالَ: وَالله! لَا يَغْفِرُلَكَ اللهُ أَوْ لَا يُدْخِلُكَ اللهُ الْجَنَّةَ، فَقُبِضَ أَرْوَاحُهُمَا، فَاجْتَمَعَا عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، فَقَالَ لِهٰذَا الْـمُجْتَهِدِ: أَكُنْتَ بِي عَالِمًا أَوْ كُنْتَ عَلَى مَا فِي يَدِي قَادِرًا؟ وَ قَالَ لِلْمُذْنِبِ: اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي. وَ قَالَ لِلْآخَرِ: اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ. قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ! لَتَـكَلَّمَ كَلِمَةً أَوْبَقَتْ دُنْيَاهُ وَ آخِرَتَهُ" په بني اسرائيلو کې دوه سړي وو، د دواړو سره وروروولي وه، يو به ګناهونه کول او بل په عبادت کې کوشش کاوه، دې عبادت کوونکی به همېش هغه بل ته نصيحت کاوۀ چې بس کړه، نو يو ورځ ئې په يوه ګناه وليدو، نو ورته وئې ويل چې بس کړه، هغه ورته وويل چې ما پرېږده او زما رب، ايا ته په ما نګهبان لګېدلی ئې؟ دې عبادت ګذار ورته وويل چې په الله مې دې قسم وي چې الله به دې نه ښښي او نه به دې جنت ته داخلوي، نو دواړه مړه شول، د الله رب العالمين سره مخامخ شول، الله پاك ويل دې عبادت ګذار ته، ايت ته په ما عالم وې؟ ايا ته په هغه څه قادر وې چې زما په لاس کې دي. او ګناهګار ته ئې وويل ته جنت ته ننوځه زما په رحمت سره او د عبادت ګذار په باره کې ئې وويل دا جهنم ته بوځئ، ابوهريره رضي الله عنه فرمائي: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، دې عبادت ګذار داسې خبره وکړه چې په هغې سره ئې خپله دنيا هم خرابه کړه او خپل اخرت هم." [1]

په بل حديث کې راځي چې نبي ﷺ فرمائي: "مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلِمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَّا يَكُونَ دِينَارٌ وَ لَا دِرْهَمٌ، إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلِمَتِهِ، وَ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّأَتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ"" د چا سره چې د خپل ورور څه زياتی وي چې دا زياتی ئې د هغه په ابرو يا په بل شي کې کړی وي، نو هغه دې نن ورنه ښښنه وغواړي مخکې ددې نه چې نه وي دينار او درهم که چرته دده عمل صالح وي، نو وابه خستی شي له ده نه په اندازه د زياتي دده، او که نېکيانې ئې نه وي: نو چا سره ئې چې زياتی کړي دی د هغه ګناهونه به واخستی شي او په ده باندې به وغورزولی شي." [2]

[1] سنن أبي داود، حديث:4901 .

[2] صحيح البخاري، حديث:2449 .



Scanned with CamScan

### اهل کبائر

زمونږ دا عقيده ده چې د امت محمدي اهل کبائر به مُخَلَّد في النار نه وي. بلکې دا د الله تعالیٰ مشيت پورې تعلق لري که خوښه ئې شي مغفرت به ورته وکړي او که خوښه ئې شي، نو عذاب به ورته ورکړي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾ "او بخښي هغه (ګناهونه) چې لۀ دې (شرک، کفر) نه کم دي، چا دپاره چې ئې وغواړي." [1] ﴿اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝﴾ "که چېرې تۀ دوی ته عذاب ورکوې ، نو يقينًا دوی ستا بندګان دي او که چېرې تۀ دوی ته بخښنه کوې ، نو بېشکه هم تۀ ډېر غالب ، ښه حکمت والا ئې." [2]

### اقتداء

مونږ دا عقيده لرو چې د پېښې په وخت کې لمونځ په هر چا پسې کېږي که نېك وي او که فاجر وي. په دې شرط چې مؤحد د أهل قبله ؤ نه وي، د عثمان رضي الله عنه نه تپوس وشو، نو هغه وفرمايل: "اَلصَّلَاةُ أَحْسَنُ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ فَإِذَا أَحْسَنُوا فَأَحْسِنْ مَعَهُمْ وَ إِذَا أَسَاؤُا فَاجْتَنِبْ إِسَائَتَهُمْ" "لمونځ بهترين شی دی چې خلق ئې کوي، کله چې خلق نېکي کوي، ته هم ورسره نېکي کوه او کله چې بدي کوي، نو ته د هغو د بدی‌نه ځان وساته." [3]

د عبد الله بن عمر او انس رضي الله عنهم لمونځ حجاج بن يوسف پسې سره د فسق د هغه نه معروف دی، هم دارنګه د عبد الله بن مسعود وغيره صحابه‌و مونځ وليد بن عقبه بن ابي معيط پسې معروف دی، حالانکه کله کله به ئې د شرابو د نشې په حالت کې هم لمونځ ورکړو. خو فاسق فاجر مستقل امام راتب ګرځول نه دي پکار.

### حتمي فيصله

زمونږ دا عقيده ده چې د هېڅ فرد معين د أهل قبله ؤ دپاره د جنت حکم نه کوو. او

[1] النسآء 4:48،116.

[2] المآئدة 5:118 .

[3] صحيح البخاري، حديث:695 .



Scanned with CamScanner

نه د هېڅ کس د أهل قبله و دپاره دوزخ حکم کوو. بلکې مونږ ئې سپارو د الله تعالٰی مشيت ته، ځکه چې الله فرمائي: ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَـٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ۝﴾ "او تهٔ د هغه شي پيروي مهٔ کوه چې تاته د هغهٔ علم نهٔ وي، بېشکه غوږ او سترګه او زړهٔ ، هر يو لهٔ دغو (درې واړو) دی د هغه په حقله تپوس کړی شوی." [1]

## قتل

مونږ د هېڅ اهل قبلې قتل جائز نه ګڼو مګر د هغه چا چې شريعت د هغه د قتل اجازت کړی وي، رسول اللهﷺ فرمائي: "لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِءٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَ أَنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: اَلثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْـمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ" "د هېڅ مسلمان وينه حلاله نه ده چې ګواهي کوي په دې چې نشته دی معبود برحق سوا د الله نه او ګواهي کوي چې زه د الله رسول يم مګر په درې اسبابو کې د يو په سبب ① (واده کړی) زناکار. ② قاتل چې په قصاص کې قتل کړی شي. ③ مرتد چې خپل دين پرېږدي او د مسلمانانو د جماعت نه جدا شي." [2]

## خروج

مونږ د مسلمان حاکم په خلاف خروج جائز نه ګڼو اګر چې ظالم وي او نه ورته بد دعا کوو او نه ئې د اطاعت نه لاس اخستل جائز ګڼو او د مسلمان حاکم اطاعت بعينه د الله اطاعت ګڼو چې هغه فرض کړی دی، ترڅو چې أمر بالمعصيت ئې نه وي کړی او ورته دعا کوو، ا لله فرمائي: ﴿أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَأُو۟لِى ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ﴾ "د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر د خاوندانو." [3]

رسول اللهﷺ فرمائي: "مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ، وَ مَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ،

[1] بني إسرائيل17: 36 .
[2] صحيح مسلم، حديث: 1676 .
[3] النسآء4: 59 .



Scanned with CamScanner

وَ مَنْ يُّطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَ مَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي""چا چې زما اطاعت وکړ، نو بېشکه هغه د الله اطاعت وکړ چا چې زما نافرماني وکړه، نو بېشکه هغه د الله نافرماني وکړه، چا چې د امير اطاعت وکړ بېشکه هغه زما اطاعت وکړ او چا چې د امير نافرماني وکړه بېشکه هغه زما نافرماني و کړه." [1] "عَلَى الْـمَرْءِ الْـمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيمَا أَحَبَّ وَ كَرِهَ، إِلَّا أَنْ يُّؤْمَرَ بِمَعْصِيَةٍ، فَإِنْ أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَ لَا طَاعَةَ""په مسلمان سړي باندې سمع او طاعت لازم دی. په هر هغه څه کې چې خوښه ئې وي او که ئې نه وي مګر تر هغه پورې چې امر په ګناه ورته وشي، نو کله چې امر په معصيت ورته وشي، بيا نه اورېدل پکار دي او نه اطاعت پکار دی." [2]

## اتفاق

مونږ د اهل السنه والجماعة موافقت کوو او د شذوذ، خلاف، او تفرقې نه ځان ساتو، الله تعالیٰ وائي:﴿وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا﴾"او تاسو د الله په رسۍ (تړول) په جمع سره منګولې خښې کړئ او سره بېلېږئ مه." [3] ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَ كَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ ۭ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ اِلَى اللّٰهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ﴾"بېشکه هغه کسان چې خپل دين ئې تار په تار کړی دی ، او دوی فرقې فرقې شول، تهٔ له دوی نه په هېڅ شي کې نه ئې ، يقينًا خبره همدا ده چې ددوی معامله الله ته (سپارل شوې) ده ، بيا به هغه دوی ته د هغو کارونو خبر ورکوي چې دوی کول." [4]

## اهل عدل

مونږ د اهل عدل او امانت سره محبت او د اهل ظلم او خيانت سره بغض کوو، الله فرمائي:

[1] صحيح البخاري، حديث:2957 ، و صحيح مسلم، حديث: 1835.
[2] صحيح البخاري، حديث:7144 ، و صحيح مسلم، حديث: 1839 و اللفظ له.
[3] آل عمرٰن3:103 .
[4] الأنعام6:159 .

﴿إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ﴾ "بېشکه الله د انصاف کوونکو سره مينه کوي." ❶ ﴿وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ﴾ "او الله د ظالمانو سره مينه نهٔ کوي." ❷ ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ۝﴾ "بېشکه الله خيانت کوونکي (وعده ماتونکي) نهٔ خوښوي." ❸

✳ د کومو شيانو علم چې په مونږ مشتبه شي او پته راته ونه لګي، نو مونږ د هغو په باره کې اَللّٰه أَعْلَم وايو، الله پاك فرمائي: ﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ﴾ "او د هغه چا نه لوئ ګمراه څوک دی، چې د خپل خواهش پيروي کوي، بې لهٔ هدايته د الله لهٔ جانبه." ❹ ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾ "او په خلقو کې ځينې هغه دي چې د الله په باره کې بې لهٔ علمه جګړه کوي." ❺

رسول اللهﷺ فرمائي: "اَللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ" "الله تعالیٰ ښه پوه دی په هغه څه چې دوی ئې کوونکي وو." ❻

## مسح

مونږ په موزو او جرابو باندې مسح جائز ګڼو. د علي رضي الله عنه نه روايت دی چې: "جَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِﷺ (اَلْـمَسْحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ) ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَ لَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَ يَوْمًا وَ لَيْلَةً لِلْمُقِيمِ)" "رسول اللهﷺ مقرر کړي دي مسح په موزو باندې درې شپې او درې ورځې د مسافر دپاره او يوه شپه او يوه ورځ د مقيم دپاره." ❼

مغيره بن شعبه رضي الله عنه وائي: "تَوَضَّاءَ النَّبِيُّﷺ وَ مَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ" "رسول اللهﷺ اودس وکړ او په جرابو ئې مسح وکړه." ❽

❶ المآئدة5:42 .
❷ آل عمرٰن3:57 .
❸ الأنفال8:58 .
❹ القصص28:50 .
❺ الحج 22:3.
❻ صحيح البخاري، حديث:1384 .
❼ صحيح مسلم، حديث:276 .
❽ جامع الترمذي، حديث: 99 و صححه الألباني في صحيح الترمذي:31/1 و صحيح ابن خزيمه: 99/1، حديث:198.



Scanned with CamScanner

## عذاب قبر

مونږ ایمان لرو چې عذاب د قبر حق دی خو کیفیت ئې الله ته معلوم دی، الله تعالیٰ فرمائي:﴿وَ حَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ○ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّ عَشِيًّا ۚ وَ يَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۚ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ○﴾"او (پخپله) اٰل فرعون ډېر سخت عذاب ګېر کړل. (د دوزخ) اور(چې دی) دوی هغهٔ ته هر سبا او هر بېګاه وړاندي کاوهٔ شي او په هغې ورځ کې چې قیامت قائم شي (نو ملائکو ته به وویل شي:) تاسو ال فرعون لره تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ."[1]

ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي:"أَنَّهُ مَرَّ بِقَبْرَيْنِ، فَقَالَ: إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَ مَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ" "نبي ﷺ د دوه قبرونو ترخنګ تېر شو، نو وئې فرمایل: دې دوه قبرونو والا ته عذاب ورکولی شي او د څه لوی او ګران شي په باره کې عذاب نشي ورکولی چې ګنې د هغه نه ځان ساتل ګران وو."[2] "وَ سَأَلَتْ عَائِشَةُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، فَقَالَ: "نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ، قَالَتْ عَائِشَةُ: فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ بَعْدُ صَلَّى صَلَاةً إِلَّا تَعَوَّذَ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ""عائشې (رضی الله عنها) د عذاب قبر په باره کې د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړ، نو وئې فرمایل چې هَو، د قبر عذاب حق دی، عائشه فرمائي چې ما ددې نه پس رسول الله ﷺ نه دی لیدلی چې لمونځ ئې کړی وي هیڅ لمونځ مګر په هغه لمونځ کې به ئې د قبر د عذاب نه د الله پناه غوښته."[3]

## حساب

د بني آدمو اعمال الله ته پیش کېدل او حساب کتاب حق دی، زمونږ پرې ایمان دی. الله فرمائي: ﴿يَوْمَىِٕذٍ تُعْرَضُوْنَ لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ○﴾"په دغې ورځ کې به تاسو

[1] المؤمن40:45،46 .
[2] صحیح البخاري، حدیث1361 .
[3] صحیح البخاري، حدیث:1372 ، و صحیح مسلم، حدیث: 586، و مسند أحمد: 174/6.



Scanned with CamScan

وراندې کولی شئ ، ستاسو د پټو (عملونو) نه به هيڅ (شی) پټ پاتې نشي ." [1] ﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝﴾ "نو هر چې هغه څوک دی چې هغهٔ ته خپل کتاب (عمل نامه) په ښي لاس کې ورکړی شي. نو ژر ده چې ددهٔ سره به حساب وکړی شي ، ډېر اسان حساب." [2]

## پل صراط

مونږ په صراط باندې ايمان لرو چې دا جهنم دپاسه رسول اللهﷺ فرمائي: "ثُمَّ يُضْرَبُ الْجِسْرُ عَلَى جَهَنَّمَ وَ تَحِلُّ الشَّفَاعَةُ وَ يَقُولُونَ: "اَللّٰهُمَّ! سَلِّمْ سَلِّمْ" قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ! وَ مَا الْجِسْرُ؟ قَالَ: "دَحْضٌ مَزِلَّةٌ، فِيهَا خَطَاطِيفُ وَ كَلَالِيبُ وَ حَسَكٌ، تَكُونُ بِنَجْدٍ فِيهَا شُوَيْكَةٌ يُقَالُ لَهَا: السَّعْدَانُ، فَيَمُرُّ الْـمُؤْمِنُونَ كَطَرْفِ الْعَيْنِ وَ كَالْبَرْقِ وَ كَالرِّيحِ وَ كَالطَّيْرِ وَ كَأَجَاوِيدِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ فَنَاجٍ مُسَلَّمٌ، وَ مَخْدُوشٌ مُرْسَلٌ، وَ مَكْدُوسٌ فِي نَارِ جَهَنَّمَ""بيا به د جهنم دپاسه پل جوړ کړی شي او د شفاعت اجازت به وشي او هر يو به وائي: سلامتي راکړې، سلامتي راکړې. تپوس وشو: ای د الله رسوله! دا پل څه شی دی؟ وئ فرمائل: د غورځېدو او ښوئېدو ځيز دی، په هغه کې د تښتولو شيونه او کونډې دي او مالکنډې دي چې په هغو باندې ازغي غونډې دي، هغو ته سعدان وائي، مؤمنان به په دغه پله باندې تېر شي لکه د سترګو رپ يا بريښنا يا باد، يا مرغی يا کره اسونه، يا اوښ سوار غونډې بعضې به نجات مومي، بعضې به ګېرېږي خو پرې به ښودي شي او بعضې به ګيرېږي خو پريوځي به اور د جهنم کې." [3]

## ميزان حق دی

ميزان حق دی، زمونږ پرې ايمان دی، ميزان به په ورځ د قيامت د انسانانو اعمال د وزن

[1] الحآقة 18:69 .
[2] الانشقاق 8,7:84.
[3] صحيح مسلم، حديث:183 .



Scanned with CamScanner

کولو دپاره کېښودی شي، الله سبحانه و تعالی فرمائي: ﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِينَ ۝﴾ "او د قيامت په ورځ به مونږ دېرې د انصاف تلې کېږدو ، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونهٔ کړی شي او که دا (عمل) د اوري د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي بس يو." [1]

## جنت او دوزخ

زمونږ ايمان دی چې جنت او دوزخ دواړه مخلوق دي او دواړه به همېش وي، نه فنا کېږي او نه ختمېږي، الله فرمائي: ﴿سَابِقُوٓا إِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ اٰمَنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ﴾ "تاسو تلوار وکړئ د الله لهٔ جانبه مغفرت ته او داسې جنت ته چې د هغهٔ پلنوالی د اسمان او ځمکې د پلنوالي په شان دی ، د هغو کسانو دپاره تيار کړی شوی دی چې په الله او د هغهٔ په رسولانو ايمان لري." [2] ﴿وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيٓ أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِينَ ۝﴾ "او د هغه اور نه ځان وساتئ چې د کافرانو دپاره تيار کړی شوی دی." [3]

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمائي: "لَـمَّا خَلَقَ اللهُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ أَرْسَلَ جِبْرِيلَ إِلَى الْجَنَّةِ ... ثُمَّ أَرْسَلَهُ إِلَى النَّارِ" "کله چې الله پاك جنت او دوزه پيدا کړل جبرئيل عليه السلام ئې وليږه جنت ته، بيا ئې ولېږه دوزخ ته." [4]

## جنت او دوزخ نه فنا کېږي

الله جل جلاله وائي: ﴿إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِنْ نَّفَادٍ ۝﴾ "بېشکه دا خامخا زمونږ داسې رزق دی ، چې دهٔ لره هېڅ خلاصېدل نشته." [5]

1 الأنبيآء21:47 .
2 الحديد57:21 .
3 آل عمرٰن3:131 .
4 جامع الترمذي، حديث: 2560، و سنن أبي داود، حديث:4744 .
5 ص38:54 .



Scanned with CamScanner

او په حديث کې راځي: " يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ خُلُودٌ، فَلَا مَوْتَ، وَ يَا أَهْلَ النَّارِ خُلودٌ، فَلَا مَوْتَ" "ای جنتيانو همېشکې ده، مرګ نشته او ای جهنميانو همېشکې ده، مرګ نشته." [1]

## تنبيه

په 1980ء ميلادی کې زه په الخبر سعودي عرب کې "آرام کو" کمپنۍ کې وم، ما سره محمد يحيی بن محمد موسی نورستاني هم و، زه چونکه اهل حديث وم او مولوی يحيی صاحب پنجپيری و. نو اکثر به په مسائلو کې بحث راته، يوه ورځ هغه په امام ابن القيم رحمه الله باندې دا تنقيد وکړ چې هغه د جهنم د فناء قائل دی. ما سره په دې مسئله کې د علامه ابن القيم نه علاوه خپله هم څه علم نه و چې تحقيقي مسئله څه ده؟

بهر حال د تحقيق نه وروسته معلومه شوه چې د اهل السنة والجماعة صحيح او مستنده عقيده دا ده چې جنت او جهنم نه فنا کېږي او دا هم معلومه شوه چې د امام ابن تيميه رحمه الله په متعلق هم دا ا فواه ګانې خورې دي چې ګنې امام ابن تيميه رحمه الله په باره کې ابن الوزير محمد بن إبراهيم او ابوبکر الحصني الدمشقي، او امير صنعاني، او سليمان بن عمر الحلبي، او عبد الله الحجازي، او شعيب ارناؤوط، او دکتور غماري، وغيره ئې ذکر کړي دي چې دی د نار (جهنم) د فنا قائل دی، حالانکه له امام ابن تيميه رحمه الله نه صراحة يوولس نصوص ثابت دي چې هغه په ابديت د جنت او نار قائل دی.

زه صرف درې نصوصه د امام ابن تيميه رحمه الله ذکر کوم او د نورو به حوالې درج کړم چې معلومه شي چې په امام ابن تيميه رحمه الله باندې دا خبره محض افتراء ده، ځکه چې امام ابن تيميه رحمه الله صراحةً د دغې عقيدې نفي کوي، او ددغې عقيدې لرونکو ته مبتدعين وائي. امام صاحب فرمائي.

① "وَ قَدِ اتَّفَقَ سَلَفُ الْأُمَّةِ وَ أَئِمَّتُهَا وَ سَائِرُ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ عَلٰى أَنَّ مِنَ الْـمَخْلُوقَاتِ مَالَا يَعْدَمُ وَ لَا يَفْنٰى بِالْكُلِّيَّةِ كَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَالْعَرْشِ وَ غَيْرِ ذٰلِكَ. وَ لَمْ يَقُلْ بِفَنَاءِ جَمِيعِ الْـمَخْلُوقَاتِ إِلَّا طَائِفَةً مِنْ أَهْلِ الْكَلَامِ

[1] صحيح البخاري، حديث:4730 .



Scanned with CamScanner

الْـمُبْتَدِعِينَ كَلْجَهْمِ بْنِ صَفْوَانَ وَ مَنْ وَافَقَهُ مِنَ الْـمُعْتَزِلَةِ وَ نَحْوِهِمْ وَ هٰذَا قَوْلٌ بَاطِلٌ يُخَالِفُ كِتَابَ اللهِ وَ سُنَّـةَ رَسُولِهِ وَ إِجْمَاعَ سَلَفِ الْأُمَّةِ وَ أَئِمَّتِهَا"

"ددې امت سلفو او امامانو او د ټول اهل السنة والجماعة اتفاق دی په دې باندې چې بعضې مخلوقات داسې دي چې هغه بالکليه معدوم کېږي نه او نه فنا کېږي، لکه جنت او دوزخ او عرش وغيره. د ټولو مخلوقاتو په فنا هيڅا قول نه دی کړی مګر يوې بدعتي ډلې د اهلِ کلامو نه، لکه جهم بن صفوان او د هغه موافقينو د معتزله او دی غونډې نورو څه ويلي دي خو دا قول باطل دی د کتاب الله او سنت رسول الله او د امت د سلفو او امامانو نه خلاف دی." [1]

② "وَ لَمْ يُنَازِعْ فِي ذٰلِكَ (أَيْ فِي حَوَادِثَ غَيْرِ مُتَنَاهِيَةٍ فِي الْـمُسْتَقْبَلِ) "إِلَّا بَعْضَ أَهْلِ الْبِدَعِ الَّذِينَ يَقُولُونَ بِفَنَاءِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ كَمَا يَقُولُ الْجَهْمُ بْنُ صَفْوَانَ أَوْ بِفَنَاءِ حَرَكَاتِ أَهْلِ الْجَنَّةِ كَمَا يَقُولُ أَبُو الْهُذَيْلِ"

"په مستقبل کې د حوادثو غير متناهيهو په باره کې هيڅا اختلاف نه دی کړی سوا د بعضې اهل بدعو نه چې هغوی قول کوي په فناء د جنت او دوزخ باندې، لکه جهم بن صفوان يا قول کوي په فناء د حرکت د اهل جنت باندې، لکه قول کوي په دې ابو الهذيل." [2]

③ "وَالتَّسَلْسُلُ فِي الْـمُسْتَقْبَلِ جَائِزٌ عِنْدَ جَمَاهِيرِ الْـمُسْلِمِينَ وَ غَيْرِهِمْ مِنْ أَهْلِ الْـمِلَلِ وَ غَيْرِ أَهْلِ الْـمِلَلِ فَإِنَّ نَعِيمَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ دَائِمٌ مَعَ تَجَدُّدِ الْحَوَادِثِ فِيهِمَا وَ إِنَّمَا أَنْكَرَ ذٰلِكَ الْجَهْمُ بْنُ صَفْوَانَ فَزَعَمَ أَنَّ الْجَنَّـةَ وَالنَّارَ تَفْنَـيَانِ وَ أَبُو الْهُذَيْلِ الْعَلَّافُ زَعَمَ أَنَّ حَرَكَاتِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ تَنْقَطِعُ وَ يَبْقُونَ فِي سُكُونٍ دَائِمٍ وَ ذٰلِكَ لِأَنَّهُمْ اعْتَقَدُوا أَنَّ التَّسَلْسُلَ فِي الْحَوَادِثِ مُمْتَنِعٌ

[1] مجموع الفتاوي:307/18 .
[2] مجموع الفتاوٰى:308/8.



Scanned with CamScan

فِي الْـمَاضِي وَالْـمُسْتَقْبَلِ قَالُوا هٰذَا الْقَوْلَ الَّذِي ضَلَّلَهُمْ بِهِ أَئِمَّةُ الْإِسْلَامِ"

"تسلسل په مستقبل کې جمهورو مسلمانانو او د دوی نه علاوه د نورو دینونو والاو او غیر دینونو والاو په نیز جائز دی، ځکه چې نعمتونه د جنت او عذابونه د جهنم همېش دي سره د تجدد د حوادثو نه په دې دواړو کې، بېشکه ددې انکار جهم بن صفوان کړی دی، د هغه خیال دی چې جنت او دوزخ حرکات منقطع کېږي او باقي به پاتې کېږي همېش په سکون کې دا ځکه چې د دوی دا اعتقاد دی چې په ماضي او مستقبل کې تسلسل په حوادثو کې ممتنع دی دا وینا ئې وکړه ددغې عقیدې د وجې نه او د اسلام امامانو دوی په دې وجه گمراه وګرځول." [1]

ددې تصریحاتو نه معلومه شوه چې دا خبره په امام ابن تیمیه رحمه الله باندې محض افتراء وه. لیکن سوال دا پیدا کېږي چې داسې علماءو مثلًا ابن الوزیر، علامه صنعاني او ابو بکر الحصني الدمشقي وغیره غوندې علماءو څرنګ دا خبره ذکر کړه؟ په دې سلسله کې عرض دا دی چې کومو خلقو چې د امام ابن تیمیه رحمه الله په باره کې د فناء د نار خبره مشهوره کړې ده هغه درې قسمه خلق دي.

① هغه خلق دي چې د هغوی سینه د امام ابن تیمیه رحمه الله په باره کې د کینې، بعض او حسد نه ډکه وه، هغوی د امام ابن تیمیه رحمه الله د شهرت داغدار کولو دپاره دا خبرې خورې کړې، په مختلفو مجالسو، محافلو، رسائلو او کتابونو کې.

② د امام ابن القیم په دې مسئله کې د علماءو اقوال نقل کول او متحیر العقول کلام کول، بیا دغه طرف تائید کول دا سبب د شك وګرزیدل چې ګڼې امام ابن القیم دا فکر د امام ابن تیمیه رحمه الله نه اخیستي دي حتی چې بعضو خو د "حادي الأرواح" نسبت هم امام ابن تیمیه رحمه الله ته وکړ، حالانکه حادي الارواح د امام ابن القیم کتاب دی.

③ هغه خلق دي چې هغوی صرف د تقلید نه کار اخیستی دی چې خبره ئې اوریدلې ده، نو د هغه تحقیق ئې نه دی کړی او خوره کړې ئې ده. بهر حال امام ابن تیمیه رحمه الله ددې عقیدې

[1] منهاج النسة:36/1 ، طبع بولاق: 1321هـ ومجموع الفتاوى: 304/3 ، و 38/8-45/12-348/14 موافقة صحيح المنقول لصريح المنقول: 123/2 و 228,227/2 و مجموع الفتاوى: 157/1 و درء تعارض العقل و النقل: 358/2 بتحقيق دكتور محمد رشاد سالم. و موافقة صحيح المنقول لصريح المعقول: 72/2 والدرء: 345/8.



Scanned with CamScan

نه بري او پاك دي.

پاتې شو امام ابن القيم رحمه الله ، نو د هغه په كتابونو كې هم ددې مسئلې صراحت نشته چې جهنم فنا كېږي مكر په "حادي الأرواح" او "شفاء العليل" او "مختصر الصواعق المحرقة" كې امام ابن القيم ددې مسئلې بحث چيړلى دى او فرمايل ئې دى چې په دې كې د سلفو او د خلفو دوه قوله مشهور دي او د تابعينو په نيز هم نزاع په دې مسئله كې معروفه ده.

بيا امام ابن القيم خپل علمي زور ښكاره كړى دى او د قائلينو د فنا د نار د دلائلو تائيد ئې كړي دى، غالبًا په "حادى الارواح" كې ئې د رجحان پنځه ويشت وجوه ښودلي دي، بيا له دې نه وروسته ئې كله چې نور تحقيق ئې زيات شوي دي، نو له دغو پنځه ويشتو وجوهو نه ئې "په الصواعق المحرقه" كې اتلسو وجوهو ته نزول وكړ. او بيا ئې په شفاء العليل كې له دغو وجوهاتو نه درې نور هم كم كړل، په پنځه لس باندې ودريدو.

بالاخر امام ابن القيم په خپل تحقيق كې حالت د تَحَيُّر ته و رسيده او توقف ئې وكړ، هغه "الصواعق المحرقة" كې فرمائي: "فَإِنْ أَسْفَرَ لَكَ صُبْحُ الصَّوَابِ وَ إِلَّا فَرُدَّ الْحُكْمَ إِلٰى مَا رَدَّهُ اللهُ إِلَيْهِ بِقَوْلِهِ "إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ" وَ تَمَسَّكْ بِقَوْلِ عَلِيٍّ رضي الله عنه وَ قَدْ ذَكَرَ دُخُولَ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَ أَهْلِ النَّارِ النَّارَ وَ وَصَفَ حَالَهُمَا، ثُمَّ قَالَ: وَ يَفْعَلُ اللهُ بَعْدَ ذٰلِكَ مَا يَشَاءُ"" د فنا د دوزخ په باره كې، كه تاته سپين صبا غوندې صواب معلوم شي (نو قول پرې وكړه) ورنه حكم واپس كړه هغه څه ته چې الله پاك وركرځولى دى په خپل دى قول سره چې "بېشكه رب ستا كوونكى دى د هغه څه چې اراده ئې وكړي." [1]

ددې نه معلومه شوه چې امام ابن القيم مخكې صرف په تائيد كې و، بيا ئې توقف اختيار كړ، بيا ئې صراحت وكړ په دوام د نار او جنت باندې چنانچه هغه په خپل كتاب "الوابل الصيب" او "طريق الهجرتين" او "اجتماع الجيوش الإسلاميه" او "القصيدة النونية" كې وائي چې جنت او دوزخ نه فنا كېږي. د امام ابن القيم تصريحات دا دي:

① "وَ أَمَّا النَّارُ فَإِنَّهَا دَارُ الْخُبْثِ فِي الْأَقْوَالِ وَالْأَعْمَالِ وَالْمَأْكَلِ

[1] مختصر الصواعق المحرقة:229/1 .



Scanned with CamScanner

وَالْـمَشَارِبِ. وَ دَارُ الْخَبِيثِينَ، قَالَ اللهُ تَعَالٰى: ﴿لِيَمِيْزَ اللهُ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَ يَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ عَلٰى بَعْضٍ فَيَرْكُمَهٗ جَمِيْعًا فَيَجْعَلَهٗ فِيْ جَهَنَّمَ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ۝﴾ فَاللهُ تَعَالٰى يَجْمَعُ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ إِلٰى بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ كَمَا يَرْكُمُ الشَّيْءَ، لِتَرَاكُبِ بَعْضِهِ عَلٰى بَعْضٍ ثُمَّ يَجْعَلُهُ فِي جَهَنَّمَ مَعَ أَهْلِهِ فَلَيْسَ فِيهَا إِلَّا الْخَبِيثَ وَ لَمَّا كَانَ النَّاسُ عَلٰى ثَلَاثِ طَبَقَاتٍ:

طَيِّبٌ لَا يَشِينُهُ خُبُثٌ: وَ خَبِيثٌ لَا طَيِّبَ فِيهِ: وَ آخَرُونَ فِيهِمْ خُبْثٌ وَ طَيِّبٌ. كَانَتْ دَوْرُهُمْ ثَلَاثَةً. دَارُ الطَّيِّبِ الْـمَحْضِ وَ دَارُ الْخَبِيثِ الْـمَحْضِ وَ هَاتَانِ الدَّارَانِ لَا تَفْنَـيَانِ وَ دَارٌ لِـمَنْ مَعَهُ خُبُثٌ وَ طَيِّبٌ وَهِيَ الدَّارَ الَّتِي تَفْنٰى وَ هِيَ دَارُ الْعُصَاةِ فَإِنَّهُ لَا يَبْقٰى فِي جَهَنَّمَ مِنْ عُصَاةِ الْـمُوَحِّدِينَ أَحَدٌ فَإِنَّهُمْ إِذَا عُذِّبُوا بِقَدْرِ جَزَائِهِمْ أُخْرِجُوا مِنَ النَّارِ فَأُدْخِلُو الْجَنَّـةَ وَ لَا يَبْقَى إِلَّا دَارُ الطَّيِّبِ الْـمَحْضِ وَ دَارُ الْخَبِيثِ الْـمَحْضِ"

"هر چې اور دی، نو دا د خباثت کور دی، خواه په اقوالو کې وي او که په اعمالو کې وي او که خوراك څښاك وي او دار الخبثين دي، الله تعالٰی فرمائي: "ددې دپاره چې الله خبيث د پاک نه جدا کړي او (بیا) خبيث کېږدي ځيني ئې د ځينو دپاسه، بيا ئې يو د بل د پاسه ټول راجمع کړي، بيا به ئې جهنم ته وغورځوي، همدغه خلق تاوانيان دی" نو الله به جمع کړي خبيث لره بعضې د هغه په بعضې باندې او هغه به لاندې باندې کړي، لکه چې لاندې باندې کولی شي ترکيب ورکړی شوی شي بعضې د هغه بعضې ته، بيا به وغورځوي هغه لره په جهنم کې سره د اهل د هغه، نو په هغه کې به بغير د خبيث نه هېڅ نه وي، کله چې خلق په درې قسم وو: پا ك چې ورسره هېڅ قسم خبيث ګډ نه وي. خبيث چې په هغه کې هېڅ قسم پاکي نه وي. او نور چې په هغوی کې پاك او خبيث دواړه وي) نو د دوی کورونه هم درې دي، يو د محض پاك کور. بل د محض خبيثو کور دا دواړه کورونه نه فنا کېږي. او بل د هغه



Scanned with CamScan

چا کور چې هغه سره پاکي او خباثت دواړه وي دا هغه کور دی چې فنا کېږي چې دا د ګناهګارو کور دی، ځکه شان دا دی چې موحدين ګناهګار به په جهنم کې نه پاتې کېږي." [1]

دوی کله چې په اندازه د جزاء ورته عذاب ورکړی شي، نو بيا به د اور نه وويستی شي او جنت ته به ننويستی شي باقي به پاتې نشي مګر د محض پاک کور يا د محض خباثت کور. (الوابل الصيب49 تحقيق اسماعيل الانصاري، توزيع دار الافتاء)

د الله تعالیٰ حکمت دا اقتضاء وکړه چې يو کور ئې د هغه خلقو دپاره پيدا کړی چې هغوی لټونکی وی د الله تعالیٰ د رضا او عمل کونکی دی په اطاعت د الله او ترجيح ورکونکی دي امر د الله لره او قائم دي په محبت د الله: هغه کور جنت دی.

او په دغه جنت کې ئې پيدا کړل د خوښی شيان او ډك ئې کړ هغه لره له محبوبو او مرغوبو او خوښيدونکو او خوندناکو شيانو نه او ټول خير ئې په دغه جنت کې واچولو او دغه جنت ئې وګرځاوه ځای د هر پاك شي د ذاتونو، صفتونو او دا اقوالونه. او بل کور ئې پيدا کړ دپاره د طلب کوونکو د اسبابو د غضې او د قهر د الله چې هغوی ترجيح ورکوونکي دی خپلو اغراضو او خپلو خوندونو لره په رضامندۍ د الله باندې او عمل کوونکي دي په قسمونو د مخالفتونو له الله څخه او قائم وي په هغه څه چې هغه بد ګڼي الله پاك د اقوالو او اعمالو نه او د الله تعالیٰ صفت بيانونکي وي په هغه صفاتو سره چې د هغه د شانه سره لائق نه وي. او انکار کوونکي وي د هغه څه نه چې خبر ورکړی وي په هغه سره د الله رسولانو، لکه د الله تعالیٰ د جلال او کمال صفتونه. او دا کور جهنم دی. په دغه جهنم کې ايښي دي هر مکروه شی او بندي خانه د جهنم ډکه ده د هر ضررناك او درد ناك شی نه او ټول شر په دغه کې الله پاك غورځولی دی او ګرځولی ئې دی جهنم لره ځای د هر خبيث د ذاتونو او صفتونو او د اقوالو او اعمالو نه پس دا دواړه کورونه د هميشکۍ کورونه دي.

③ وَ إِنَّهُ سُبْحَانَهُ يُرَى فِي الْآخِرَةِ يَرَاهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ بِأَبْصَارِهِمْ وَيَسْمَعُونَ كَلَامَهُ

[1] الوابل الصيب، ص: 49 ، تحقيق إسماعيل الانصاري، توزيع دارالإفتاء.



Scanned with CamScanner

كَيْفَ شَاءَ وَ كَمَا شَاءَ وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَ هُمَا مَخْلُوقَتَان لَا تَفْنَيَانِ أَبَدًا.

"الله تعالٰی به په اخرت کې لیدل کېږي، ده لره به جنتیان په خپلو سترګو وینې او د هغه خبرې به اوري څرنګ او څنګه چې غواړي، جنت حق دی ، جهنم حق دی، دا د واړه مخلوق دي، او هېڅ کله به نه فنا کېږي." (1)

امام ابن القیم رحمه الله په جیوش الإسلامیه، کې په دې قول سره چې د امام ابوزرعه او امام ابو حاتم قول دی، استدلال کړی دی او په مقام د حجت کې ئې پیش کړی دی، نو معلومه شوه چې هغه معتقد د دغه خبرې و، ځکه ئې استدلال کړی دی.

④ امام ابن القیم رحمه الله په قصیدهٔ نونیه کې د جهم بن صفوان او علاف عقیده د جنت او دوزخ په باره کې بیانوي او ورباندې رد کوي. علامه فرمائي:

وَ قَضٰى بِأَنَّ النَّارَ لَمْ تُخْلَقْ
وَ لَا جَنَّاتِ عَدْنٍ بَلْ هُمَا عَدَمَانِ
فَإِذَا هُمَا خُلِقَا لِيَوْمِ مَعَادِنَا
فَهُمَا عَلَى الْأَوْقَاتِ فَانِيَتَانِ
وَ تَلَطَّفَ الْعَلَّافُ مِنْ أَتْبَاعِهِ
فَأَتَى بِضِحْكَةِ جَاهِلٍ مَجَّانِ
قَالَ الْفَنَاءُ يَكُونُ فِي الْحَرَكَاتِ
لَا فِي الذَّاتِ وَاعَجَبًا لِذَا الْهَذْيَانِ
أَيَصِيرُ أَهْلُ الْخُلْدِ فِي جَنَّاتِهِمْ
وَجَحِيمِهِمْ كَحِجَارَةِ الْبُنْيَانِ

(1) اجتماع جیوش الإسلامیه علی غزو المعطلة، ص: 125,124 طبع بیروت 1404 هـ.



Scanned with CamScan

تَبًّا لِهَاتِيكَ الْعُقُولِ فَإِنَّهَا
وَاللهِ قَدْ مُسِخَتْ عَلَى الْأَبْدَانِ
تَبًّا لِمَنْ أَضْحٰى يُقَدِّمُهَا عَلَى
الْآثَارِ وَالْأَخْبَارِ وَالْقُرْآنِ
وَ لِأَجْلِهِ أَفْنَى الْجَحِيمَ وَ جَنَّةَ الْـمَأْوٰى
مَقَالَةَ كَاذِبٍ فَتَّانِ

"جهم د جنت او دوزخ د نه پيدا کيدو ئې فيصله وکړه بلکې دا دواړه د ده په نزد عدم دي. کله چې دا دواړه په ورځ د قيامت. کې پيدا کړی شي، نو دواړه يو وخت کې د وختونو نه فنا کېږي. علاف په کې لږې باريکی ته لاړ د اتباعو د جهم نه خو هغه هم د دوی په شان د جاهلانو غوندې يوه د خندا خبره وکړه. هغه وائي چې فنا به په حرکاتو کې وي نه په ذواتو کې، ډېر تعجب دی دې بکواس لره. ايا دا اهل د جنت او دوزخ به همېشه پشان د کاني د عمارت کرځي. ددې عقيدې د ذکر کولو نه وروسته فرمائي: هلاکت دې وي دې دواړو عقلونو لره، ځکه چې دوی والله چې بدنونه مسخ کړل. هلاکت دې وي هغه چا لره چې دغه عقولو لره وړاندې او مقدم کوي په اثارو، په حديثو او په قرآن باندې. او ددغه تاويل په وجه ئې جهنم او جنت ته فنا کېدونکي وويل او دا د دروغجن او فتنه اچونکي وينا ده."[1]

په بيان د مذمت د تأويل او ددغه تأويل د بدو نتائجو په حقله امام ابن القيم فرمائي: "په وجه د دغه تاويل ئې نه فنا کړه د دوزخ او جنت الماؤی د اوينا د دروغجن فتنه باز دی."[2]

دا خبره خو بالکل د لمر غوندې واضحه ده چې امام ابن القيم په هېڅ تحرير او تقرير کې په فنا د جهنم باندې صراحت نه دی کړی، صرف د جهنم او جنت د فنا د قائلينو دلائلو ته ئې ترجيح ورکړې ده. او بيا ئې توقف کړی دی او په اخر کې ئې د جهنم په ابديت او عدم

[1] القصيدة النونيه مع شرحه لأحمد بن ابراهيم بن عيسٰى: 1/83,82 المكتب الإسلامي.
[2] القصيدة النونية مع شرحه لأحمد بن إبراهيم بن عيسٰى: 2/6 المكتب الإسلامي.



Scanned with CamScanner

فنا باندې صراحت کړی دی. والله الموفق للصواب.

## د بندګانو افعال

زمونږ ایمان دی په دې باندې چې افعال د عِبادو مخلوق دي، الله تعالیٰ خالق دی او عِباد ئې کاسب وي، الله فرمائي: ﴿وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾ "حال دا چې الله تاسو او هغه عملونه چې تاسو ئې کوئ، پیدا کړي دي." ❶ ﴿وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ۝ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا﴾ "او په نفس باندې او په هغه ذات چې دغه ئې ښه برابر کړی دی. نو دهٔ ته ئې دهٔ بدي او دهٔ تقوٰی (نېکي) الهام کړې (او ورښودلې) ده." ❷

په دې ایت کې اثبات د فعل د عبد دی. په اضافت د فجور او تقوی د نفس کې نو دا نفس د دغه فجور او تقوی کاسب دی، او الله تعالیٰ ئې خالق دی.

## قضاء

زمونږ ایمان دی چې قضاء د الله تعالیٰ یوه شرعي ده، بله کوني. کوني قضاء غیر ده د شرعي قضاء نه، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ﴾ "نو دغه ئې په دوه ورځو کې اوه اسمانونه جوړ کړل." ❸

او الله تعالیٰ د قضاء شرعی په باره کې فرمائي: ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ﴾ "او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مهٔ کوئ (د بل هیچا) مګر یوازې د هغهٔ." ❹

## د صحابه‌و سره محبت

زمونږ ایمان دی چې مونږ محبت کوو له صحابه کرامو سره، په صحابه ؤ کې د هېڅ یو په محبت کې غلو نه کوو. او نه د هېڅ یو کس نه بېزاري ظاهر وو.

او څوك چې ورسره بغض کوي، هغوی سره بغض کوو. څوك چې ورسره محبت کوي د

❶ الصافات 96:37.
❷ الشمس 8,7:91.
❸ حم السجدة 12:41.
❹ بني إسرائيل 23:17.



Scanned with CamScan

هغوی سره محبت کوو. د دوی سره محبت دین، ایمان او احسان دی، او صحابه ؤ سره بغض کول کفر، نفاق او طغیان دی.

خلفاء اربعة: زمونږ ایمان دی چې مونږ د خلفاء اربعه و خلافت ثابتوو. پس د رسول الله ﷺ نه علی الترتیب. د ټولو نه ا ول د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه، بیا د عمر رضي الله عنه، بیا د عثمان رضي الله عنه او بیا د علي رضي الله عنه ، ددې څلورو واړو خلافت برحق ګڼو، رسول الله ﷺ فرمایلي دي. "اِقْتَدُوا بِالَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي: أَبِي بَكْرٍ وَ عُمَرَ" "اقتداء وکړئ د هغه دوه کسانو چې ما پسې دي چې ابو بکر او عمر دی." [1]

عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه د مهاجرینو، انصارو او امراء الاجنادو په مجمع کې وفرمایل: د عثمان د بیعت په باره کې. "أُبَايِعُكَ عَلٰى سُنَّةِ اللهِ وَ رَسُولِهِ ﷺ وَالْخَلِيفَتَيْنِ مِنْ بَعْدِهِ فَبَايَعَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ، وَ بَايَعَهُ النَّاسُ وَالْـمُهَاجِرُونَ، وَ الْأَنْصَارُ، وَ أُمَرَاءُ الْأَجْنَادِ" "زه در سره بیعت کوم په سنت د الله او د رسول ا لله ﷺ او په سنت د هغه دوه خلیفه ګانو کوم چې دده نه روسته وو، پس بیعت ورسره وکړ عبد الرحمن او نورو خلقو هم ورسره بیعت وکړ، او مهاجرینو او انصارو او د لښکرو امیرانو هم." [2]

بیعت په خلافت د علي رضي الله عنه خلافت د علي رضي الله عنه په بیعت د صحابه ؤ سره (سوا د معاویه رضي الله عنه او اهل شام نه) ثابت دی چې هغه خلیفه برحق او واجب الإطاعة او خلافت ئې خلافت د نبوت و.

## عشرهٔ مُبَشَّره

په کومو لسو کسانو باندې چې رسول الله ﷺ په یو ځای او یو کلام کې د جنت بشارت کړی دی. مونږ هم د هغوی د جنتي کېدو ګواهي کوو، لکه چې په حدیث شریف کې راځي.

"عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: أَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ، وَ عُمَرُ فِي الْجَنَّةِ، وَ عَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ، وَ عُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ، وَ طَلْحَةُ فِي الْجَنَّةِ، وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ،

[1] جامع الترمذي، حديث:3662.
[2] صحيح البخاري، حديث:7207 .

وَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الْجَنَّةِ، وَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فِي الْجَنَّةِ، وَ سَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ ... فِي الْجَنَّةِ، وَ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فِي الْجَنَّةِ"

"عبد ا لرحمن بن عوف رضی الله عنه فرمائي چې نبي كريمﷺ فرمايلي دي: ابو بكر په جنت كې دى، عمر په جنت كې دى، علي په جنت كې دى، عثمان په جنت كې دى، طلحه په جنت كې دى، زبير په جنت كې دى او عبد الرحمن بن عوف په جنت كې دى، سعد بن ابي وقاص په جنت كې دى، سعيد بن زيد په جنت كې دى او ابوعبيده بن جراح په جنت كې دى." [1]

## اهل بيت

مونږ د اهل بيت احترام كوو بغير د هېڅ قسم افراط او تفريط نه، د رسول اللهﷺ فرمان دى. "أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ وَ أَنَا تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ: أَوَّلُـهُمَا كِتَابُ اللهِ فِيهِ الْهُدٰى وَالنُّورُ، فَخُذُوا بِكِتَابِ اللهِ وَ اسْتَمْسِكُوا بِهِ" فَحَثَّ عَلٰى كِتَابِ اللهِ وَ رَغَّبَ فِيهِ ثُمَّ قَالَ: وَ أَهْلُ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي ، أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي" "خبردار شئ اى خلقو! بېشكه زه بشر يم، قريب دى چې راشي راته استازى د رب زما او زه د هغه اجابت وكړم او زه پرېښودونكى يم په تاسو كې دوه درانه څيزونه: اول د هغه كتاب الله دى چې په هغه كې هدايت او نور دى، نو عمل وكړئ په كتاب الله او منګولې ښخې كړئ وربانديې. پس تېز ئې كړل خلق د كتاب الله په باره كې او خلقو ته ئې پرى رغبت وركړو، بيا ئې وفرمايل چې دويم زما كورنۍ ده، زه درته الله يادوم زما د كورنۍ په باره كې، زه درته الله يادوم زما د كورنۍ په باره كې،زه درته الله يادوم زما د كورنۍ په باره كې." [2] "وَ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِيقِ قَالَ: ارْقُبُوا مُحَمَّدًا فِي أَهْلِ بَيْتِهِ" "ابوبكر الصديق رضی الله عنه وائي چې د محمدﷺ

[1] مسند أحمد:1/193 .

[2] صحيح مسلم، حديث:2408 .



Scanned with CamScanner

خیال وساتئ د هغه د اهل بیت په باره کې." [1]

تېر شوي مسلمانان: زمونږ عقیده دا ده چې کوم مسلمانان اهل علم، مجتهدين او محدثين تېر شوي دي هغوی نه یادوو مګر په خیر او ښیګنې سره او دغه تېر شوي علماء نه معصوم ګڼو او نه ورته نسبت د ګناه کوو. بلکې هغوی ته دعا کوو او د هغوی ذکرِ جمیل کوو، الله سبحانه و تعالٰى فرمائي: ﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ "ای زمونږه ربه: تهٔ مونږ ته مغفرت وکړه او زمونږ هغو ورونو ته چې زمونږ نه ئې په ایمان سره سبقت (او ړومبی والی) کړی دی او تهٔ زمونږ په زړونو کې د هغو کسانو دپاره هیڅ بغض (او کینه) مهٔ پیدا کوه چې ایمان ئې راوړی دی ای زمونږه ربه! بېشکه تهٔ ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی ئې." [2]

او د کوم کس نه چې کومه خبره د سنتو خلاف سرزد شوي وي چې په هغې باندې قرینه د قصد کولو نه وي، نو مونږ د دريو عذرونو نه یو ورته کوو.

① یا به ئې دا عقیده وي چې دا خبره رسول اللهﷺ نه ده کړي.

② یا به ئې دا عقیده وي چې نبي کریمﷺ په دې قول سره دا مسئله نه ده مراد کړې.

③ یا به ئې دا اعتقاد وي چې دا حکم منسوخ دی، بیا په هر تقدیر د تېر شويو مسلمانانو او علماءو په مونږ باندې فضل او احسان دی چې هغوی مونږ ته د رسول اللهﷺ اقوال او افعال رسولي دي او د هغوی د اجمالو او د دغې موضوع تشریح او وضاحت ئې کړی دی. فَرَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى.

نبي او ولي: زمونږ دا عقیده ده چې هېڅ یو ولي په هېڅ نبي غوره نه دی بلکې یو نبي د ټولو اولیاؤ نه بهتر او غوره دی، الله تالٰى د دوی غوره والی په دې ثابت کړی دی چې دوی ته ئې وحي کوله او د دوی اطاعت ئې خپل اطاعت ګرځولی دی، او ددوی اتباع ئې د خپل محبت سبب ګرځولې ده. د انبیاؤ او رسولانو نه علاوه چاته دا رتبه نه ده حاصله، الله فرمائي: ﴿قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ﴾ "تهٔ (دوی ته) ووایه: بېشکه همدا خبره ده چې زهٔ یوازې

[1] صحیح البخاري، حدیث:3713 .

[2] الحشر10:59 .

ستاسو په شان بشر يم ، ما ته وحي كولى شي." ❶ ﴿مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ﴾"چا چې د رسول اطاعت وكړ ، نو يقينًا هغهٔ د الله اطاعت وكړ." ❷ ﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾"(اى نبي!) تهٔ ووايه: كه چېرې يئ تاسو چې د الله سره مينه كوئ، بيا نو زما اتباع وكړئ." ❸

كرامت: زمونږ ايمان دى چې الله پاك خپلو اولياؤ ته عزت او كرامت وركوي خو دا كرامت د الله په مشيت سره ظاهرېږي، د ولي په اظهار د كرامت كې څه لاس او قدرت او اختيار نشته. كرامت په اصل كې عزت ته وائي، الله فرمائي:﴿قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ يَعْلَمُوْنَ ○ بِمَا غَفَرَ لِيْ رَبِّيْ وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ ○﴾"دهٔ ووېل: اى كاشكې چې زما قوم پوه شي!. په هغه شي چې زما رب ما ته په هغهٔ سره بخښنه وكړه او زهٔ ئې د عزتمنو څخه كړمه." ❹ ﴿كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۖ اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ○﴾"كله چې به هم زكريا دې ته عبادت خانې ته ننوت (نو) د هغې سره به ئې څه رزق (خوراک) وموندهٔ، هغهٔ ووېل: اى مريمې! تاته دا لهٔ كومه كېږي؟ هغې ووېل: داد الله لهٔ خوا راځي، يقينًا الله چې چاته وغواړي بې حسابه روزي وركوي." ❺

د قيامت نښې: زمونږ ايمان دى په هغو علاماتو باندې چې الله په خپل كتاب كې يا رسول اللهﷺ په خپلو سنتو كې بيان كړې دي، الله سبحانه و تعالٰى فرمائي:﴿فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ○﴾ "نو دوئ انتظار نهٔ كوي مگر د قيامت (يعنې) چې په دوئ ناڅاپه راشي ، نو يقينًا ددهٔ نښې راغلې دي، نوددوئ دپاره به ددوئ پند اخستل څنگه (مفيد) وي چې كله په دوئ (قيامت) راشي." ❻

❶ الكهف18:110 .
❷ النسآء4:80 .
❸ أل عمرٰن3:31 .
❹ يٰس36:26,27 .
❺ أل عمرٰن3:37 .
❻ محمد47:18 .



Scanned with CamScan

رسول اللهﷺ د قيامت ډېرې نښې ذکر کړي دي خو د حذيفه بن اسيدرضي الله عنه په حديث کې مجموعًا لس علامات ذکر شوي دي، هغه حديث دلته ذکر کولی شي. "عَنْ حُذَيْفَةَ ابْنِ أَسِيدٍ قَالَ: اِطَّلَعَ النَّبِيُّﷺ عَلَيْنَا وَ نَحْنُ نَتَذَاكَرُ السَّاعَةَ فَقَالَ: مَا تَذَاكَرُونَ" قَالُوا: نَذْكُرُ السَّاعَةَ، فَقَالَ: "إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتّٰى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ" فَذَكَرَ الدُّخَانَ، وَالدَّجَالَ، وَالدَّابَةَ، وَ طُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَ نُزُولَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ، وَ يَأْجُوجَ، وَ مَأْجُوجَ وَ ثَلَاثَةَ خُسُوفٍ، خَسْفٌ بِالْـمَشْرِقِ، وَ خَسْفٌ بِالْـمَغْرِبِ، وَ خَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَ آخِرُ ذٰلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ إِلٰى مَحْشَرِهِمْ"

"حذيفه بن اسيدرضي الله عنه فرمائي: نبي کريمﷺ زمونږ خوا ته راغی او مونږ د قيامت تذکره کوله، وئې فرمايل: د څه تذکره کوئ؟ مونږ عرض وکړ چې د قيامت تذکره کوو، وئې فرمايل: دا قيامت به نه برپاکېږي تر هغه چې د هغه نه مخکې به لس علامې ووينئ. پس ذکر ئې کړلې. ① لوګی ② دجال ③ دابة الارض. ④ لمرختل د مغرب له طرف نه ⑤ راکوزېدل د عيسٰی ابن مريم. ⑥ راوتل د ياجوج ماجوج ⑦ درې ځايه د ځمکې شليدل. ⑧ يو په مشرق او بل په مغرب کې. ⑨ بل په جزيرة العرب کې، اخرنۍ د دوی نه اور دی چې وځي به د يمن نه او خلقو لره به شړي خپل محشر ته." [1]

## د بعضې شکونو ازاله

بعض اهل تأويل په سلفو د اهل السنة والجماعة (اهل حديثو) باندې اعتراض کوي، چې تاسو د صفاتو په حقله د تأويل نه انکار کوئ، حالانکه تاسو خپله د بعضې نصوصو تأويل کړی دی او د ظاهر نه مو اړولي دي، مثلًا:

① "اَلْحَجَرُ الْأَسْوَدُ يَمِينُ اللهِ" "حجر اسود د الله ښی لاس دی.." [2]

تاسو تأويل کړی چې دا ځای دَ لاس وهلو او د ښکولو دی، جواب ئې دا دی. چې دا حديث ضعيف دی، قابل د استدلال نه دی. لهٰذا اعتراض د سره واردېږي نه. او نه تأويل ته

[1] صحيح مسلم، حديث:2901 ، و مسند أحمد:6/4 .
[2] تاريخ بغداد:328/6 .



Scanned with CamScanner

ضرورت شته.

② "إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ" "بېشکه زړونه د بني ادمو ټول د رحمان بادشاه د ګوتو نه د دوه ګوتو تر مینځه دي." ❶

جواب دا دی، چې سلف الله تعالیٰ لره ګوتې ثابتوي څرنګ چې د هغه د شان سره لايق وي، مګر ددینه دا نه لازمېږي چې ګنې د الله ګوتې مماس دی د قلوبو د بني ادمو سره او نه دا لازمېږي چې په حدیث کې ابهام د حلول دی چې واجب شي د ظاهر نه اړول مطلب دا چې د ټولو بني ادمو زړونه د الله د ګوتو تر مینځه دی حقیقةً، نو ددې نه مماسه او حلول نه لازمېږي.

③ "إِنِّي أَجِدُ نَفَسَ رَبِّكُمْ مِنْ قِبَلِ الْيَمَنِ" "زه مومم ستاسو د رب نفس د یمن د طرف نه." ❷

جواب: دا د ظاهر نه نه دی اوړېدلی، بلکې بعینه د لغت عربي برابر دی او په خپله معنیٰ باندې دی، څکه چې "نفس" اسم مصدر دی "نَفَّسَ يُنَفِّسُ تَنْفِيسًا" نه په معنیٰ د فرج او لغةً هم دغه معنیٰ ده، لکه ویلی شي. "اَلتَّنَفُسُ كُلُّ شَيْءٍ يُفَرَّجُ بِهِ عَنِ الْمَكْرُوب" "نفس هر هغه شی دی چې په هغه سره د غم زده غم لرې کولی شي، نو معنی د حدیث دا شوه، چې د الله تعالیٰ مصیبت لرې کړه د مؤمنانو نه د اهل یمن په سبب.

شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائي: د اهل یمن هغه خلق دی چې د مرتدینو سره ئې قتال وکړ، ښارونه ئې فتح کړل، په دوی سره الله پاك د مؤمنانو نه مصیبت لرې کړ. اصل خبره دا ده چې دا حدیث هم ضعیف دی.

④ ﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰٓ إِلَى السَّمَآءِ﴾ "بیا ئې د اسمان په طرف قصد وکړ." ❸

جواب: دی کې هم اهل السنة والجماعة (اهل حدیث) تأویل نه کوي، بلکې د لغت عربی مطابق په ظاهر نص باندې عمل کوي، نو د اهل حدیثو د دي ایت په تفسیر کې دوه قوله دي او دواړه د لغت عربی موافق، په ظاهر نص باندې عمل دی.

❶ صحيح مسلم، حديث:2654 .
❷ مسند أحمد:541/2 ، ضعيف منكر.
❸ البقرة 29:2 .



Scanned with CamScanner

① ثم استوى: ثم ارتفع الى السمآء" دی تفسیر لره امام ابن جریر ترجیح ورکړې ده، نو معنٰی دا شوه چې الله پاك "عَلَا عَلَيْهِنَّ وَ ارْتَفَعَ فَدَبَّرَهُنَّ بِقُدْرَتِهِ وَ خَلَقَهُنَّ سَبْعَ سَمَوَاتٍ" "اوچت او پورته شو وربانديې، نو ددغه اسمانونو تدبير ئې په خپل قدرت سره وکړ او اوه اسمانونه يې پيدا كړل"

② استوى په معنٰى د "القصد التام" (پوره قصد) دی او دې معنى ته ترجيح ورکړې ده امام ابن كثير، او امام بغوي وائي چې استوى دلته متضمن ده معنى د قصد لره، ځکه چې دا لفظ د استوىٰ متعدي دی په إلى سره، نو معنى ئې دا شوه چې "عَمَدَ إِلَى خَلْقِ السَّمَاءِ، د اسمان پيدا کولو ته ئې قصد وکړ. دا معنٰى د ظاهر نه اړول او تأويل كول نه دي بلکې فعل د استوىٰ پيوست دی د داسې حرف سره چې دلالت کوي په غائې او انتهاء باندې.

نو دا لفظ د استوىٰ منتقل شو داسې معنى ته چې هغه د حرف مقترن سره مناسبه ده. ددې مثال لکه: ﴿عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللهِ﴾ "چې چينه ده ، د الله بندګان به د هغې نه خړوبېږي." [1]

معنٰى دا ده، چې داسې چينه چې د هغې نه خړوبيږي د الله بندګان، ځکه چې دلته د فعل د يشرب سره باء پيوسته ده، نو منتقل شوه معنى د څښلو نه معنى د خړوب والي ته چې د لغت په اعتبار سره فعل متضمن د داسې معنى کرځي. چې کوم حرف ورسره مقترن وي، ددې دپاره چې د کلام د سياق سره مناسب شي.

⑤ ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ﴾ "او دغه (الله د خپل شان لائق) لۀ تاسو سره دی." [2] ﴿هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا﴾ "هغه ددوی سره وي ، دوی چې هرچېرې وي." [3]

دا او ددې په شان نورو ايتونو کې اهل الحديث تاويل نه کوي بلکې وائي چې دا په ظاهر او حقيقت باندې محمول دي. هغه دا چې معيت د الله تعالٰى د خپل مخلوق سره داسې معيت دی چې اقتضاء کوی ددې خبرې چې الله محيط دی په خپل مخلوق باندې، د علم

[1] الدهر 6:76.
[2] الحديد 4:57.
[3] المجادلة 7:58.



Scanned with CamScan

قدرت سمع، بصر، تدبير، د سلطان په لحاظ سره، سره د اوچت والي د الله نه په عرش خپلل باندې دپاسه د ټول مخلوق خپل. د هغه لغة عربيت په بنا چې قرآن په کې نازل شوي دی، معيت اقتضاء د اختلاط او مصاحبت في المكان نه کوي. بلکې په مطلق مصاحبت باندې دلالت کوي، لهٰذا د دې معيت نه د حلول او اختلاط معنی اخستل غلط دي.

⑥ ﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾ "او مونږ دهٔ ته (ددهٔ) د ورمېږ د رګ نه زيات نژدې يو." ❶ ﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ﴾ "او مونږ دهٔ ته لهٔ تاسو نه ډېر نژدې يو." ❷

سوال: دا دواړه ايتونه سلفو اهل حديثو خپلې ظاهري معنی نه اړولي دي او معنی قرب د ملائکو کوي.

جواب: په دې دواړو ايتونو کې معنی د قرب نه مراد قرب د ملائکو اخستل د ظاهري معنی نه اړول نه دي بلکې دا عين ظاهري معنی ده.

ځکه چې په اولني ايت کې قرب مقيد دی، په "اذ يتلقى المتلقيان" پورې، نو دغه خپله دلالت کوي چې دلته مراد د قرب نه قرب د ملائکو دی. او دويم ايت هم مقيد دی په حالت د ځنکدن پورې او وخت د ځنکدن کې چې سرې ته حاضرېږي؛ هغه ملائك دي، لکه الله فرمائي:﴿حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ﴾"تر هغه پورې چې کله په تاسو کې يو کس ته مرګ راشي (، نو) زمونږ استازي ئې وفات کړي او هغوئ هېڅ تقصير (کمی) نهٔ کوي." ❸

همدارنګه لفظ د ﴿لَا يُبْصِرُونَ﴾ ❹ هم دلالت کوي چې قرب نه مراد قرب په نفس مکان کې دی. لېکن مونږ ئې نه وينو چې دا هم تعين قرب ملائکو کوي. دلته دا سوال پيدا کېږي چې دا اضافت خو الله ته شوي دی، نو څرنګ ملائك مراد کولی شي؟ جواب دا دی چې الله پاك قرب د ملائکو ځان ته مضاف کړی دی او قرب د هغوی په امر د الله سره دی چې دوی د الله لښکرې دي، داسې تعبير په قرآن کريم کې په بل ځای کې هم راغلی

❶ ق16:50.
❷ الواقعة 85:56.
❸ الأنعام61:6 .
❹ البقرة 17:2.



Scanned with CamScan

دی فرمائي ﴿فَإِذَا قَرَأْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ﴾ [1] نو دلته قرآن خو رسول اللهﷺ ته جبرئيل علیه السلام لوستی دي، چونکه د الله په امر سره و، نو اضافت الله تعالی ته صحيح شو، همدارنګه په بل ځای کې الله فرمائي: ﴿وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا فِيْ قَوْمِ لُوْطٍ﴾ [2] د ابراهيم علیه السلام مجادله خو د فرشتو سره وه.

چونکه هغوی د الله استازي وو، نو اضافت درست شو.

سوال: په دې دواړو ايتونو کې چې دی. ﴿تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا﴾ "چې زمونږ د سترګو په وړاندې ګرځېدله (دا طوفان راغلی ؤ)." [3] ﴿وَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِيْ﴾ "او ددې دپاره ستا تربيت زما د سترګو په وړاندې وشي." [4] دا دواړه ايتونو سلفو اهل حديثو په خپله ظاهري معنی باندې نه دي پرېښي بلکې تاويل ئې په کې کړی دی.

جواب: دا دی چې ظاهري معنی خو د اولنی ايت دا ده چې کشتی چلېږي په سترګو د الله تعالٰی کې او د دويم ايت معنی دا ده چې د موسی علیه السلام تربيت کېدو دپاسه د سترګو د الله، دا دواړه درست نه دي. د هغه عربيت په بنا چې په کوم کې الله پاك قرآن نازل کړی دی، الله فرمائي: ﴿اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا﴾ "بېشکه مونږ دا نازل کړی دی ، په داسې حال کې چې عربي قرآن دی." [5]

بله دا چې چا الله سبحانه و تعالٰی پيژندلی وي په صحيح پيژندلو سره د هغه د پاره دا فهم کول قطعًا غير معقول دي چې د نوح علیه السلام کشتۍ د الله د سترګو په دغل کې چلېده. ځکه چې الله تعالٰی هغه عظيم او جليل ذات دی چې مستوي دی په عرش باندې، جدا دی د مخلوق نه، نه په ده کې هېڅ مخلوق حل کېږي او نه دی په هېڅ مخلوق کې حل کېږي، تَعَالَى اللهُ عَنْ ذٰلِكَ عُلُوًّا كَبِيرًا.

نو لازمي طور سره د دواړو ايتونو ظاهري معنٰی دا شوه چې کشتي چلېږي او د الله

---

[1] القيامة 18:75.

[2] هود 74:11.

[3] القمر 14:54.

[4] طٰهٰ 39:20.

[5] يوسف 2:12.



Scanned with CamScan

سترګې د هغه حفاظت کوي او د موسیٰ عليه السلام تربيت کېږي او سترګې د الله تعالیٰ د هغه حفاظت کوي.

سوال: حديث د بخاري 2/963 کتاب الرقاق: حديث قدسي دی چې الله پاك فرمائي: "فَكُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ وَ بَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ" "زه به غوږ شم د هغه چې اوريدل کوي په هغه سره او سترګه به شم د هغه چې پرې ليدل کوي."

په دې کې هم اهل حديثو سلفو ظاهر د حديث پرېښی دی.

جواب دا دی چې اهل حديث سلفو د حديث ظاهري معنی نه ده پرېښې بلکې په ظاهر د حديث باندې ئې عمل دی، د حديث ظاهري معنیٰ دا ده چې کله د الله بنده د الله مطيع او فرمانبردار شي.

نو الله پاك دې بنده لره نيغ او سم کړي د هغه په غوږونو، سترګو لاسونو او پښو کې تيزوالی او حرکت پيدا کړي، په دا شان چې ددغه بنده ادراك او اعمال د الله دپاره شي او د الله په توفيق او د الله په لاره کې شي. په دې معنی باندې دليل د حديث اخري ټکړه ده چې په هغه کې راغلي دي. "لَئِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ وَ لَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ" "قسم دی که زما نه سوال وکړي، نو خامخا به ئې ورله ورکړم او قسم دی که زمانه پناه وغواړي، نو خامخا به ورله پناه ورکړم."[1]

دارنګه د حديث په ابتدا کې راغلي دي: وَ مَا زَالَ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتّٰى أُحِبَّهُ. "همېشه بنده زما ماته ځان نزدې کوي په نوافلو سره تر دې چې زه ورسره محبت وکړم."

ګوره په دې حديث کې الله پاك ثابت کړي دي چې عبد او معبود، متقرب او مُتَقَرَّب إليه، مُحب او محبوب، سائل او مسؤول، ورکوونکی او ورکړی شوی، پناه غوښتونکی، پناه غوښتې شوی، پناه ورکوونکی، پناه ورکړی شوی دی، نو د حديث سياق دلالت کوي په دې خبره چې دلته دوه متبائن ذوات دي. هر يو ددوی نه غير دی د بل نه، نو دا منع کوي دې خبرې لره چې يو ددې دواړو نه صفت شي د بل دپاره يا يو ددې دواړو نه دی جزء شي د بل دپاره.

---

[1] صحيح البخاري، حديث:6502 .



Scanned with CamScanner

سوال: ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ﴾ "ایا دوی نهٔ دي کتلي چې بېشکه مونږ د هغو څیزونو نه چې زمونږ لاسونو جوړ کړي دي ، دوی دپاره څاروي پیدا کړي دي ، بیا دوی د هغو مالکان دي." (1)

وائي چې اهل حدیثو سلفو دا ایت د خپل ظاهر نه اړولی دی.

جواب: دا دی چې اهل حدیثو سلفو دا ایت د ظاهر نه نه دی اړولی بلکې د هغه په ظاهر باندې عمل کوي او تفسیر دا کوي چې الله پاك چارپایان داسې پیدا کړي دي لکه څرنګه چې نور مخلوق ئې پیدا کړي دی. لېکن کله چې اضافت د عمل لاس ته وشي، نو مراد ترینه صاحب د هغه کېدل په هغه لغت عربیه کې معروف دی په کوم کې چې قرآن نازل دی.

لکه چې الله فرمائي: ﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ﴾ "او تاسو ته چې څه مصیبت هم رسي، نو په سبب د هغو کارونو چې ستاسو لاسونو کړي دي." (2) ﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ﴾ "په وچه او لونده (براو بحر) کې فساد خور شو، په سبب د هغو (عملونو) چې د خلقو لاسونو کړي دي." (3) ﴿ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ﴾ "دا (عذاب) په سبب د هغه (بدعمل) دی چې ستاسو لاسونو مخکې لېږلی دی." (4)

نو په دې ایتونو کې مراد کسب د انسان دی او هغه څه چې ده وړاندې لېږلي دي، اګر که په لاسونو ئې نه وي کړي. معلومه شوه چې په لغت عربیہ کې ذکر د "ید" سره چې کله د عمل او کسب دپاره فاعل واقع شي، نو صاحب د هغه ترې مراد وي، لهٰذا ددې ایت دا معنی کول چې اَنْعَام الله پاك په خپل لاس پیدا کړي دي لکه چې ادم علیه السلام ئې په خپل پیدا کړی دی غلط دي.

سوال: هغه حدیث قدسي چې: "يَا ابْنَ آدَمَ! مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي" (5) دی، اهل حدیثو

(1) یٰس 71:36 .
(2) الشورٰی 30:42 .
(3) الروم 41:30 .
(4) آل عمرٰن 182:3 .
(5) صحیح مسلم، حدیث: 2569.

سلفو ددې حديث ظاهر پريښى دى. جواب دا دى چې الحمد لله اهل حديثو په ظاهر د حديث عمل كړى دى.

او ددې حديث هغه معنى او تفسير كوي څرنګه چې په خپله قائل د هغه كړې وي، څكه چې خپله حديث كې موجود دي چې: "أَمَا عَلِمْتَ أَ نَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ" "ايا تاته پته نشته چې زما فلاني بنده درنه ډوډۍ غوښتې وه او تا ورنه كړه. (الخ)"

نو دا معنى حديث لره د خپل ظاهر نه اړول نه دي. بلكې متكلم پخپله دغه مراد ښودلى دى. ګويا چې ابتدا دغه كلام كړى دى. او ځان ته ئې په اضافت كې ترغيب او تشجيع مقصد دى، لكه دا ايت چې: ﴿مَنْ ذَاالَّذِىْ يُقْرِضُ اللّٰهَ﴾ "څوک دى هغه كس چې الله ته قرض وركوي." [1]

دلته الله ته د قرض وركولو نسبت صرف او صرف د منفق د ترغيب او تشجيع دپاره دي.

هٰذَا وَاللهُ تَعَالٰى أَعْلَمُ

وَ كَتَبَهُ أَبُو عمر عبد العزيز النورستاني.

وَ قَدْ حَصَلَ الْفَرَاغُ لَيلَةَ الْسَّبْتِ ١٦/ ٣/ ١٤١٩هـ اَلْـمُوَافِقِ1998/7/1م

وَ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ اٰلِهِ وَ صَحْبِهِ وَ سَلَّمَ

وَ أَنَا عَبْدُ اللهِ الْعَلِي الْبَارِي أَبُو عُمَرَ عَبْدُ الْعَزِيزِ النُّورِسْتَانِي.

---

[1] البقرة2:245 .



Scanned with CamScanner

# د اهل السنة والجماعة عقيده

د اسلام لپاره صحيح عقيده د روح حيثيت لري، که عقيده ناسمه او غلطه وي، نو د اسلام جسم ژوندی نشي پاتې کېدی. تر ټولو مهم شی عقيده ده. عقيده هم هغه ارزښتمنه ده چې په قرآن او سنت باندې بنا وي. دغه کتاب چې ستاسو په لاس کې دی د اهل السنت والجماعت د صحيح او حقې عقيدې په باره کې يو ډېر مفيد او اساسي کتاب دی چې د قرآن او سنت په قوي او څرګندو دلائلو سره مزين دی.

له لوستونکو نه هيله ده چې دا کتاب په ډېر دقت سره ولولي او ځان د صحيح اسلامي عقيدې په زېور (ګاڼې) سره سمبال او اراسته کړي، ځکه چې همدا صحيح عقيده ده چې د اخروي کاميابۍ ضامنه ده.

دارُالسّلام
د کتاب او سنت د اشاعت او خپروونې نړيواله اداره
الرياض • جدّه • شارجه • لاهور • کراچی
اسلام اباد • لندن • هوستن • نيويارك

Scanned with CamScanner